# شخړه

لیکونکی

نور محمد تره کی

خپرونه

۱۳۵۷

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

# شخره

لیکوال

نور محمد تره کی

دافغانستان دعلومو اکاډیمي

خپرونه

۱۳۵۷

esalat.org

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

مهتمم : خیرنوال دوست شینواری

دچاپ شمیر : شل زره

دوهم چاپ

esalat.org

www.esalat.org

PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com



www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

# څره

دمازیګر لمر خوټه کېده چې (نور) یو د ولي سپین لرګی په لاس له پاسه راغی. نوی بشپړ دوه کاله لمخبل کلي څخه ورك و اونفر یا دمرچا هیرشوی و. خو اوس وروسته له بېچې اداکولو نه بیرته خپل کلي ته راغی. ده بې له یوې لږ کلني خور چې (بنکی) نومېدله او هغه داکا سره اوسېد له بل خپل خوك خپل او نږدی نه درلودل، چې د ده هرکلي وکړي. مور او پلار خو یې لا پخوا مړه شوي وو. که څه هم منی نوی شروع شوی دی او هوا دومره ډېره سړه نه ده، خو بیا هم دلمر لویدو په وخت کې ساړه وي.

کوم وخت چې دی دکلي په یوه وات راننووت، نر یوه کمکي یوولس کلن هلك ولید او په زوره یې ناري کړې چې: وه‌دادی نور راغی، او بیا په منډه د نور داکا کره ورغی، چې د نور په خور باندې زیری وکړي.

دنور خور په منډه ورته را ووتله او په خپل وړور باندې په خورا مینه وغوړېدله. (بنکی) له ډېرې خوشحالی نه په زوره زوره ژړل


PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

خوجې دخپل ورور زیربخن مخ او لوخوپېتوته، چې تر نوکانو يې دنوك وهلو بهاثر وبنې تللې؛ وکتل ـ نو دا دخوشحالۍ چيغې اوږرا يې دزړه د درد اوخواشينۍ پـه چيغوبدلې شوې اوله ډيره درده يې زړه اور واخيست.

بنكې خپل ورور نيغ څالې ته بوت او هلته يې داور خورا غوره لمبه ورته وكړه.

خوربې سملاسه يوزړوكى وسو ځاوه او ايرې يې دنور په نوكانو وركينږدلې. پـه دغه وخت كې بنكى دنور دپنبوپونـد و اونورو گونونه چې خورا سپيرې وې ـ لاس ورو وراووړته يې وويل:

ـ وروره! دا بنې دې خورا پنې راته وايـبدلې. داولې دا دول پستې شوې دي اوبه دې پسترپنبوولې لوخې پنې راتلې؟ تاخويه چيرته (سوگلې) موندلې چې لـه دې اوسنې خوږ اوتكليف څخه دې ځان ساتلى واى.

ـ خورجانې! بهدې خبروبې سر مه گرزوه! شكر كازوچې خداى (ج) ښخه پيدا كړې يې! بنې خومې ځكه پستې شوې دي چې تر دا اوسه مې بوټونه په پښو وو. كوم وخت چې را ابلـه كيـدم نو هغه مې بيرتـه تحويل كړل. نو په دغو دوو كلونو كې خوپخپلـه دسرې بنې دغه ډول پستې شي. سوگلې بهماله كومه كولې؟ هر چيرته مې سترگې وغړولې چې كـه چيرې بومړ اس يا خرمونـده كړم او دهغه پـوټكى وا ړوم

او سرګلي ترې نه جوړې کرم خو .......

په‌دغه‌حال کې يې اکا رانووت اودوی‌دواړه ولاړشول. تر روغبړ ووروسته‌يې نورته وويل:

- پرمتو دې برکتشه اجنه شو چې خپله نوکري دې په جګه ملا او ميړانه اداکړه! اوس به نو کاکادرته په مني کوزده وکړي. هيله‌ده چې دکور او کاله څښتن شې!. کوم وخت چې دې په خير واده وکړ نو يوه‌خو نه به‌پاشرډرته وډمو او تولو ترږو هم دغه راز وعده کړې وه. اوس نوسبره شه! ځان ته‌دژوند شيان برابر کړه!

نورلږ څه‌په‌وارخطايي‌داکادماني پوښتنه‌وکړه. خوريې‌ورته‌وويل:

هغه خو پرون دخپل پلار کره ولاړه اوتول واره يې هم ورسره بيولي دي. ځوپلايي وزور راغی‌چې‌خوريې بوځي، خوکاکا يې نه وريږيښووله. ما ديرې زاری ورته وکړې،نويا يې....

نور خپل اکا ته وويل:

- هو اخود به نو اوس يو څه کوو اوځان به‌ستاله اوږې نه اړو. تاته دې خدای خير درکړي. له کوچنيوالي ‌څخه په غاړه کې‌در ولويدو اوتر اوسه پورې دې په اوکه يا سوکه سره را وچلولو. اوس نوته هم سپين ږيری او د(سروچيچورو) څښتن يې. که موږ تانه شو ساتلای نولږ ترلږه خپل ځان بايد در څخه‌واړو و. مالايخوا دغه‌نيت کری و

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

چې ځرنګه چې کور ته ورشم اوناسو او دغې خورکې ته یوځه
دزمې بوټې موټې دروکرم اویوځه شومه دربرابره کرم -نو بخېله به
په لومړی قافله کې کوز ملك ته ولاړ شم. خدای تعالی مهربانه دی
ګوندې بسرلې ته بوځه کالې مالې برابر کرم. کـه مې د راغبرګیدو
پهوخت کې خپل پندکې تربندراوبندرې راتیرکړ- نوالبته باچابه‌یم باچا.
لـه دې کبله چې تورلـه آکا سره دمینې اوخواخوږی اظهاروکړ
آکابې خـوراسره وغوږید اوبـه‌زړه کې یې ورتیره شوه چې رښتیا
دزوی او ښه ورارهٔترمنځ ډیرلږفرق وي.

په‌دغه وخت کې داورلـبسوکـه شوې وه او آکابې به داسې حال
کې چې پرانـګا ر بې‌لاسونه کړل،وویل:

- لومړی قافلـه خوزویـه! ژرتیاریږي. که موږ بوټـې موټې کولای
شوای اویا موکور ترد رلودای او هغه مو نورو ته په پیلغو ورکړی وای
نوترقافلې لاپورنده به زو چې بکې تللی وای- خوارس ځکه چې
موږ کوم ځر نه لرو چې بوټـې ورباندې راوړو، نوته بخپله مجبوریـې
چې خپل ځان هم په ځره اوهم په سرې پیلغو کړې- نوتر هغه وخته
پورې خوښکاره ده چې تهول پورونده به شبوه شې.

بتـکـی:

- آکا بجانه! نور دوه کاله را ځخه ورك واوستری ستومانه راغلی دی

esalat.org

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

تا سمدلاسه دغه خبري ورته شروع کري. نه خوبيږي څوورځي پريږده چي ساخوواچوي، بيا چي هرڅه په کوي- هغه به کوه!

اکا بي وويل :

- زويه ! ته خواوس لانجلي يې ! په دغو خبرو دې سرنه خلاصيږي. اوس لاسر دچاري دی چي کله څانونه ورته چمتونه کړو اوخپل کارونه په وخت برابرنه کړو- نوبيا بهمو پښمي صاره ريږدوې اوله لوږي به خوب نه راځي- کوم دی؟ سږ خو هيڅ شی نه لرو، دمولادرته تش نور لاسونه ناست يو. ګومان نه کوم چي څوك به پورهم را کړي. که دغسي زړه کښي خبري هلك نه ورنه کړم اود خپلو کارو دکولو دپاره يې چمتو نه کړم- نو بيا به هرڅه نيم نيمخوار اپريږدي اودی به په خپله مخه درومي.

بتکـی:

-اکاجانه! ستا خوټل دغه زړ کښي اوزره ماتي خبري وي چي زما په ياديږي ستاسره تل د ايرګـی، شومګـی اودبوتېو غږ وي. خو بيا هم موږ بي له اخر دوري څي نه اودکوم خيرات دورڅي نه په نس ماره شوي نه يو. نن مابنام دغه خبري تولي بوي خواته کړم- زه اوس سمدلاسه ولاړيږم او ورورك جان ته ځه ددې برابر وم.

اکا :

-ځه دی- زه په ماجت نه ولاړشم. تر هغو به تا څه اورواوبه سره ګډي

کړې وي. نه پوهېږم چې څه به وکړئ.

بتکی سمدلاسه دیوه ګاونډي کره چې هغوی غوا درلوده ـ ورغله او دهغه کالـه مابنې ته یـې دخپل وروور دراتګ احوال ورایه. هغهمېرمن خورا زیره سواندې ښځه وه او دلږ فکر څخه وروسته یـې ورته وویل:

ـ ورشه! کرنجې راورمېـې یو څه شیدې درکړم چې وروورته دو دی پکې دروره کړې! موږدې خدای ویخښه زما دیرچوږیـې وهلی و. بنې یـې ورته وویل:

ـ د موږ ښه یې در په زړه کیږي نو یو لږ څه غوړي هم درکړه چې خپل وروورنه شیدې اوغوړي وکړې او بیادې توګه نږ دتودې اولمدې دو دی په کاسه سره کښېنې.

کوم وخت چې دا لمده دو دی په خورا خوشحالی سره وخوړلـه شوه ـ نو آکادماخستن دلمانځه دپاره ماجت ته ولاړ شو. نورته یـې هم بلنه ورکړه چې لـه ده سره ماجت ته ورشي اوهلته د کلیوالو او دخان اوملاسره روغبړ وکړې او هم خپل لمونځ وکړي ، خوبتکی پوري وځریدلـه اونور یـې نه پرېښود چې ماجت ته لاړ شي.

دې آکا ته وویل:

ـ خوارکی پرېږده چې لږ څه آرام وکړي! به لو څوښوبـې دا دومره مزلونه پـه وزې نـس را وهلي دي. ښې یـې تولـې تـنها کـې

اوچاودلي دي او هم‌يې نوكان څوڅايه له ډېرو سره وهلي دي‌چې سرې وينې په څړېږي. لمونځ به بيا وكړي.

ملاچې دتورپه‌اكا سترګې ولګيدلې‌لږڅه په‌وچ زغ يې ورته‌وويل:

ـ خراكا! د مابنام لـه لمانځه نه وروسته چارا ته وويل چې ستـا ورار‌ه راغلى دی. موږ ويل چې دی به‌دماخستن لمانځه تـه راشي ، خو اوس نه معلوميږي. لكه چې لمونځ يې هير كړی دی. تـه هم بـه دې وختـوكې بې‌پروا شـوی غـونـدې يې! پـرهلـكانـو چې زغ ونه كـړي- هـغوی خـود لـمانځه او د خـدای تعالى‌د نـور عـبـادت دومره پـروا نه ساتي. پـه دې دګـور بـه غـاره ده خـر يـيـا هـم تـه د دين لـه چارو سره دومره‌تېنګه مينه نه لرې لكـه دغه څښتې نور سپين ږيري چې يې لري. دا چې خدای ګوله دروی نه ده دركړې اوتل لـه لوږې خوځې كوې ـعلت يـې‌همدغه‌دی چې ته ددين‌له كاروسره ښه مينه نه څرګندوې. بـايـدپـر عبادت زور وكړې چې خدای تعالى دې ديوې خولې مړی څښتن‌كړي.

خـراكا دملاپه‌دې‌خبرو اوريا لږڅه سره خواشينې‌غوندې شو اوله وامه‌يې څه ونه ويلای شـول خودده تربور چې په كلي كې د (غوندې‌خولې) په درلودلو مشهور دی او دبرسپين ږيری اوهم‌پخپله ملاورته ( بشپړك ) وايي ـ وويل :

esalat.org


PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

- په‌یوه ځوله ډوډۍ پرته له موږ ځوښې نه کوو، بلکه دا ټول
کلي بې له یو دوو کسانو نور پیاز په ګنده په ډوډۍ پسې ګرزي . نو دا
ټول خوددین له چاروسره بې مینې نه‌دي. ملاصاحب! ستا دا پیغور چې
نېستمن یو۔ پرته له ځراکا او یاما ته‌نه‌دی، داځو په‌ټولو او پره خلکو پورې
اړه لري. او ...

ځراکا ددې خبرې غوڅه کړه او هغه یې دعالمانو په مقابل کې یوه
سپین سترګي وګڼله او ده ته یې دېتې ځولې په درلودلو امروکړ.

ددو دروشپو نه وروسته‌د(ګزراکا) له کاله یوه سړي توردې‌ته وباله
چې سبا ته ددوی په اشرکې برخه‌واخلي. نوراږ خه تندی تریو کړ او وېې
ویل چې:

- وروور جانه! زه زیاتی له چاسره په اشرنه‌ځم. زه غوارم چې
په پیلغو له هر کلیوال او ګاونډي سره کاروکړم. زه‌دې‌ته چمتو یم
چې سبا ستاسې سره کاروکړم، ځو(ګزراکا) به بیا ځیل زوی(پیاوړی)له
ماسره دبوټو راوړلو ته استوي او که زوی پرګران وي او یا بل کوم کار
لري اوماسره تللی نه‌شي‌نوځپل ځردې بیا یوه ورځ راکړي چې زه
بوټي پرراوړم.

- هو! منو یې! په پیلغو راسره‌لاړشه! هغه بیاستا ځوښه - که‌دې ځر
غوښت او که‌دې سړی. ځوسبا ته ځان برابر کړه چې د اشربانې د ځوزا

ډیر دي اودوه‌خورا لوی، لوی پسونه حلالیږي - ځکه چې موږ غوارو دژمي دپاره ددوو کورونو بوټي په یوه ورځ کوټه کړو. داپه نظر کې ولره چې باید وابنکی او کهی له ځانه سره هم راوړي ! .

مانیام یې بیا په‌ځاله کې لمبه وکړه اودري واړه اکا اووریرونه ورته‌ناست‌دي . اکابې وویل:

- اوس‌سپین ږیری شوی یم. دزړه‌غوږمې لږشوي دي. ژمی هم خورا درانه شوي دي. که کله، کله غوږه‌اولمده دو دی نه وي،ګومان نه کوم چې سږکال دې زه تردې‌ژمې ژوندی راووځم. توره زویه! یوه چاره به کوي اوموږ ته‌به‌سږکال‌بولاندی راکوې! زه‌پوهیږم چې نه پخپله لوځي پښې به یو ربښکي، ربښکي ځت کې راغلی بې او ځه درپوري نشته خو که بې له جانږکاله به پور را واخلې بنه‌به شي. ګوندي خدای پاك‌به کوز ملك کې یو ځه‌درکړي ،نوپوربه‌یې ورادا کړي او یا به د لته کومه‌کوله بوله وکړواو پوربه یې ورکړو . پریږده چې ستا به ځوانۍ کې خوموږ هم یو غوږ ژمی تیر کړو.

تور ورته وویل:

به پورو کې خولا دپخوانه تردووغوږ و پوري غرق یو. ما هم به نوکری کې ځه لږپورونه نه دي کړي. که مو دوچې دودی هغه هم نیم نیمبوره تیری درونرلي- نوموخورا بنه او پیا وړ ی

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

ځوان بوله. لاندی‌خولا يوې خوا ته واچوه ، په دې عیشوپسې به نــه ګرزې. یوځه‌پونګی په‌داپوونده‌وکې چې اوس له‌دې‌حده‌تیریږي‌خرځه کره اوبوځه کورټ‌برې مونده‌کره اوهغه په ژمي کله، کله زدو یاست. بوچارك غوږي به زه لــه کومه‌ځایه درمونده کړم . زه پخپله غوارم‌چې ژردبوټو کونه‌دروکړم‌اوپه زغرده له‌دې ځای نه سترګې تهامې کړم . تودې اوازې راغی‌ رچې به کوزملك کې‌خورا ښه کارونه دي اومزدور کولای‌شي چې یوځه وګټي .

تورلیځي رازنغښتي اوله هرچاسره‌بې ځان‌په‌خره او باسري پیلغو کــاوه. ده په لږه موده‌کې کافي‌خره او سري وګټل چې دده دبوټو وهلـو، ترلواوراوړلو کــارورسره اجرا کــړي . دقافــلې دتبــارید و آوازه اوځوږه دتورفعالیت نورهم پــې زیاتوي اوزړه یې ریږدي‌چې قافلــه به ترې نه لاړه شي او دده دکورکاربه لاسرته رسیدلی نه وي .

دخراکا یوه زاړه‌ملــګري یوه ورځ ده ته وویل :

ـ دا ستا وراره‌کوزملك‌ته‌ځي اودی زلمی‌دی اودومره‌تجربه‌نه‌لري. احتمال شته‌چې‌هلته برساتي‌شي‌اوبیځي رانه‌شي. ځکه هغه ملك‌خوداسې نه‌دی لــکه دا .هغه ډیر زړه وړونکی ملك دی. زلمیان په تیره‌چې خوار او پوروړي وي ـ نو ددې دپاره چې‌دی هلته پاتې نه‌شي ـ نودلته‌یې پښه وروتړه اوبه‌خور بې په‌سخې کوزده ورته وکړه. ګوندې بیا دده مینه

او علاقه‌دلته ډیره وي او دهغه‌ځای پاتې کېد وته دومره زړه ښه نه کړي.
دغه کار باید که دې دلاسه وشي په همدي خوشبوکې لومړی تر هغه
چې قافله تیاره‌شي- وکړه او دخپل‌ورار زړه پر بوښتنې کړه. داخبره مې
ځکه‌درته وکړه چې له‌تاسره مې پخوانۍ مینه‌ده اوبیر بزم چې که دې
ورار راڼې او لکه دادوه تیرکلونه بیا به دلوزې فریادکوي.

خواکا :

-زه پخپله له ډیرې مودې را ایسته په‌همدغه‌فکرکې وم اویم-خو
داسې ځای نه‌را مونډل کیږي چې هغه ته‌دي زه زړه وروړم اودوستي
ورسره وکړم. د( جانو) بزګر به لورې مرکه وکړه. خو هغه پوزه په هوا
ونیوله اوغوښتل یې چې یوځه نغدې روپۍ سرهم ورکړم، ځکه چې
دده لور زما ترورېرې درې ځلور کاله لویه ده اوپه واده برابره‌ده.
خو ځکه‌چې زما جیب‌سوړ و اوځه نه ترې‌نه‌بودیدل- له‌دې کبله زموږ
اودده دوستي ونه‌شوه. تـوکل پرخدای دی. ګوندې دا پلامې ورار
بیرته په‌خیرراشي-بیا به یې ګورو. تر هغه‌به موږ په یوې‌مناسبې نجلۍ
پسې ګرزو.

تور دخپل خورې په برابر ولولګیا شو-ده درې ورځې د یوه بل
بدای شانته بزګر مزدوري وکړه. دوهمه‌پلایې غوزې په‌شار اوړل‌او هغه
بې خرخ کړل او په دغو پیسو یې یوځه وچ توت را نیول اوهم یې

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

ښې د بري نيني خورور وکړي او بوه کځوره يې له توتانو او نينونه ور ډکه کړه چې هغه په لاري دمزله په وخت کې خوري او په دې توګه ځان ته د تګ اولار پريکولو دپاره تودوخه ور کړي.

خو اکا بوه ورځ په داسې حال کې چې په سترګو کې بې اوښکې ګرز بدلې، نور ته وويل:

- ملکه! نه به غاره کې څه لري او نه به پښو کې. د منې ساړه خوکانې جوړ کې. زه هر څه په زړه ګرزوم چې په دې خصوص کې څه مرسته درسره وکړم خو هيڅ شی زما فکر ته نه راځي چې څه کولای شم.

نـور:

- په دې برخه کې دېر زړه مه سو ځوه! مايوزور کوسی مونډلی دی. هغه کوسی د شيراکا، دمابنې دی چې کـونده ده. دې را نه ويلي دي چې دا کوسی به را کړي، خوزه به خاور کاله دد دې دژمي دپوتو کوټه ورکوم. دپښو دپاره به په لارې کوم ځای د سوګلي جوړې کړم. ځکه چې لويه قافله ده. ګوندي کوم ځريا او ښ په لاري مړشي او د هغه په پوټکي به پښې پټې کړم.

د نور خورکه څه هم کوچنۍ ده خو ځکه چې د يرمسولينونه بې به غاره دي اوتل دخپل وړور دښيګنې د پاره فکر کوي - داسې کارونه او حرکتونه کوي لکه بوه لويه ښځه. مثلاً داکلې ته ځي اوله دې او له هغې

ځخه ستن، سپهسي، اهاك، تنباكو اوداسي نورشيان غواړي او هغه دورور
په «بنې» كې چې په هغه كې د نينو اوتوتاتو غوټه هم اېښې ده، زدي.

* * *

له بركلي ځخه دوه زلميان دتور كلي ته راغلل او په ماجت
كې يې وويل:

دريمه ورځ قافله وزي. بايد ستاسې له كلي ځخه هم تول
ځره‌گان په‌همانه ورځ راووزي. اوس نوبايد له‌همدې كلي ځخه دوه
نورزلميان هغې خواكلي ته ولېږئ چې هغوى هم خبر كړي چې په
تاكلي ورځ راووزي او په‌دې توگه‌تول سره گډ شي او دقافلې په
ځيركوزملك ته رهي شي.

تور په ډير جديت او مينې سره دبوتو خورا درانه غوز يان دهغې
كوندې كره ور وړي چې هغې دزاره كوسي خبره ورسره كړې ده. په‌تيره
بيا چې وايي وربدل چې قافله دوې ورځې وروسته روانېږي
نوتول صورت يې اوروا خيست چې دكوندې دبوتو كوته‌به‌پوره‌نه‌شي او
قافله به ځني لاړه شي.

دتورخور بنكى خورا خواشيني ده. دې دكلي بوې بلې نجلى ته
چې هغه‌يې خوربللې ده- ددې پوښتنې په‌ځواب كې چې ولې دنگره
غوندې ده؟ اوپر ځه يې بنه الوتې ده؟ وويل:

esalat.org

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

ــ نورجان خوا رکي يوه مياشتهم په کور ساپه ارامه وانه چولي شوه ـ دوه کاله يې هغه درانه زحمتونه اوخواري په ځان و منلي ـ خوچې کورتهلاراغلی نه وسمدلاسه دکور په کارونو بوخت شواوداسې درانه کارونه يې وکړل چې هرومرو به يې تر ډيرهپوري ملاخوږيږي له ډيري ستړيا يې هره شپه تبه وي. اوس چې څوشپې پرې نه دې تيرې شوي ، بيادې قافله تيارهشوه اوبايد بلسبا بيار اڅخه لارشي او ما بيادکاکا جان مايني ته ورېږدي. هغه بنځه خوتا ته معلومه ده چې څومره پهزړه لويه ده. مخ اوشاپي ددې دڅپيرو اوسوکانو پهسبب تلڅشنه دي.

ددې وروستيو جملو داداکولو په وخت کې يې غاړې بوږې شوي او ژړا يې په ستوني کښيوته چې خبره يې له خولې څخه نه وتله ـ خودې بلې نجلي دلاسا کره اوورته يې وويل :

ـ زلمي خودکار اوزحمت دپاره پيدا شوي دي. کار اوزحمت په دوی هيڅ ناثير نه شي کولی. ته مه ژاړه اوروربهدې له کلي څخه نکری اوموچېنې درته راوړي . ورته ووايه چې يو تيلکهم درته راوړي. څلور پنځهمياشتې ور وستهچې را وگرزي ـ خورا ډيره گوره بهدرته راوړي. ته خواوس لويهنجلی يې ! ته بايد څپل وروړته داد ورکړې چې دده په غياب کې ته خوابدې نه يې او نه داکا دمايني له خواکوم تشويش درسره دی. څکه دیخوپهاوزده مسافری څې او که ستا پهنا آرامي

يوه شي- مزغی بــه يې دشا پرخوا کوزوي يعني په‌تابه ډيرخوابدی‌شي نوخورجاني ! ته‌گوره‌چې ده‌ته‌دازړه کنبې‌خبرې‌ونه کړې-نبه‌جارشم !

ددې وينا په اثر په‌بنکې لږ څه سانوتلـه اوزړه ـيې تـربـوه‌حده پورې دا ده‌شو- په‌تبره بيا دغوټکوچې : هٔزلمي دکار اوزحمت‌دپاره پيدا شوي دي، دبنکي زړه وريوره کړاو دادو ل احساس يـې بکـې مونده کړ.چې گواکې رښتيا دا نوك وهلي اوخواره ورځ دهرزلمي دپاره‌حتمي‌ده. خوبيا چې بهـيې دځينو بدايانو زامن‌وربه زړه شول، ددغو تکو اثربه بکې غرند شو.

سبادځړه‌گـانولومړی قافله‌وزي، تورخورانځوشحاله‌دی. که څه‌هم دده‌پښې لوڅې دي، خواوس‌ترپخوا ډيرې‌ښې شوي دي‌ځکه‌چې تقريباً يوه مياشت دی‌لوڅې‌پښې هرې‌خواته‌وزغاست‌اوپښې بـې بيرته‌داسې شوې لـکـه داوښ څپر . ازغي اوتيرې تيزې‌دومره اثربرې نه کـوي.

دخوشحالی لوی‌او لومړی علـت يـې‌هٔدادی چـې دکـو ندې دبـوتـوکـوتـه يـې وريوره کـړه اوهـغې کـوسی ورکـړ . دی هـره گړی کوسی په ځان گوري، سر پرله پسې کښته‌پـورته کوي ، ځکه چې دکوسي اوږ دوالی‌معلوموي. دغه کوسی ځوځايه سوری دی- دحساب له مخې يې دعمرشپه‌نه‌ده پاتـې، خودتورداکا ماينې ژرځوتور، سره اوشنه زروکی‌مونده کـړل اوځينو سوريو ته‌يې پيوندونه‌واچول‌چې دبـاد

ورننوتل منع کړي. تورتهدغه کوسی‌داسې ایسیده لکه ښه نوی غزنیچی پوستین اوپه خورا احتیاط سره بهیې په اوږو کاوه.

دتورخوراوداکامابنه پهدې چې تورلوڅې اوزې‌کوز ملك تهنه روانیږي خورا خوشحالي کوي او بتکـی خو سمدلاسه در په را واخیستلـه او په وهلو یې پیل وکړ-خوکوم وخت چې بتکی‌نه وربه‌یادشول‌چې وروړته‌بهمابنام لمدودی له کومه ورکوي؟ ځکه چې سبا په وږ ي مسافری ته روانیږي نویوڅه تجویزیې خو باید ورته جوړ کړي - بیرته ځوابدې شاته شوه اودریه یې له لاسه وغورزوله. داکا ماښي ورته وویل:

- ولې دي دربه‌دلاسه‌واچوله؟ وهه یې کنه!.

بتکی :

- دا تکـی مې را په زړه‌شو چې سباخو لالاجان به خیرله ځره ګانو سره ځي یـوه کاسه خـومو باید ورتیاره کړې وای.

- مه خـوابدې کیږه؟ تور خو یې نـن د توری کړه وربللی دی. هغوی وندی ورتـه کړې ده. دتوراکـاهم غوښتل چې نن یوڅه وندی وکړي اوماښام ته ښه کټو باندې شي- خوخدای دې د (کرم) کوروران کړي- وندی یې په دې دلیـل ورنه کړه چې پیسې یې سمدلاسه نغدې غوښتلې. نوته زړه مه خوره! مـاښام ته دتورخولـی پهغوړو کـې ده. خودا باید درته ووایم چې دسهار کاسه به زه ورتیاره کړم. یوڅه‌غوړې

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

مې بوه کو نج نه ددې دپاره غلې کړې وو چې ماو يل جوړ نا جوړ شته يوه ورځ
به په ډيره تنګسه کې په کار شي. دکوزنو يو زدونې به له چا څخه راوړم
او سهار لو مړی تر څو ځېدو به يې په تو ده کاسه کښېنوم. تورجان خومې
داسې دی لکه څپل زوی. به ده خو مې نه پسه لوريږي.

تورماخستن ناوخته راغی. سمدلاسه يې دبنې خوله په يوه توره
سنی ونړوله. خوړ يې بيله وه. د اکا مابنې يې ورته وويل:

-- موږ د بنې خوله ځکه خلاصه پرېښودله چې موږو يل توږی به
دسبا دمز له دپاره يو څه دغو ښو برخه درکړي چې هغه به ته په بنې کې
واچوې. خو داسې ځرګندېږي چې څه يې نه دي درکړي.

ګهيځ داومه کې غرمې نه مخکې چې لمر به راختلی و د کلي نه
دباندې به قطبي برخه کې يوه لويه دله زروبنځې معلوميږي. ځوك
ناست دي، ځوك ولاړ دي، چا به لکړه او يا پنډغوندې لرګي تکيه کړې ده.
مسافر بو، يو له کورو څخه به داسې حال کې راوځي چې دخپل کاله
غړي (نرو ښځې) به بېسې وي اودې لويې د لې ته را روان وي. داهر
بهير چې راځي بر ګډ وي- يعني ښځې اوسړي، نجونې او هلکان چې
دول، دول ګډلې يې آغوستې وي پر له ګډدي. په ځينو بهيرو کې
ځره هم شته چې په بنيو، خورجيناتو او يا په زړو ګونيو باردي. دهرې
کوچنی دلي زروبنځې سر ځوړی غوندې روان دي. خو کله، کله دکومې

زري ښځې د چینې شریك شي چې په هغو پسې دناویانو او پیغلوړا هم پورته شي. کوچنیان چې خپلو میندو، خویندوته وګوري ـ هغوی هم کریږې کري. ځینې کمکیان د میندو څخه پوښتنه کوي چې دوی پرڅه ژاړي؟ خو کوم وخت چې هیڅ ځواب وانه وري او یادخپګان په توګه وږرته وویل شي چې پلاریا ورور دې داوږدې مسافری په لور روان دی ـ نو دوی هم چیغې کري. خو کوم نوی شی او یا حرکت چې ووینې نا بیره یې ژړا ودریږي.

په لویه ډله کې څو کسه سپین پګړي هم معلومیږي. دوو کسو چې سپین لنګوټې یې تړلي او سپین ځو خوړا خیرن کالي یې اغوستي دي هر یوه دڅادر یو سر لور نیولی دی او یو څه ارت سره ولاړ دي. دڅادر مینځ څریدلی غوندې ښکاري ـ یعني یو درونډ غوندې شی پکې دی. هره کوچنی د له چې دلته را ورسیږي یو ه لویه ځوزه جوړه شي.

هرڅوه تر دغه څادر لاندې وځي. کوم وخت چې سری دڅادر مخې ته راشي، نو لومړی هغه درونډ موجود چې قرآن کریم دی دڅادر دپاسه ښکل کري او بیا سرتیت کري او تر څادر نه هغې خواته تیرشي او سمدلاسه په څادر کې بوشی چې پیسې وي واچوي. هیڅوك یې نه شي لیدلای او نه یې شمیرلای شي چې څومره یې پکې وا چولي ـ خو البته شرنګ یې دغه دواړه کسان چې ملایان دي ـ واوري چې زر غانبونه سپین کري .

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

وروسته ترقرآن شریف و تلونه بیا هر څړه دکلي ملا، سپین سرو اوسپین ږیرو ته وډریږي اوکوم وخت چي لږڅه خبري ورسره وکړي نوشا ور وګرزوي اوهغوی بې په بني لاس داوږو په منځ کې ږې پلاوړمي. ددې وهلو په وخت کي هر څړه ته دا وایي: «څه! خدای او پیران دي شا منځکي ته مه بیایه! په ښه خواری دي خدای پیښ کړه !»

ځینې څړه ګان په ځوکسو بوخرلري، چي ددوی څوري پري باردي اوځینو سره چي بیخي هیڅ نه لري بنی اویا زږي ګوني چي دکي ښکاره کیږي- خپلو خپلوانو په ځنګ کي را اخیستي دي. دغه ډول غوتهي ډیرې درنې نه وي، ځکه چي لاږه اوږده ده او هغوی بې وړلای نه شي. دهغو څړه ګانو داوړو څوري چي د وی بیخي تش نور لاسونه وي ځیني نور څړه ګان چي څره لري وریا ورسره وړي، څو ددوی د اغوستلو کالي اویا نیني چي په کځوړو کي بي اچولي وي دوی په خپله اخیستي وي ا ولار وهي

د نور داوړو څوری چي تر(۱٦) پاوونه ډیر دروند نه دی یوبل څړه چي دده یوڅه خپل غوندې هم کیږي پر خره را اخیستی دی. دده بنی داکا ماینې را اخیستي ده. دوی هم لکه دغه نور څړه ګان له خپله کوره راووتل او دهغې لویبي ډلي خواته روان شول.

لویبي ډلي ته لا نږدې شوي نه وو چي خراکا خپل ورازه ته په ...

esalat.org

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

عاجزه غوندي زغ وويل :

- اوس خو به تر قرآن کريم وځي! څه شي درسره شته چې په خادر کې بې ورواچوې؟ که درسره نه وي. نوزه به ژر يو چاته ووايم چې تاته يو غيران يا رومی درکړي چې د ملايانو په څولی کې بې ورواچوې که داسې ونه کړو، نو ملاوو طالبان به مو په لعنت سترګې وکاږي .

پخپله خو اکا او بنکي او دده نور کمکيان (دخر لور اوزوی) هم په خوند په دوی پسې راروان وو. د تور تورې خو لالومرې د خپل زوی سره راوتلي وه.

بنکی هغه واتن چې د دوی د کور او لوبې د لې تر منځ و. نسبتاً په خوشحالی سره وواهه او د جلاکیدو اثرات او صحنه يې تصور کولای نه شوه . تور خپل اکا ته نور هم ور نږدې شو او ځواب بې ورکړ :

- دري شپارس ايکزي ( ۷۵ پوله) چې هغه هم سپين دي - راسره شته او په لاس کې مې تياري نيولي دي - کوم وخت چې تر قرآن کريم ووزم نو البته په څولی کې به يې ورواچوم. شرنګ به يې لوړوي، ته مه وارخطا کيږه! دا هم بايد درته ووايم چې دغه دري شپارس ايکزي ما پخوا دغې موقع ته ساتلي وې او د لمو او غانيو نوټ مې بشپړ په بټوه کې ايښی دی. هغه به په آسانی مات نه کړم.

تر قرآن وتلو او د ځوړه ګانو د رخصتيدو دغه منظره کوم نوی شي نه دی او ټول ورسره آشنا دي . خو تأثر او جدايي او خواشيني په هماغه

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

قراروي. لکه‌په تیروکلونوکې. بنکی ترتولو نا قراره‌غوندې‌ده. دنورو ښځواونجونو هرپلوته سوك، سوك وي، خوداکله، کله‌په زوره وژاړي او اوږده‌غرانگه وکاږي چې دځینوسپین ږیرو اوسپین‌سروتوجه ځانته را واړوي.

کوم وخت چې نور ترقرآن کریم ووت، نولوسری خپل آکا ته ودریږ چې په‌خپیره‌یې داوږو په منځ کې ووهي او په دې توگه ددیر برکت ځښتن شي.

د آکا ماینې‌هم‌درې بلاپه‌اوږوکې په‌خپیره ووهه‌اوورته‌یې وویل :

- زه خودې دمور په‌ځای‌یم! دیرې خواری اولالهاندې‌مې‌درسره وړې دي. په‌دې باید پوه‌شې‌تورجانه! چې که‌دې زه‌اودغه‌سپین‌ږیری آکا ونه‌بخښو- نوخدای پاك دې هم نه بخښي.

د آکا دماینې دغه خبرې لا نه وې تمامې شوې چې بنکی په غاره کې ور ولویده او په خورا زوره‌یې کریږه له خولې ووتله. نور په‌خوله لاس ورونیو اوورته یې وویل :

- —چپ‌شه! په‌مرگ خو درځخه نه‌ځم! شکردی په روغ صورت کوز ملك ته روان یم‌چې درته بنه‌خت، تکری او موجنې راوړم. که خدای کول خورا بنه دیره گوره به هم راوخېژوم، چې بیا به بېي به گرگابېو خورې! خلك به‌درباندې خاندې چې‌بنکی محومره سبی‌ده چې دومره

پهزوره، زوره زاري .

بنکی نابېره خپل زغ ودراوه. شاوخوا خلکو فکر وکړ چې ژړا یې شنه کړه . خو په حقیقت کې داد ورور تراثر لاندې راغله او سمدلاسه یې ورور ته وویل :

-- ښه دی ـ نه ژارم ، خو ستا باید فکر وي چې ما ته خورا ښه بنکلی تیلک راوړې او کیږ هم باید تینګي اوبنکلي راته راوړې! .

تورد کلي ملا او نور وسپین ږیرو ته هم ودربد، چې په شاباندې یې ووهي.

د رخصتیدو دغه مراسم زوغرند غوندې شول او خره ګان ورو، ورو له خپل کلي نه د جنوب لوري ته تلل . دمغې ورځې مزل خورا لند و او تقریباً له کلي نه شپږ میله لیرې یې وارول. مازیګر خوا ته دنورو کلیو خره ګان هم ور ورسیدل او ټول سره یو ځای شول.

د خره ګانو په قافله کې اوښان نشته.نږدې سل خره اودرې، درې نیم سوه کسان دي . لومړی شپه ټول خوابدي او متأثر غوندې وو خوسهار بیا تر پرون ژر خه ښه وو.

د خره ګانو قافله خورا وختي لیږدي اوناوخته اره وي - یعنې خورا لوی مزلونه کوي اوپه بیره اوګرندي روان دي، نو ځکه دوی د اوښانو په قدم نه شي تلای او اوښ والا له دوی سره نه یو ځای کیږي. داوښانو قافله تل جلا درومي. ځینې خره ګان یو، یو یادوه ، دوه خره هم لري

2

چې بیا په کوز ملک کې خاورې پرې وچلوې .

دقافلې دوهم مزل نسبتاً اوږد و. خو بیا هم په لاره د شاوخوا کلیو څرې وړې ورسره یو ځای کیده او تر ماښامه پورې د قافلې حجم ترهیلې دیر معلومیده .

د قافلې دوهمه مېنه دیوه شنه غره په لمن کې وه. دغه غر په ونو اوبوټو نښین نه و. بلکه دغه دبرې شنې ځلیدلې . قافلې په یوه چینه واړول. دچینې شاوخوا ځمکه بنه شنه مرغه ده او ور شوبې هم خلاصه ده . قافله په څو بهیرو وویشله شوه او هر بهیر به تر لـه‌پریکرې اړول. ددوی ترمنځ واټن به ترلسو یا پنځلسو مترو نه دیر نه و. زیاتره دغه بهیرونه لـه هغو خلکونه جوړ وو چې دوی بـه دیوه کلي اویا د دووخورا نژدې کلیو وو.

د دوهمې ورځې په مزله کې تور دخپل کلي په بهیر کې لیدل کېږي چې سپیره غونډې بنی بې په بـرګ وانبکې داوږو بـه منځ کې داسې سمه او سیخه تـرلې ده لـکه عسکرې چانته. نور هم ګڼ شمیر څوه‌ګان لیدل کېږي‌چې یو شی‌بې پـه‌شا وي اوبو، یو لاس‌بې هرومرو پورې بندوي ؛خود تور دواړه لاسونه ایله دي اوتر دیرو کسانو او چته اوخوشاله لیدل کېږي .

که په قـافله بانـدې یو عمومې نظر واچول شي،نوبـه‌دول دول

2 خلک او رنګارنګ ښځې چې هر راز ښېتې پرې باردي. وليدل شي.
مثلاً: زنځکيان، ژلميان، او په غاښې پاخه سري په نظر راځي. زنځکيان اکثره لښتې په لاس کې په غر و ښې سم روان دي او د (هشه) ناري پر له ښې اوريدل کيږي. نور ښځه ګان هر بلو ته دوه، دوه يا درې، درې ځنګ په ځنګ په لاره روان دي او يو بل سره منځوکې خبرې کوي. يو شي چې د ټولو ښځه ګانو سره شريک دی. هغه دا چې يو هم د وايې کالي نه دي اغوستي. خو البته ځينې جما داران يا لږ څه ښه او ښه ښې د سري سترګې ځانته اړوي.

نور په داسې حال چې د ښځو ښېتې وانکي يې سره سم او ښې تينګ کړ. خپل ملګري ته ووېل:

-دومره لويه قافله شوه، خو ټوپک لږ معلوميږي. دمني په باي کې چې کومې قافلې ځي له هغوی سره ټوپک ډير وي. که غدی راباندې وختمه به کوو؟.

ملګری:

-نه ولې له غدی څخه بيريږي؟ نه خو لږ ي اونه روښې. څه به در څخه بوسي؟ يو ه بنې لري او يومن اوره!

-خدای دې غدی نه راباندې خيژ وي. که نه وي نو سر و نوته مو ډير خطر دی. زه په دې برخه کې بده خاطره لرم.

-وروره! په دې برخه کې به خبرې نه کوې! چې غږي مې ښويږي.

خدای مو دې وساتي.

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

مازیګر چې قافلې وارول ـ نو تور سمدلاسه لکه ددا نورو ځړه ګانو د خپلې بې خوله خلاصه کړه او بومونې توت او نیټې یې له کڅوړې نه راوکښلې او بیا یې د اوږو بوه پېټي ته ځنګ وراهه او ورو ، ورو یې خوله په ښوریدو راغله .

د تور د بهیر ځړه ګانو من اوره په اندیوالی سره اچولي وو. هر ځړه په خپلو اوږو کې په کور کې لا مالګه ګډه کړې وه. په هر بهیر کې کار زلمیان کوي او ټول کارونه یې سره ویشلي دي. مثلاً څوک او به راوړي څوک بوټي راټولوي، څوک اوره لمدوي ، څوک بیا دوه دی پخوي زېنګیان ټول خره پیایي .

دغه ټول کارونه په درهمه مینه کې په آسانی سره ټاکل کیږي او هر څوک چې کوم کار کولای شي ـ هغه کړي او هیڅوک ځان نه سپموي.

کوم وخت چې تور د اوږو پېټي ته ځنګ لګولی و نو بوه زېنکي ته یې ږغ کړ او ورته یې وویل:

ـ اوه زېنکیه ! خدای دې لوی که. کوم وخت چې خره پیایې ته ګوره که دې چېرې کوم مربوده ولید ماته وو ایه ! ته خو وینې چې زه په پښو بیخي لوغ یم. زه به د هغه بوده پرونکی واردم او په پښو پورې به یې وتړم ـ بیا یې سوګلي به ترې نه جوړې کړم. شاباس لوی شې راشه ! چې بو څه توت او نیټې هم درکړم !

esalat.org
www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

هلک چې په تخرگ کې یې یو اوږد غونډې لرگی نیولی و او په یوه لاس یې د بتېرې دوه ډۍ ژی خولې ته نیولې او په بل لاس کې یې یوه ډېره اخیستې ده، چې ددا نورو بهیرو څخه کوم سبې پرې برغل ونه کړي په منډه ورته راغی. ده ژر د لاس تیږه وغورځوله اولپه یې د تـونانو اونیو ډپاره ونیوله. تـور هـم سمدلاسه په خپله لمن کـې لاس کېنته کـړ اویـو څه یې د هلک په لپه کې ور واچول. په دې وخت کې یې ورته وویل:

خوارکیه! تا څوهم بیلې پښې یې! که دې جیرې مړ خرولید نو په منډه راشه ما پرې خبر که! زه به سمدلاسه ورشم او ستا د پاره به هم د سوگلو جوړ ولو په غرض یو تکی ترې نه واوږم چې دوا ره به نه شو او په سوکه او راحت به خپل مزل کوو. که داسې ونه کړو، نو ویې هېزه! چې تیرې تیږې به زموږ نوکان و باسې او هم به ازغې پښې راسوری، سورې کړي۔ ځکه چې به مخکې خورا زرگې شته چې هرازغی یې لکه د غونډې ستن داسې دی.

یوه بل څره پرې راږغ کړ:

-خپل توت اونیې په بر دو هلکانو مه خوره لیونیه! ته نه گورې چې په ټوله قافله کې بوازې یو څو بختوران شته چې د هغوی پښې بتې دي اونور هریو د دې دعا گانې کوي چې کوم مړ بوده موندہ کړي چې د هغه څرمن واروي. ته لا ره یې دا ده چې د خپلې بنې کالې دي

په‌بل شي کې خوندي کړه‌او پخپله‌بنې په‌ښو کې وتره! پروا نه لري- دنیادې د سر بلا واخلي. که نه ژوندی وې بله بنې به ومومې !

هر یم عمره له لیرې وتو خل اولاس یې پورته کړ او لږ څه په بیړه یې ورته وویل :

- دیره بوده په عمر من به مرې سره وشي مرې ! پخپله نه بنی لرم اونه‌بل کوم‌شی. ته‌خو باجابې باجاچې بنې لرې ! که بیخي تنګسه‌دربانده راغله نوهغه به‌په ښو کې وتږې ! خوارې زموږ په برخه ده چې والله که تیره شپه مې له بخه سترګه هم پټه کړې وې او ښې سې د ازغو دلاسه سورې سورې دې. جاودې خو لایوې خواته پریږده، اودس چې پر وکړم دوې ګامتې (ساعتونه) داسې پرله سوځې چې نه به وایې مالګه دې پرې دوروليې ده.

کوم وخت چې د غه دویم عمره لاس پورته کړ، نوټول وزربې چې ترځیرو لاندې پټ وه‌ښکاره شو. دده دواړه لستوڼي نه وو تابه ویل چې دوبې دی او په‌خوبه‌بې دلندولستو نه‌وخت آغوستي دی. البته نورخت بې بنه پرله پورې و او دډیروپیوند ونو (پینو) دلاسه چې هر دول او هرراز پینې پکې وې، داسې پښلشوی و- تا به‌ویل چې شړی ده.

تور چې لږ څه توري نیني خولې ته واچولې او هغه یې به بیړه به دواړو زامو کې سره وویشلې پرزغ کړ :

ـ ته بې ولې غم کوې؟ خوداسې پنده ګدله یې درجوړه کړې ده چې کارتوس ورځنې وتلای نه شي ، بختوره! ارمان یې مه کوه! مورلرې چې دغې غوربې! موزغوندې یتیم اوبې پلاره خونه بې . ستاچې په دې پنډخت کې هم یخ کیږي، نوموږ خوباید وزاړو.

دوهم ځېرمه دده په خبره کې راولویده:

ـ توره وروره! شکروکازه ترموږ تولوته پټ بې! اوګورمستن به نه وي درخڅه، ځکه چې بې مې بېخي له ازغودکې دې او هم غوارم چې دا خپل پرتوګ پرځه په وګندم. زما خوبرځې خوزیږي. خدای دې (پتو) اکا خوار کړي، کوم وخت چې دسهارله خوا قافله را باریدله ځوکلکې لغتي بې په برځواو پوښتوکې ووهلم.

دریم ځېرمه:

ـ ولې؟ خیر خو و؟ پرڅه باندې؟ څه ویلې غوږي دې وراړولې وو؟.

ـ برابې نیمه شپه مې خورا دبر ساړه وشول ـ سوکه را ولاړ شوم او د (پتو) اکا لـه خره څخه مې ځـل را کښته کړ اوپه ځان مې واچاوه. ځل خورا ښه تودو او مرغوندې بیده شوې وم. (پتو) چې خپل خرلوغ لغړ ولید ـ زره یې اور واخیست او سمدلاسه یې ګوندې را پکې ووهلې خدای دې یې خوار کړي ـ تږدې یې وژلې وم ـ چې بیابه مې تربور نه وای وتلې.

غښمازيګر شو. دتور په بهيرکې يوه ملاوشمه سري زغ کړ:

ـ هلکو! له بهيره نه لږ څه ارت ـ يعني لوېديځې خواته مايو ځای دماجت په توګه ټاکلی دی. دمازيګر لمانځه دپاره هلته سره را ټولېږو چې لمونځ په جمع سره وکړو.

يو ځوږ چې له تور ځنه ځوګامه ارت دمني دلمر ورانګو ته او زړ اوزړ غوبدلی او زړ سري يوه غټه غوندي دبره لاندي کړې وه ـ وويل:

ـ والله که دحرکت يو هم له داسې کوټلی يم لکه دغه. ته به وايې ترمېچنې بې ابسنلی يم، پردرو ټلو دريدلی نه شم. له دي ملايانو څو به دي ځوږ او رغو کې هم نه خلاصېږو. او دس څرنګه وکړم؟ لاسونه او پښې په سرو او بو له سري لمد ولای نه شم، ځکه چې داسې سوی کوي چې ته به وايې په پرهارونو بې مالګه ورپاشله.

ملاوشمه سري ستر ګې پر بر ګې کړې او په يو کلک او دخوابدی په زغ بې وويل:

ـ ولاړ شه! دخدای پوراداکړه! دشيطان په خوله مه کوه! داخبرې دکرونه دي چې ته بې کوې! د دوزخ له لمبو و دارشه! دپل صراط خواری درپه يادکړه! پهدې دنيا ...

يو بل زغ په دې توګه واورېدل شو:

ـ داور ودرې، درې موټان اندېوالې اجوله کېږي چې بيا دودی پخه شي

تر هر څه دمخه دځپلو اورو موټان په دغه ځادر کې واچوئ! بیا هرې خوا ته
یعنې جنت ته او که دوزخ ته ځئ - لاړشئ! خو هر چیر ته چې ځئ وزې مه ځئ!
تور سمدلاسه خپله برخه اوره ورکړه او پخپله یې کهی واخیستله
چې بوټي ورهې او رایې ورې.

مابنام ځای په ځای داورسرې لمبې لیدلې کیږي. داورونو تر رڼا
هرچیرته خلك معلومیږي . د مجنوسرونه او مخونه داور په رڼا کې
بیخي ښه بریښي، ځوزراو په اساني سره پیژندل کیږي.

دتور په بهیر کې تول ( ۷ ) کسه په کاسه کې سره اندیوالان دي.
هر یوه دخپل نګولې دباره په کوچنۍ زې او یا په کوچنې دبلې کې څه
غوري را اخیستې دي اوچا چې وخپې کوم لاندی حلال کړی و، بو څه
دلم وچه توته یې را اخیستې ده .

بیا لنګري ( هغه ځوك چې دتولو دپاره دوډی پخوي او دد غې
اندیوالی مشر هم بلل کیږي او خبره یې په چا بده نه لګیږي)- وویل :
-هلکو! مابنام ته باید بوه ښه توده شکنه وکړو. ښه مسې دیګ
هم لرم. غوارم چې هغه په کوزملك کې خرڅ کړم. نوتاسې هر یو، بو څه
غوړه ګرنه راورئ چې شکنه پرې وشي او په دې توګه دسهار مزله ته
بیا چمتو شو.

دتور په بهیر کې ښا تك نشته چې په هغه کې دوډی وخوري

لنګري زر هغه بل بهير ته ورغی او هغو نه يې وويل :

- زه به لوی مسې ډيګ لرم. خو ښانک نه لرو. هيله ده چې تاسو به خپل ښانک راکړئ. که تاسې سمدلاسه دوه دی خوری نو موږ به خپله شکنه وځنډوو. که نه وي، نو اوس دستي ښانک راکړئ او په لږه موده کې به يې بېرته درستون کړو.

تر يو ځنډ تيغر پورې د هغه بهير غړي د دوه دی په خوړلو نه سره جوړيدل. چا ويل: بايد اوس يې پلي وخوړو او چا ويل چې ځينو هسکانو لاخره د ځرنه بېرته نه دي راوسلي. بايد هغوی تر راتګ پورې وکتل شي. خو په پای کې يې لنګري ته ښانک ورکړ او به دي يې تينګار وکړ چې بايد هغه ژر بېرته ورته راوليږي. سربېره په دې بر لنګري يې بخه کړه چې بايد تل خپل ديګ ددوی له ښانک سره بدل کړي.

مانبام داور دلمبو شاو خوا ته دهر بهير ځرګان ناست دي. ځينو لاسونه دخپلو مخونو په مقابل کې د سپر غونډي نيولي دي چې هغه داور له حرارت ځخه وژغوري. ځای په ځای دسندرو زغ په غوږ وکښېوزي. ځينې کسرونه وايي، ځينې لنډی وايي، ځينې يوازې: يوازې غړ انګې ځکوي. په دغه تهوله منطقه کې چې قافلې اړولي دي يو شخړل دی.

نور هم کوسی ترځان لاندې کړی دی او اورته لاسونه کړوي او کله، کله يا ور ولاړ شي او دتر خو ځخه غيږ ډکه کړي او په اور يې واچوي

چي شاوخوا مځکه اوولاړ خره اوپراته اندي رښا کړي. تور هيڅکله کوسی له ځان څخه نه بيلوي- خوکوم وخت چي بوتونه ور ولاړيږ ي نويوه ملګري ته ووايي چي هغه داورله سووکوا وبخرو څخه ګوري.

تورژر ولاړ شو اود اورڅخه ليرې يې يوه انـد ي تـه خپلـه بنـې کښينـولـه ده ته يوه کوچنی شيلـه ورنژدې وه چي مازيګربـي لا داتړ ره ايستلی وه چي لـه دغې شيلـې څخه به يـو څه پسته شګـه وري اوتر ځـان لاندي به يې دنيالي پـه حيث اچوي چي پـه آرام خوب وربا ندي وکړي.

تو رځکه د خوب دپاره زغـرده ولاړ شو چي ده کوسی درلود اوزره يې پوره وچي ساره به يې نه کيږي. خوځيني نور خره ګان چي تا وده کالي نه لري ترناوخته پورې اوربلوي چي هغه ته ناست وي او خورا ښه نکلـونه کـوي ا وځيني لاکيـې سره ا چوي.

ګهيخ وختي بيا قافلې په ليږد يد لوپيل وکړ. مابنامي اوروښه لاکوتي وتـي پراته دي. ځينو هلـکا نو په هغونوربو تي واچول چي هم رښاشي ، لاس اوښپي سره وو يني او هم د کاليو په راغـوند ولو اوتړلو او بارولو کـي مرسته وکړي.

د سهار په خره باندي قا فله پـه لاره رهي شوه . ځکه چي دمني ساره دي، نو هر څوك پر له ننوتلي دي اوزياتر وخلکو لاسونه په تخرګو

کې نيولي دي. ځای په ځای لويو بوټو ته اورونه اچوي او ډير خلك ورته راټول شي اولاسونه تاوده کړي، نو بيا درومي. ترڅو چې لمر بنه لوړرا نه شي دځړه‌گانو خوځښت دومره ډير نه وي. څوکوم وخت چې لمر ښه تود شي، نوزنځکيان سره ودريږي او غيږي باسي اوياچې د دو وسړه جنګ شي نور پررا ټول شي اودځل سيل اوساعت تيری سبب بيې شي.

قافله له دې ځـرا عموماً د ورځې تر دوه بجو پورې مزل وهي. خونن اومه کي غرمه‌لانه وه چې دمخ بهير و په اړولو پيل وکړ. هر ځوك له بل ځخه پوښتنه کوي: ولې دومره وختي اړوئ؟ لږه ګړی وروسته ځرګنده شوه چې راداری والا را غلی دی او راداري غواړي.

د عمومي لاري نه يرې ځـواتـه دهـاغه شنه غره پـه لمن کـې ها بلې خواته ونې ښکاري. هرکتونکـی ونې ښې شمير لای شي او هم هره ونه پيژندلـه کيږي چې دځه شي ونده. زياتره ونې دتوتانو دي، دمنې سروسيلاووېبي پاڼې ژړبخنې کړي دي. ددي کلي منظره دقافلې په خلـکو خورا ښه ولـګيده.

تور يوه ملـګري ته وويـل :

راځئ دغه کلي ته ور وګرځو ګورو ندي! ځلته بومړ بوده. موندو کړو چې خلي ښې به پټي کړو. دلته کلي ډير ننته. په مخکې مو بيا تر ډيرو پورې سپيره بيديا ده.

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

بیا تورلنګري نه‌ورنږدي‌شوا وسوکه، خو به‌صافو تورو بي ورته‌وویل :

ـ خوښه دي نه ده چې دغه کلي ته نژدي وارووو؟ ماښام به بې په ماجت کښې ښه غوره‌او تر ده شپه تیره کړو اوهم به‌پکښې وګرزو. که مو جیرې ډېښو پتوالي دپاره یوڅه ومونډل. زموږ په بهیر کې بیخي ډېر خلك بيلې بيلې روان دي. هر څومره چې لیري کیږو هغومره زموږ تکلیف ډېرېږي.

لنګري تښتي زیوکړ او ازخه په دد زغ بې ورته ووېل :

ـ کښې دچا خوښ نه دی؟ یوه ګړۍ پیتاوي ته هملاستل خورا لوی نعمت دی. ته نه ګورې چې خلك بيلې دغه نور څرګڼ څومره لیرې نږې نه تښتي اوته غوارې چې په لوی لاس ځان دزمرې په زامه کښې ورکړي! داخت څکه‌نږې نه‌لیرې‌مندې وهي چې ملتهر اداری والاناست دی قافله هماغه‌را وګرزوله. نوکه‌ته را داري لږې اوله وسه دې پوره وي چې ورسره‌وبې څیرې - نوشل کرته ورشه! خدای دې وکړي چې دمیرزا په زنګانه کښېني! موږ خو بې وس نه‌لرو اوله‌دې کښې نه لیرې تښتو.

دتور بهیر په یوه شیله کې تمام دکلي نه دلیرې کیدو دپاره مخ په لرېدیځي خوا روان شو اوتر لو سانیولي وه چې اوس به مو ر اداری والا ونیسي. هر بو خورا سوکه، سوکه خره شرې. څرلڅې خره نه لرې هغوی له خرونه‌مخکې شول. کوم ځای چې شیله ډیره ژوره نه وي نو دوی

تیت، تیت روان وي اوکله ناکله ترشا وګوري چې څوك خو نه پسې نه دي. په دغه وخت کې څو نور خره ګانچې ده څری هم پنې پسشاوي، د تور په بهیر پسې را زغلي چې څوی يې لاندې کړل. نو د مخ خلکو ته يې د لاس په اشاره د دریدلو امر وکړ او سمدلاسه يې په شرلي سا ورته وویل:

ـ تاسې ولې زغلئ؟ رادرئ والاته خو دوه پښې پوه کسان ورغلل چې خبري يې د سره فيصله کړې. يعني يو (بس) ورسره ونري. کوم وخت چې بس وتړل شو ـ نو بیا تاسې هر څو مره منډې چې وکړئ ـ مجبور یاست چې خبله (حلال) ترڅان وزبیره کړئ. نو هرکله چې تاسې جلا ورکوونکي یاست نو بیا ولې تاسې په ښرکي خپل نوکان وهئ؟ درځئ بیرته په عمومي تږن کښیوزئ! هر څه چې په جهان ورو ـ په تاسې به ... لګري:

ـ نور کله خو به (بس) نه ترل کیده او هر څوك چې به يې ونیوه هغه څخه به يې بو څه اخیستل. زما به په یاد دي چې پروسږ کال ما صرف د نسوار و يو آئینه ډرونکي ږیر دبلي ورکړ او زه او زما دري واړه ورونه يې خوشې کړل. بس ترل څه نه دي څکه چې موږ دومره پوز پري کولای نه شو.

بوه ورته وویل:

ـ نه بیرته سمې لاري ته را واوړه! خدای به خیر کړي. نه ګوره! قافله

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

بیرته منظمه شوه او ټولو وارول. خوبوا زې ستا بهیر دی چې بایښې بې را پوره کړي دي او په شیله کې زغلي.

کوم وخت چې دوی بیرته را وګرزیدل، نو واوریدل شول چې د سږکال راداری والا خورا ښه دین داره او لمونځ غاري خلك دي. مشربې ترغرمې پورې وظیفه کوله او مراقبه ناست و. ـ خو به زړه کې بیا خورا کلك او بې رحمه غونډی و. هرڅو زاري ورته وشوې چې د سري په سر دي غران ټول کړي، خو بې نه منله او یوه بشپړه اوغانې بې غوښتله.

د خولې د پریکړې دپاره چې هغه دوه کسان ورغلي وو هغه بې وهلي او ترټلي هم دي. اوس نور دوه درې تنه سپین ږیري ورغلل ګونډې بوسر وترل شي او ټولو ته هوسایي پیښه شي.

د تور بهیر هم وارول. نور ری (جرت) ورامه چې ښه ده. ـ یوه پلا ورشي اورا داری والا و وینې چې دالا څه توکم خلك دي او څه دول زغیدابې ده.

خو کوم وخت چې بند ربان ور پـه زړه شي او د مغوري سلوك بـه دماغ کې ور تازه شي نو بې خوابده شي او بیرته بې خوا توره شي.

یو ملګري ته بې وویل:

ـ بند ربان د بر ظلم او تیری کوي او که راداری والا؟ .

ـ راداری والا دیر سروان کوي. دا څکه چې موږ و تا سې کوز ملك ته درومو او د دوی لاس را لاندې وي، خو بندربان هغسې دي لکه چې

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

پښځله دي ليدلي دي. هرچيرته په هره شيبه کې چې يې ونيولي لوګ لښر دي واچوي. خو دغه دعا کوه چې ديوه مخ هم ونه ويني. نه دي داوريدلي چې وايي: «څومره ګونبه ښومره ښه.»

د تور په زړه کې نابيره ورتيره شوه چې ښه دي دغه کلي څواته ورشي. ښېني دي - که بيې دښنبو غم وخوړ او کوم دول پو تکی بې ومونډ. څو د ښځي لانه وې تيرې شوې چې دغه کلي ښځه يو پونګي خرڅوونکې (ښنجاره) پر بيوه نسبتاً لوی خره سپور راغی. توربي له کوم تکليف اوجرت وهلو نه دخپلو پيلوښنو په خصوص کې د زړه خواله ورته وکړه او په دي باره کې يې دده لاربنوونه اومرسته وغوښتله خوپونګي والا ژر څه خشکيت ورته وکړاو ورته يې ويل:

- ته مستبې مست! سادي له تاوده ځايه خبري. زه چې ستا په حال وم په توپ نه وم بند، کاښو اوازغو، غروراغو، پراهيغ توپيرنه درلود. شپه او ورځ مي مندي وهلي، ستړيامي له سره نه پيژندله. څو داوس زماني زلميان داسې نازک طبيعته شوي دي چې بيلې پښې تش په لاره نه ځي. زه چې به بيلي پښې روان وم نو لژ ترلژه اووه، اته منه پونګي به مې لاهم به شا وه اوله بندريانومي پته خرڅوله. څو اوس مي عمروخوړ، های های ځواني !..

په دغه وخت کې لنګري زغ کړ:

هلکو! ترهغو پورې به نه سره تيتيږئ تر څوچي موخپل کارونه

کړي نه وي او هم هر سړی بايد خپله د اوړو برخه را وکاږي او په ځادر
باندي يې واچوي چي لانده يې کړو او ما ښام او سبا غرمې ته کاکونه
باخه کړو .

تور دبونګۍ والا په دغو خبرو يو څه متأثر شو او په دي يې ځان
ډير ملامتاوه چي ولې يې هغه ناپيژندونکي سړي ته ډوډه حواله
وکړه ـ خو دغه جرت يې ډير دوام ونه کړ او خپل دبهير بل ملګري ته
يې وويل :

ـ دا پوري خوا کلي چي وينې ! دغه نه مخې بلې خوا ته يو بل کلی دی .
خلک وايي چي هلته بوستانه سړی او سبزي او خوراښه لنګريي
چليږي . خو ګڼي هلته ورشي خوراښه يې به نس موږ کړي او تو ده شپه
ور کړي ـ ځکه چي وايي خوراښه ماجت لري . نو که دي خوښه ده درځه
چي ورشو او شپه به هلته تيره کړو ! . ګهيځ به وختي را ولاړ شو ، او مه کې
غرمه به نور ځړه ګان لاندي کړو او هم به ډبنو دپاره ځوړن ولټوو .

دده بوه بل ملګري چي په ( پزبربکري ) مشهور دی له ا ـ ـ خه ليري
واټن ځخه ورته زغ کړ :

ـ توره ! کـه دی نه درسره ځي زه چمتو ولاړ يم . خوبه دي شرط
چي خپل خپل کارونه به وکړو بيا به ځو . ځکه چي نور انديوالان به بيا
شيان ( ملامتي ) را باندي وايي . دچا پره به ځان مه پريږده ! .

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

لومړني ملګري يي پر ژاړغ کړ :

ـ تا سوخولاوس هم هلکان ياست. ددنيا سړي اوتو دي دربانده ي نه دي راغلي. دغه دوللنګرونه زموږ اوستاسي مزدورانو د پاره نه دي. په د غوڅايو کي هغه چاته خولهړي رسيږي، څوك چي ښه دروند (نذر) راوړي. که څه هم زه هلته ورغلی نه يم خوله تجربي نه داراته معلوميږي چي هلته کارکوونکي اومزدوران له سره نه ورپريږدي. دا دهغه چا ځای دی چي په توره غوړنه پيدي . يعني يو څه پوري وينې . نوله دغه کبله زه درته وايم چي خوشي په خوشي ځان مه سرګرداني کوئ اوپه خپل بهير کي سوکه کښينئ! ځومن هم هلته موندلای نه شئ. ځکه چي پخپله دهغه اود شاوخوا کليو خره ګان اکثره يېلي ښي په قحا قلم راګډ شول. يو مزدورمي وليد چي په ښو کي يي «غروانبه» ترلي وه. که ځرمني هلته موندل کيدای نو هغوی به ولي يېلي ښي راتلای؟.

خود توراو پزپريکړي زړونه ونه دريدل اوور وسته له هغه چي دبهير له کارو سره يي لکه د بوټو او اوبو راوړلو سره مرسته وکړه اوهم يي دسبا غرمي دکاکو ښخولو دپاره اوره ورکړل ـ نو دواړه دهغه ستانه کلي خوا ته روان شول . دوی پخپل منځ کي سره وويل چي خپله دغه اراده به بل چا ته نه وايي، ځکه چي د بري به بيا وراني وکړي. په دي کي هيڅ شك نشته چي تور خپل کوسی هم آغوستی دی.

دوی دهغه کلي په سرخو ښه ارت تیرشول چیرته چې را داری
وا لا کښته شوي وو. د ستانه کلي ته چې ورنژدي شول یو هلك یې
ولید چې دري غواوي دیوه لښتي په غاړه پیایي .

-هلکه ستړی مشي ! خدای دې خوار نه کړه ! نه خو ترموږ لا خوار یې
مور نه لري؟ چې دخت دغه شل پړ انګې دې سره وودي چې له دغه ساړه
سیلاو نه خولږ څه خوندي شي ! . دا یو کوللك دي ولې پرسیدلی دی ؟

لومړی ترهغه چې دغه هلك چې په مخ کې یې تکی وینه نه شته
او دخت رګونه یې داسې راختلي دي چې ته به وایې د دنبوري دوه
تارونه دي ـ څه ووایې دتورملګري پرسرلاس ورتیر کړاو په پسته ژبه
یې تری نه پوښتنه وکړه :

خدای دې لوی کړه ! دلته به چیرې مړ بوده درته معلوم نه وي چې
موږ یې د پښو دپاره ورڅني څرمن واړوو؟ په لګر کې مسافرو ته څه
ورکوي که یه؟ او...

په دغه وخت کې یو بل زښی غوندي هلك را څرګند شواو
په دوی باندې یې زغ کړ :

-هلکو ! غله یاست اوکه ځړه ګان ؟ دلته څه غواړئ ؟ قافلې خومو
لیرې اړولې دي. تاسې دڅه دپاره دې خوا ته را وښتي یاست؟ خپل مزل
به مو وهئ ! که اخوند زاده صاحب در خبرشو څرمن به مووباسي

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

ځکه دا ځوشيې لومړی په دې کلي کې ديوه سړي خر غلويبولی دی.

توربړرا د رسته کړه :

ـ موږ پخپله دبوده ګانو په ځرمن پسې ګرزوچې داخپلې ينلې پټي به پټي کړو. په موږ پوري ځرمن کومه ده ؟ چې ځوك ځرمن را ځخه وا روي. غله نه يو مزدوران يو. کوز وطن نه د دې دپاره درومو که مونږ نه وا رول او يو ځه شي موکوروتوته مونده کړ. ستاسو ذ کلي مزدوران خوهم زموږ په قافله کې نن راګډ شول ـ نو بيا ولې راته غله وايې؟ نه خو موږ غوندې خلك پيژنې چې بې ازاره ځره ګان يو او ...

پزيريکري تور ته په لاس اشاره وکړه او بيا يې ورته وويل :

ـ هلك سړی دی ـ يو تا برينه يې وکړه ـ راځه چې خپله لاروهو.

ګله! دجومات لاره راوښيه او بيا داخوند زاده دلنګر لار وا په ګوته کړه!.

زمني ورته وويل :

ـ جومات ته دکين لاس کوځه ګرزيدلې ده. لنګر دجومات نه دير ليرې نه دی خودا بايد درته ووايم چې لنګر ته څو هغه خلك ور بريږدي چې لاس نيوي ته راغلي وي اويا يې پخواني مريدان وي او دمبارك ليدلو ته راغلي وي .

غت مازيګر مهال دی. دوی دواړه داخوند زاده صاحب دلنګر مخې ته راورسيدل . دلنګر داحاطې نه دباندې شاوخوا ته ځوځره ترلي دي

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

چې پرڅټنوېې نيالي هم ترلي دي. دوی وپوهيدل چې پردغو خرو بې له شاوخوا کليو څخه ناروغې ښځې، نر او کمکيان لنگرته ددې دپاره راوستلي دي چې خورده په پوري کړي اوبه دې توگه يې له ناروغې څخه وژغوري. لومړی ترهغه چې دوی دلنگر په احاطه ورکښيوزي ديوه لوی وره په خوله کې څوکسه ناست دي. په دوی کې ديوه شناوی زيره ده. دی سړی به دې درگاه کې خپل ټول عمر تير کړی دی اوله خورا نژدې مخلصانو او خليفه گانو څخه دی. دغه خليفه يوې سپين سري غوندې ښځې ته چې په خورا ادب سره ده ته نژدې ناسته ده او يبلې او چاودې پښې يې له ورايه ښکاره کيږي ، له نورو نه يې پلو نيولى و خوبخپله خليفه ته يې مخ لوخ کړی و ـ وويل:

ـ مبارك دخدای دومره نازور داره دی چې هره دعا يې قبليږي. دهر رانده په ستر گو کې چې ده دزړه په اخلاص توکړی دی، نو هغه درب په فضل په هماغه آن ښه شوی دی او خورا په خوشحالى خپل کورته بيرته گرزيدلى دی . پرشل چې لاس تير کړي سمدلاسه پرپښو جگ او درېږي. هيڅ مرض ده ته طاقت نه لري .سربيره په دې چې ناجوره جوړوې په هره تنگه کې خپلو مخلصانو مريدانو ته رسيږي . که له کوم چا څخه يې زړه ښه پوست شي اودعا ورته وکړي خدای به ديرشته ورکړي. پته هم نېږ. مبارك اکثره دماخستن او سهار لمونځونه

دملایکو په جمع کې بـه مکه شریفه کې ادا کوي.

دوی دوارو دخلیفه دغه وینا اور یـدلـه اوهم بې ښځه‌چې مخې ته بې دغقصه کوله- کتله‌چې دمخې مخ له ډېر اخلاص اوعقیدې نه بیخي تلځسوراوښتي و اوتا به ویل چې اوس به‌دخلیفه په پښو کې ورولویږي.

یزیربکری به ریږدیدلي زغ وویل :

ـوروره! زه خـو ددغه خلیفـه وینا بیخي ور واخیستم . هیـڅ په سترگو نه وینم، بې له دې چې ددغه مبارك خدمت وکړم- که‌څه هم زه په خپلـه منطقه کې د... صاحب مریـد هم یم او دهغه لاس نیوی مې کړی‌دی، خوغوارم چې ددغه مبـارك خدمت ته‌ملا وتړم- گوندې پروخت‌مې‌چیتې مهرشي او مبارك‌خدای تـه زاري وکړي چې خـورا ډیره محکـه او پیبې راکړي .به دې زه پوهیدم چې دنیا پـه بل‌څه نه ډیریږي بې‌له دې چې ددغـې خدای دوستانو دعا ورسره نـه وی.

په دغه وخت کـې دوی‌غوښتل چې په‌احاطه شوي ځای ورننوزي خوخلیفه دوی ته لاس پورته کړاولـه ور ننوتلو مخه یـې را وگرزول .

بیا یې‌ترې نه‌پوښتنه‌وکړه‌چې په‌څه‌یې راغلي‌یاست؟اوڅه‌شی غواړئ ؟

کرم وخت چې یې ددوی له وضعیت او خبرو ځخه معلومه کړه چې څه نه به جوړیږي نو‌یې لږڅه به‌جدي زغ و رته وویـل:

ـدغه زلمی(یزیربکري ته‌اشاره) غواړي‌چې دمبارك‌به‌درگاه‌کې ځان

خاوري كري بايد ويوهيږي چي اوس منۍ دی. پرمبارك باندي خپل
پخوانيي مخلصان چي لـه كلو كلو راهيسي دلته پراته دي اوتراوسه
يې توبې قبولې شوې نه دي - باردي. كه څه هم دوی مبارك ته ښه درانه
درانه كارونه كوي اودده دملګرو زيرمه خورا په اخلاص كوی، خو بيا هم
په سرو شپو كـې بيكاره وي او نس يـې تاوان وي. نو نه كه ربښتيا برخه
غواړې او دي ته دي زړه وي چي دصاحب دښو خاوري شي! نو بايد
اوس پر هغه لار لاړ شي چي پري باندي راغلي يې او ښي خواری او
زحمتونه په ژمي وكاږي! له مغ خوا دمبارك دپاره ښه سوغاتونه راوړي!
البته هغه وخت به دده زړه هم ښه شي اود كـار و نو وخت به هم وي .
كـه دي خدای طالع لوره كړې وي په څلورو پنځو كلونو كې به د برخې
خښتن شي !

خليفه كلـه چي وينا تمامـه ولـه - تـور د غوښتني اوعجز غونـد ي
په زغ ورته وويـل .

- موږ به ورشو دصاحب زيارت به وكړو ، بيا به رخصت شو، شپه
به په جومات كې وكړو او بيا به بېرته ورسو .

خليفه :

- مبارك ته به نن تور لاس ورتـګ بـه څه خوند ورنه كـړي .
هر څوك چي ور ځي نو لومړی دده مخې ته بوشی كنيزدي او بيا يي خليفه ته

esalat.org

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

ورکړي چي دده په حضور کي ولاړ وي او بيا بې دلاس په مجولو پيل وکړي. ډير به بي خونده وبريښئ که موتر مسخې ورته نه کيښو دل اونش دده لاس مچونه وکړئ.

ناستي ښځي پررا زغ کړل: شکر دی لوی په غوښو پټ زلميان باست.

زه چي کوونده ښځه يم اوهيڅ نه لرم اوتوله ورځ د خلکو څرخې وريشم اويا بلـه خواري کاژم او هيڅکله به وچه دودی په نس نه يم مړه شوي اودکاليو مي هم دغه حال دی چي تاسي يې ګورئ ـ خو بيا مي هم دوه منه اوړه، چرګان اودريش داني هګی را وري دي. والله زياتي مي وسه نه وه. زه به دغه لږ شي شرميږم، نوڅه وکړم. دنيتی دي زوی مرشي.

دوی دواړه دخليفه ترلاس اوښورشول اوور وسته له ډيروزاريو يي پويښودل چي ورننوزي. هلته يو خورا ښه پيناوي ته يولوی برګ تغر غوړيدلی دی چي په هغه باندي يوه نسبتاً کوچي خوخورا ښکلي قالينچه ويره ده اوپرهغي باندي يوه پنده نيالی پرته ده . پرنيالی باندي يوداسي سړی ناست دی چي خورا پنده سينه پګړی يي بي ترتيبه تړلي ده. ددي سړي زيره شناوی ده. نور کالي يعني خت اوپرتوګ يي سپين دي، خو ډير پاك نه بريښي. دی خورا پنداومزغی يي بوپر بل کوت کوت پروت دی. سترګي يي خورا غتي دي. پـرغـوزويي ښه اوږده

esalat.org

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

ویښتان ولاړ دي . دسپین ماغوت یوه سدرۍ یې چې یو څه خیرنه غوندې بریښي- آغوستې ده. دسدرۍ په غوټه پورې یې یو دسپینو زرو ځنځیر معلومېږي چې سرۍ ګومان کوي چې جیبي ساعت پورې تړلی دی. کوم وخت چې یې را وکیښې نو دساعت پر ځای یو غاښ تو-بوني ، یوه دغوږ کوچنی کاچوغه چې هره ګړۍ په دقت خپل غوږ په پاکوي او یو جوت تسبیح په پورې دی .

دده شاوخوا ته څو لږ څه ارت ځوکه ښځې اونر ناست دي هیڅ زغ اوږوغ نه او ریدل کیږي . څوکله ، کله کمکیان کړیږي کړي او دروغې او آرامې فضا یو څه مختلفه کړي؛ خو میندې یا پلرونه یې ژر په خوله لاس ور وړي او دکوچني زغ نا بیره اویه یوه پلا پرې کړی شي یعنې خوله یې ورته کړي.

تور اوپوزپر بکرۍ دواړه په ورو ورودده خواته ور ردومې. خوپه دې حال کې کله، کله یوه اړخ اوبل اړخ ته هم وګوري چې څوک یې را ونه ګرزوي. حاضرین زیاتره ناروغه کسان دي او یا یې ناروغه کوچنیان راوستلي دی. هر یوپه خپل وارد ولاړ خلیفه په اشاره ولاړ یږي او مبارك ته نژدې ورشي . خلیفه ترې نه پوښتنې کوي چې (څه شکایت لرې؟) او بیا مبارك په خوږ ځای باندې یو څه نارې وروموږي او خلیفه ته ووایي چې (تعویذ ورکړه). کوم وخت چې دغه مریداو یا مخلص ترې نه راولاړ شي نو دشاپر خوا

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

ورو، وروچي دواړه لاسونه يې پرنامه نيولي وي او سربې دادب په حال کې کښته اچولي وي - ځي اوبيا بل يوورولاړ شي. خليفه سمدلاسه يوکاغذ چي ددرو کنجو په ډول نغښت شوی وي له جيبه را وکاږي او اساسي ته يې ورنيسي. دغه مربدلو مړی هم يو څه نغدي او جنس دمبارك په مخکې ايښې وي او کوم وخت چي تعويذ واخلي نوبيا په خپل تش خيرن او ځيرلي جيب لاس وروړي اوبيا دېرنوګاټي په څنده پوري غوته را خلاصه کړي او يو څه نغدي پيسي د تعويذ د (خوړي) په نامه خليفه ته ورکړي .

خليفه ګان ټول مخلصان که ښځي وي او که نر- پېژني او ددوی داخلاص اوفداکاری آندازه په ښه توګه ورته څرګنده ده. هرچا ته چي له ليري وګوري په ويو هېږي چي څومره نغدي او جنس يې راوړی دی. خليفه ګان چي هرڅه دوړځي ومومي هغه بيا په مابنام دمبارك حضور ته ورووړي. په دې وختو کي پخپله خليفه ګان يو دبل سره ښه نه دي او ځيني وايي چي زمانه اخره شوي ده اودوی دتعويذ دخوړي له پيسو څخه يو څه ځان ته ترونبي.

مبارك هم له دې وضعيت څخه په تنګ شوی دی او کله کله خوبې پرزړه ترځي اوبه ور واروي او خليفه ګان تهديد وي چي (نبرا) به ورته وکړي او دواړي (د نيا وي) به يې ورخطا کړي. بايد سم ګرزي او څه چي پيدا کوي هغه بايد ټول روغ رمت ورکړي.

esalat.org


PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

دحضـور د خليفه سترگې چې پرنور اوملگري يې ولـگيد لې سمدلاسه ورته را نژدې شو او ورته يې وويل :

هلکو ! محرمگان ياست؟ خداى دې تا سې اوپره اومزدوره طبقه خواره کړي چې تل مود بل کوندي ( د سترخوان ) ته سترگې نيولې وي. کوم وخت چې به دې لاره تيريږئ نومبارك درپه زړه شي- هغه هـم مابام‌ته نژدې. په‌حقيقت کې خوخپل نس‌اړوئ - راشئ‌خداى موبسه پرته کړه! دمبارك لاس مچې کړئ اوخپلو بهيرو ته بيرته مندې وهئ چې ستاسې دپاره دلته دشپې ځاى نشته. محمو راوړي دې چې بيا موسبزي وگالواويا مونسونه‌درناوده کړو. دابوه، يوه‌رنگې لنگوټې اوداخيرني او چاودې پښې اولاسونه‌موخاورې‌شه! مخ موزر پرته کړئ!

دغه‌دواړه محرمگان په دغه ويناخوړا ډيرخپهشول‌اوورو‌سته‌له هغه چې ساره‌يې واسوبلل‌سر محورې را وگرزيدل. کوم وخت چې له وره محخه دباندې راووتل‌نورشاوخوا وکتل‌اوچې‌خوليې نژدې ونه‌ليدل نو يې‌ملگري ته و ويل :

پښې درباسه! نژدې وو چې خپل غوزونـه بايلو. زموږ دبهير ملگري خوربنتيا را ته وويل اودهغه خبره اوس‌موږته عملاً ثابته شوه چې بې پيسو داسې محايـونـه ورتگ زموږ دمزدورا‌نو‌اوخوارانو کارنـه‌دى چې لاس اوخولـه يې نمسره ورځې. ژردرځه! چـې

esalat.org

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

دخپلو کاکوبر خه‌واخلو. که نه‌وي دشپې به‌له‌لوږې په نسونوکارې ولګوو.

پوزېر یکري ورته وویل:

زه‌غوارم چې یوه خبره درته وکړم ، هغه داچې : راځه نن شپه به‌نهاره تیره کړو- دې دپاره‌چې دپهیر نورملګري را باندې ونه‌خاندي هغوی ته به ووا یو چې مبارك دمزدورانو لـه طبقې سره خـورا مینه درلوده اوموږ ته یې خورا ښه غوره‌دود ی راکـړه او...

کوم وخت چې پوزېریکري خپلـه خبره خلاصولـه نولږڅه یې وسل او خپلې سترګې یې ګردې ونیولې.

نور:

زه په کابل کې وم اوخپلـه بچـه مې ادا کولـه ـنوکلـه ، کلـه به‌دجمې جمې په ورځ د .... کره چې زموږ اوستاسې دځای‌دی اوهلته ښه معتبر دی- ورتلـلم. دده‌په کـوته کې به‌یوازې زه نه وم-ماغوندې ډېر نور کسان به‌هـم‌ناست وو. ده به‌تل دخپلوخبرو‌په ترځ کې دغسې (مبارکان) مفت خواره اودټولنې دښمنان‌بلـل اوهغوی بـه یې غنـدل اوویل به یې‌چې «دوی تل دکارکوونکو او مزدورانو په اوږو سپاره وي اودهغوی غوښې خوري».

کـه رښتیا درته ووایم په لومړي سرکې خوما داسې فکر کاوه چې دغه ښاغلي به دخپلو دغوخبرو‌په اثر ژوندی سره وچوي اویا بـه لـه

آسمانه یوه تکه باندې راپربوځي. کله، کله خو بېزه دده له کوټي څخه ژر وونم چې اوس موږ دده په گناه ونه نیول شو اودغه آسماني تکه زموږ په سر را ونه لوېږي. خو عجیبه لا دا ده چې دی به ورځ په ورځ بېې پرسیله او ترڅو چې زه هلته وم والله که بېې په سر درد شوی هم وي. نواوس، اوس چې مې ددغه مبارك وضعیت پیا ولید زموږ دغه وطندار خبرې مې په زړه کې را ژوندی شوې.

وروره! سړی څه ووایې؟ نور څه نه شم ویلای پرچا به نېې ونه لگیږي. که دبهیر ملگرو را باندې خندل او که بېې را باندې ژرل زه خو دروا غ نه ورته وایم او یه وار خوله به ورته ووایم چې داسې بېې را وشړلو لکه څوك چې سپی چیچني کوي. په دې مې زړه جنه دی چې له خپل څوري څخه مې اوره ورکړي وو چې سباته کا کونه او یا پتیرې را پخې کړي، په تش نس به مزل نه کوو.

دوی دواړه تر ما بام خپل بهیر ته بیرته ستانه شول. ځکه چې دوی ما بام ډوډی د پاره اوړه ورکړي نه وو، نو یې د سبا غرمې له کاکو څخه یو څه وخوړله.

د بهیز مشر چې لنگري هم دی ورته وویل:
ـ خدای مو خوار کړه! لکه چې تش نورلاس بیرته را غلاست! بنه بېې و بسلې دي (تو زنه هیله د خدای له کرمه وتلې ده)

راوړئ ، درادارۍ والاجلا راوړئ . اوڅرې په سر یوه‌یوه‌اوغانی جلا شوې ده. نوراوملګرې دواړ ودځپلو غوړ و ، خیر نو اوخیر و پټکیوشملې چې په سر کې بې تو مبلې وې - راخلاصې کړې او دځو ، سر وځځه یې دا ور رڼاته یوه ، یوه اوغانی ورخلاصه‌کړه اولنګرې ته یې چې په خپل تلتک کې اور ته نږدې ناست و - ورکړې .

ددې بهیر لنګرې یو ګړ غونډې سرې دې، پنځوس کلن ښکاره کیږي،اوږده ږیره‌یې ده اوڅڅه‌هم‌توره‌اوسپینه پر له ګډه‌ده. دې‌سوداپې غونډې سرې دې اوکله، کله‌خوبه‌دې وسواس‌چې ګهیځ بمقافله‌ترې نه تللې وې اودې به پاتې وی - نرسیده داغه پورې‌خوب‌نه ورځې‌اواورته نږدې ناست دې او تلتک یې‌پسر راغوړلی دی اولوی لوی ګنګان ( یو ډول بوټی دی) پر اوراچوې. دانګار خورا لوپه‌ځرې ورته پرته ده چې شاوخوا نور ځره‌ګان ورته پراته دې. ځولځولا په ناستې چې دځپل ځورې پربنی یې شا وهلې وې ،ورته بیده دې

داسې ځوځله پینه‌شوې ده‌چې لنګرې په دې فکرچې قافله ترې نه بارشوه - له‌خوبه‌نابیره‌را غورځیدلی دی‌اوپرهلکانویې زغ کړی دی‌چې ( هلئ ناوخته‌شوقافله‌ولاړه‌اوموږ لاپر ځای‌پراته‌یو !). کوم وخت‌چې یې سترګې له‌خوبه ډکې خره یې‌بار کړې‌دې اوبنه‌واتن یې وهلی دی- بیا دا ور ته ځرګنده شوې ده چې توره شپه ده او سهار لا ډیر لیرې دی

اوهم تهوله قافله ځای په ځای پرته ده، نوبې دقافلې دسر دبهیرنه لږ څه تیربیرته اړولي دي، چې البته دتهولو خورا ډیرساره شوي دي ځکه چې بوتې اواوربې په زړه مېنه کې پرې اېښي دي.

ده ته دهغه نور اندیوالان په وچزغ څه نه شي وېلای، ځکه چې دی سپین زیرې، بوډا او حقدا رګني. کوم وخت چې قافله لیږدي، دی اوږ ته نژدې ولاړوي او ډیر ډیر بوتې براچوي چې داورلمبه لوړه شي بنه رڼا شي اوکوم شي ورځني په مېنه پاتې نه شي. همدغه ډول نور قافله والالوی، لوی اورونه بلوي چې دیشلمي په وخت خورا ښه بریښي.

په دې قافله کې دبوده ګانو شمیر خورا لږ دی. په بهیر کې ایله یو یا دوه خره شته. اکثرخره ګان خپل خوري پخپله په شاوري. خره ګان دبربوتلو دپاره دومره ډیر درانه کالي نلري. دزیاتروخره ګانو دپربوټلو تلنکا ن دومره نري اوسپك وي لکه دسوی غوږ. دبرو دخپل خوري اوره په یوه کځوره یا بنی کې اچولي دي اوهغه بې بیا په تلنك کې نغښتې دي او دتلنك یوبل سربې په وابنکې تړلی دی اوپه منځ کې بې یوه حصه وابنکی غرند پرې اېښی دی چې هغه بیا په خپله غاړه کې واچوي اوتلنك چې اوږد غوندې شکل لري په څنګ را وځروي چې دغه ترتیب ته په اصطلاح بوړ ی تلتك وا یې-یعني له تلنك څخه بې دبوړې تهربك غوندې شی جوړ کړی وي. ځینې چې تلتك هم نه لري

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

نواوره بې دغادر په ځنډي پورې غونډه کړې وي.

هرکله چې دا قافله وختي له خپلې منطقې څخه را و وتلـه او کوز ملك ته شپوه کېږي، نوله دغه کبله غره گانو دلاندې ځوتوتې وچې غوښې چې نور غره گانې معمولاً له ځان سره وړي ـ نه دي را اخستي. بهدغه سبب دوی خورا زرخوړي دي. څوکوم وخت چې په قافله کې وندي وشي البته ځينې غره گان يو ځه غوښه را نيسي چې هغه هم په هيڅ توگه ددوی اښوه نه شي کـراروﻻ ی.

گهيځ وختي قافله وليږ دېدله. دلمرختلوتر وخته پورې تو اوغره گانولاسو نه په تخرگ کې نيولي اوپه لاره روان دي او دپخوا پهشان ځای په ځای کوم لوی بوټـي اويا زرگـې ته اوراچوي او غره گان دلاسونو دتودولو دپاره پرې راټول شي. کوم وخت چې تاودهشي، نوخوزونه غونډي جوړه کړي او پهخبرو راشي، داوررهانه پرې يو دبل سترگـې وويني اوياپې له کاليو او عمومي قوارې څخه وپيژني.

لنگـري يا د پهيرمشر تورته ووېل: پـروزپر يـکړی په نظرنـه راځي! هغه چېـرې دی؟ کوم وخت چې مومرکبان باروﻻ هم مې ونه ليد. ببريزم چې پرمېنه باندې بيده نـه وي پاتې شـوی.

تور:

خوب چېرته کـوﻻی شي، لوږ لغـړدی، ساره بې دونو

esalat.org
www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

دپانو غوندې ریږدوي. برابې خوزما په‌خوا کې پروت واوهره بلا به یې اسویلـل اوویل به یې چې یوارخ یې اور او بل ارخ یې ساړه سوځي. دپښولـه چاودو څخه یې‌هم خورا شکایت‌کاوه. ګومان نه کـوم چې پرمینه دې بیده پاتې شوی وي. کوم بـل چیرته نه وي تلـلې؟.

لمرراوخوت اوتیه‌خانبت غوندې‌شو، خوبیاهم دپوزبریـکړې احوال معلوم نه شواو دده دبهیر اندیوالان مضطرب غوندې شول اوله یوه بل څخه یې به پوښتوپیل وکړ. یوه یوخ غوندې سړي تورته وویل چې:

برابې مابنام د( ګلان) دزوی خر ناڅاپه کللك ناروغه شو. یوڅه پرکـی( یو دول بوټـی دی ) یې ورو ایشا وداوبکې‌توی‌یې کړ، خو هغه هم فایده ونه کړه. پردې چې غریب‌مرداربدوته نژدې وخورادیر بې ژړل. نوته‌به‌یې پیژنې چې ګلان‌خودپوزبریـکړې لیرې غوندې ماما کیـږي. زما زړه دارا ته وایې چې هغه بـه یې سوکه خبرکـړی وي چې ورشي او دخره محرمن واړوي او بیا لـه هغه څخه دخپلو پښو د پاره سوګلې جوړې کړي.

تور دا یورته‌و ینا لنګري ته وکړه هغه ورتـه‌وویل:

کـاشکې دومره‌خوله وای چې دخپلو پښو چاره یې کړې وای. تـاسې نـوره پـوښتنه اوګـرویـږنـه هـم وکـړئ. زه‌داریـږم چـې ژوندی زانـی‌را څـخه ورك نـه شي.

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

3

ځکه چې د ګلان زوی هم سره له یو ځونورو څره ګانو موجود نه و نو ځکه د دوی یقین نور هم کلك شو چې پوز پریکړی به د څرمن د پاره ترشاباني شوی وي .

دپخوا په توګه قافلې تېر ماسپښين دبوي ښې چيني په شاو خوا کې وارول. ددوی دا مينه په بوه داسې ځای کې ده چې ددښنې غوندي ده خو لږ څه ارت څوپوتنې (غوندی) ښکاره کېږي چې ژېربخن رنګ لري اوبوتي اوغني نه لري. آسمان داسې دی لکه دمرغې سترګه - يعني نکی اوره باندې نه شته. داسې چوپه چو پياده چې ته به وايې په عمرو ، عمرو بنې ادم به دې ځای کې ګام نه دی ايښی - خو لکه دخرو هنګاری دا ژوروسکوت اودرنه آرامي لږ څه ماته کړي ، خو بيرته هماغه دول درونـدسکوت وغوربزي .

ما زيګر لمر لويـدو چې پوزپريکړی هم واغی. دبهير تول انديوا لان بې پـري خـوشالـه شول . لـه ده سره څلـور پنځه کسه نور هم ملګري وو. وروسته له تحقيق نه څرګند ه شوه چې دوی هغه خره نه ناست وو . ځکه چې خرنه مرداريده نودوی وځنديدل.

په دې کې تورته دا ورباده شوه چې « خرمرداريده نه ، سبې ځنې تلـه نـه » خورا خوشحاله وو چې دبېنو دپاره بې منه څرمن اړولې ده.
نور پري زغ کړ :

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

- لابقه! ناخو خبلې ښنې بتې کړې! اوس ستا کلفې سنن چې تل له ښنوڅخه ازغي په کازې مانه راکړه! ځکه چې ښنې مې له ازغو ډکې دي.

پوزپربکړې په داسې حال کې چې خورا ډیر بوتې پراوړواچول اولویه لمبه بې وکړه، ورته وویل:

- ته خو به موږ ټولوکې پاچا بې! په تاوده کوسې کې دې کو ناتې وکړل. ټوله شپه دې خرهاروي اوبیده بې. موږ د سړوله لاسه اللې وهو.

په دغه وخت کې دیوه بل بهیر یوسړی راغی او لنګري ته یې په یوه وارخطا غوندې لهجه وویل:

پرموږ کارکوونکو خوارانو، اسکیرلو، او پره‌و هره ورځ نوی ناورین لوېږي. اوس یوسړی راغی او یې وېل چې د دروازه ګی غره ته دغلوغدی راغلي ده او ټول غرتري نه ډک دی. خوشې لوړی بې د محرم ګانو څوبهیره وشکول اوهم یې مرګوپه کې وکړه.

د دې وینا په اورید و سره تور خپل کوسی سره را ټول کړ او نابیره یې ترخو له ووئل:

کوسی خووا الله که ورکړم چې شل تو تې مې لاهم کړي.

ددغه بهیر لنګري په یوه دروند او د ډزغ ورته وویل:

په ټوله قافله کې سرف دوه تبرا یې تو یک دي چې قافله نه شي به خوندي

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

کیدای. نبه بهداوي چي تر هغې پوري پر غوندی باندي ا وربل کړ و او څو کسه سره مرکه شي او بوه چاره وسنجوي، ځکه چي به قافله کي ډول نغښته چي د چیغې په غاره بي و وهو او خلك سره راتول کړو ـ نو ښه داده چي دوه دري ځایه دي ناره وشي چي دمرکي، سلاو مشوري د پاره دي خلك هابوري غوندی ته سره راټول شي.

ترغوني لانه وه خپره شوي چي دهغې غوندی په سر باندي څو دخولي دپر یکړي سري سره را ټول شول او دهغه سري داخبره بېي وڅیرله چي وبل بې : ددروازګي غرله غلو ډك دی . له د بروكښته او پورته ورو سته داسي فیصله وشوه چي لاره دي بدله شي او د ( لوی بند ) په لاره دي د ( توکرك ) له تنګي نه تیر شي او بیا دي نو د ( توبغي ) په غره ور واوري .

کـوم وخت چي د دروازګـي د غره سپي نه ور غلـل ـ هلتـه به نه اړوي او ټول شپه بـه مزل وهـي چي سبا نـه د خطر لـه منطقي نـه ډیـر لیري شوي وي .

سبا وختي بیا قافلـه بارشوه. دځینو خرو په غـاره چي زنګـولي ځړیدلي له هغو نه يې بیرته لیري کړي. پرلاري باندي تور خپلو نورو اندیو الانو ته وویل :

ـ که خدای زما دغه کوسی دغلوله تیري څخه وژغوري نو یو ښه نذر به ورکوم.

esalat.org

www.esalat.org

PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

په تېرو دریو څلورو منزلو کې به ځړه ګانو بدلې بللې چې لمړۍ توډشو نو ځای په یې اتهونه اچول، خونن تهول پته خوله روانېدي او هریو په خورا ژور فکر کې دوب دی. له عمومي وضعیت نه داسې څرګندېږي چې ته به وایې دا ټوله قافله د مرګ او نیستي ژورې ته درومي. د هر چا رنګ الوتی دی. که څه هم د دروازه ګی غره ته لا نه دیر واټن پاتې دی خو اوس لا د تیارښئ په حال کې لیدل کیږي.

تورلنګرې ته وویل:

- کوم وخت چې ما بچه ادا کوله نو موږ ته به یې ویل چې د خطر په وخت کې خپور کاږئ. تراوس هم دا ښه ده چې ډیری په یوه ځای سره لا ړ نه شي او څړه ګان تیت و پرک سره ولاړ شي. که چیرې نابېره شلیک را باندې وشي نو مرګو به ډېره نه وي.

لومړی تر هغه چې لنګري ځواب ورکړي - یوه بل ځړه ورته وویل:

- زه خو پر دې لاره تللی یم. دوه ځله غله را باندې پېښ شوي دي چې تښتي يې نه وه را پورې پرې ایښې. لاره اکثر په شیلو او درو کې وتلې ده. ځینې ځایونه خو لا د ومره تنګ وي چې یو، یو سړی پرې تیرېږي - هغه هم په خورا احتیاط. ځره به ترغوږ وا ولکیو نیسو او په بسم الله به یې تیر وو. مقصد دا دی چې د تیت تللو فرصت نشته.

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

تیر ماسپښین یا قافلې واړول. وروسته له یوڅه ځنډ نه دوه دري تنه مشران غونډي خلك دټوپکو چښتنانو ته ورغلل چي له هغوی سره د ځان د ساتني په شاو خوا کي خبري وکړي. یوه ټوپك والا ورته وویل:

- ټوپك مي دکار نه دی. کورمي څوك نه درلودل او په دي مي زړه غل و چي دا به څوك په زمي زموږ له کوره یوسي - نوځکه مي له ځان سره راواخیست. بي له دریو دا نو نور کارتوس هم نه لري. زما مقصددادی چي که مي چیرته داټوپك په څره بدل کړ اوهغه مي وچلاوه اوبو څه شی مي پري ومومند.

هغه بل ټوپك والاخبري ته ځان جوړاوه چي مشرانو ورته وویل:

- له نن ټوپکه ډیرکسان داریږي. نن ورځ په ټوله قافله کي بي ستا سوله د دوو ټوپکو نو بل ټوپك نشته. تاسي به ستو نوکري او پیاوري غونډي په ډگرو دریږئ او د دغو خلکو ددفاع او ځان ساتني د پاره ملا تینگه وتړئ!.

بیا مشرانو په خپل منځ کي لږ غونډي خبري سره وکړي. دا خبري تقریباً د بنهاري په توگه وي او وروسته یي بیا خپلي خبري داسي پېښي اوزدي کړي:

- که چیري تاسو ددي قافلي دساتني په لاره اوکوښښ کـــــي

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

توپکان بايلودل نو و پوهيږځ چي موږ به تاوان درکوو اودا پوربه تول درسره پريکوو. دا دميرانې دگردی او دتولوسترگي ستاسي خواته کږي دي.

په دې مجلس کې هغه سری هم ناست وچا چې په، توکرك ، کې دغلودموجوديت احوال راوړی و. دا سری بندخولې د پريکړي غوندي ښکاره کيده اومشوري بې هم ورکولي. ده ديوې پوښتني په ځواب کي وويل:

شکردی تول سره مسلمانان وروڼه يو. پخپله د .... اخوند مريد يم. پنځه وخته لمونځ اوادوس مې نه دی قضا کړی. تاسې ته مې ځکه دا احوال راوړ چې ځکه مسلمانان او سپيخلي پښتانه د غلو له ظلمه او تيري ځخه خلاص کړم او اوس هم له تاسو سره ځکه ځم چې تاسې ته لارښوونه وکړم. پرداسې سيمه مو بوزم چې ددغو ظالمانو له شره ځخه خلاص شی.

ددې سړي تکه توره ږيره وه. سپينه خو خورا خيرنه لنگوته يې پرسرباندې بې ترتيبه ولول اچولې وه. هره خبره چې کوي په کتاب بې استناد کوي. مثلاً هرځلې وايي :

«په کتاب کې يې راوړي دي چې داکار بايد داسې وشي.»

په دې باندې تول په تيره لارښوونکی خورا خوشاله شول چې

esalat.org
www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

دوارو تروپك والاو خپل چمتووالی څرګند کړ اوپه هسکه غاړه یې وویل چې دوی به دیرغل کوونکو په مقابل کې خپلې پښې کلکې کړي اوترڅو چې یې وس وي قافله به وژغوري .

لارښوونکي ددوی خبره غوږ کړه :

لوړی خوبه د خدای تعالی په فضل ګونډي د غلو له پېښېد لو څخه بیخي خلاص شو او خدا ی تعالی به مو دخپل کرم او احسان په جامه کې ونغاړي او ددوی مردار مخونه به پرته شي. خو که چیرته یا پېښ شول نو هیڅ ښیته البته نه شته اوباید بشپړ مقاومت وشي .

دلارښوونکي خوږو خبرو او دتروپك والاو زړور تیا دغه جرګه خوږا ښه اوخوشاله کړه اوپه ډېرو خوږو هیلو سره ولاړل . په دي مرکه اوجرګه کې دا هم فیصله شوه چې څروګان به وروسته له دي په لوړ ځای اور نه بلوي اوڅوچې یې وس وي په ژوروځا یو کې دي دغه کار کوي .

ګهیځ وختي دڅروګانو قافله په بیساري پټه خوله او بې له کومې لوړې ځوږې ولیږ دیدله.

دورځې یوولس نیمې بجې به وې چې څروګان اویو ځوځره بې چې موږ یې قافله بولو د غره په یوه تنګۍ را ګنبیوتل. ټول پټه خوله روان دي. داسې چې په چوپتیابې ده چې ته به وایې سړیواوخرو

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

ساوې نیولي دي او هیڅ ځرب نه اوریدل کیږي.

لومړی ترهغه چې قافله په تنګي را ګښیوزي نودواړه تهوپك والا په بیړه یو د تنګي یوې خـواړی ته اوبل یې دبلي خواړی ته وختل او هلته یوې لوبې تیزي ته کښیناستل.

ځره ګانو چې د غه وضعیت ولیدلږ څه زړه په تنوت او ځای په ځای د( هشه) زغ وا وریدل شو. خو سره لههغه هم کـه چیرې دسرې او یاخره پښه بـه لـه کـومې دبرې سره ومښتلـه سمدلاسه بـه دتهولو غوږونه بکښشول اوستر ګي به یې هغې خوا ته واوښتلې.

دا تنګی ښه اوږد غوندې دی. ځرو ګان تقریباً (١٥) دقیقې نو رهم بـه تنګي کې لاړل. له دوی سره وسـم پـه غتهو او ژورو باندې دواړه تهوپك والا روان دي. دوی کله دبرې ته ځانونه نهام کړي او کله بیا ښکاره شي. پههمدغه وخت کې و چې دچوړلي زغ شو اوسمدلاسه وربـې پهبوه پلا درب شو. تهول تنګی لهدوده دك شو اوغیغ ویغ جوړ شو. دخروهنګاری دسړو له زګیرو ي سره یـو ځای شوي اوهیڅ خواته دزغاستې لاره نهشته. ځوك د«الله اکبر» نارې وهي ، ځوك سوکه ، سوکه د «لا اله الا الله » کلمې وایې.

ځو دقیقې وروسته دود لږشانته خپور شو اوشاوخوا ورشو ښکاره شوه . په دغه وخت کې یوهیبتناك زغ واوریدل شو چې ویل یې :

esalat.org
www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

«ځاي په ځاى! هيڅوك بايد ونه ښوريږي! كه نه وي خون به بيا په خپله غاړه وى.»

كراره كراري شوه ـ ته به وايې چې ټول شيان بيرته عادي حالت ته را وګرځيدل. دبيري ځادر پرتهولوسا كښوخپور شو. ځيني بيسده شول اوځينو هيس كتل. بوځو ثانيې ورروسته بيا زغ شو:

«ولاړشى! بو دبل لاسونه سره وتړئ!»

هيڅوك په هيڅ نه پو هيدل. دتوپكانو په بروه پلادرب ټول كانه كړي دي اوسد يې لاسره تړي نه ايستلى دى.

تور سوكه يوه بل ځوره نه چې له ښې مت څخه يې وينو داري وهلي ـ وويل:

ـ دغلو غدى خوو ختله. خداى دې خير كړي. مالونه خوراپوري نه شته. خداى مو دي سرونو اوداغو ستوكوسيانو نه خير كړي. نه پوهيږم چې دا به دكوم قوم غدى وي ـ له زغ څخه يې معلوميږي چې د (وزيرو) تاراك دى.

زګيروي هرلوري ته لږ څه په زوره غوندې شول. ځوك وايي:

«دخداى دپاره يو غرپ اوبه را كړئ! «ځوك وايي: «وى ادې مرشوم»

ځوك لږ څه په زوره وايي: «ياخپله پيره! را ورسيږي، دغه دي دمدت وخت دى!.»

په دې وخت كې دتو پكه دتكه زغ شواو وربې بل شلېك وركړ شو

خوداځلي مردك دقافلې خواته نغرا ځي. ژر ځرگنده شوه چې هغو دووتوپك والاوپر غلوتكان وكړل. خوتقريباً نيم ساعت لانه وتيرشوى چې غلو دهغو دوارو توپك والاو ټوپكان ونيول، ځكه چې دهغوى ځو، ځوداني كارتوس چې ورسره وو-تمام شول.

وروسته له هغه بيا يوويرووونكى زغ پورته شو: «ټول ځرگان يوه ځاى ته سره راټول شئ!» اوسمدلاسه دكانو درا گيليدو ځرپهار شو او د غدى ځخه دوه كسه دراشيوه كيد و په حال كې وليدل شول.

كوم وخت چې لاندې تنگي ته را نژدې شول نويو ځل بيې بيا نوك ونيو او ديوې لوبې تيزې شاوخواته يې ځاى ونيواو شاوخوا يې ښه ځاروكړ. ځو دقيقې وروسته له پاسه زغ پروشو چې: «ځوك نه شته زړور كوز شئ!.»

دغه دواړه غله زلميان ښكاري خو ددوى كالي هم براڼگې، براڼگې دي. دوارو په ټښو كې غم وانبه ترلي دي. خو ددوى د كارتوسو قطارونه چې ترملا بيې ترلي او پراوزو بيې را اچولي دي - خورا ويرووونكې او په عين حال كې ښكلې ايسي. دوى لږ ځه په زوره او آمرانه لهجه زغ كړ چې «ټول ځرگان دې په يوه گوټ كې سره راټول شي چې دوئ يې تلاشي وكړي».

كوم وخت چې دوى ټول حاضر كسان تلاشي كړل - بيا يې ورزغ

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

کړ چې اوس دوایی سری اودوایی شیکې پاته نه دی. بیادا نور غله هم له ژیوځه راځورشول. ددوی شمیر (١٥) کسوته رسیږي چې لس تنه یې ټوپك والا دي او پنځه تنه یې په دوه لاسه دي- یعني غیرمسلح دي.

زیاتره غله زیري لري اومولونه یې وهلي دي. یو یکې مشر ځرګند یږي چې د هغه په غاړه د یوې خورا خیرنې ځرمنې بوکوچنۍ بکس دی چې تسمه یې د کارتوسونو قطاروزمې لاندې تیرشوي ده. په دې کوچنې بکس کې وظیفات «دلایل الخیرات» ایښودل شوی دی.

دغلو مشر یوه ځړه ته د خوا خوږی غوندې په زغ وویل:

- زلمیه! زیاتې مه بیریږه! ته اویو بل ځړه هغه کسان سره راټول کړئ چې دلومړي شلیك په اثرمړه اوزوبل شوي دي. ټول دغه ډول کسان د هغې پورې خوا د نریسو اوبو پرغاړه کیږدئ. ځوك که او به غواړي وربې کړئ چې خواران تږي ترد نیا تیر نه شي!.

په داسې حال کې چې ټوپك والا غله ورته شاوخوا کېیناستل هغو پنځو کسانو چې به تشو لاسوو د ځړه ګا نو په بیا تلاشي کولو پیل وکړ. دوی به لومړی دلنګوټو دسر په شملو کې کتل اوبیا به یې ترملا لاسونه ورتیر کړل. وروسته به یې په سرونځو کې ګوتې وروهلې. دغه ټول عملیات چې تکمیل شول نوبیا یوه غله زغ کړ:

- «دو دی تړې نه راټوله کړئ چې وزې یو!». یوه بل غله ورته وویل:

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

«تاسي وګورئ که د چابنه لنګوته ، نبي موچني اوبا کوټ او کوسی ورسره وي هغه تري نه را واخلئ !».

ددي قافلې دخلکو ټول شمیر چاته معلوم نه و، خو کوم وخت چې دوی دغلو لهخوا دنورې تلاشي دپاره قطار ودرول شول ، نوتور ددوی په شمیرلو پیل وکړ چې دهغوی دټولو شمیر (۲٦۰) تنه و چې پههغوی کې لس کلن ، دوولس کلن هلکان هم وو.

دغلو دلومړي شلیک په اثر دوه تنه مړه او شپږتنه ټپیان شوي وو دري خره هم لګیدلي وو. په زخمیانو کې پوزپریکړی اولنګري هم شامل وو.

نورخان بختورګانه چې لهدې بدمرغۍ پیښې څخه ژوندی راووت.

دغلو نه هغه سړي چې (دلائل الخیرات) شریف یې په څنګ کې و وویل :

- هلکو ! سپک کالي درټول کړئ اوتر درنو شیانو لکه اوره او نور مهلاندې کیږئ ! چې بیابې وړای نهشو. دغومره اوره درواخلئ چې زموږ ددوو شپو مړی کیږي، ځکه وروسته لههغهبهدپوونده و کلي راشي او بیا به له هغو څخه بنه ډیر اوره اوبوده ګان بوزو، ځکه چې هغوی ماره خلک دي. دغه خواران خوخرهګان دي - یعني پهدوه لاسه دي څه پوري نښته .

د غلو مشر په دې خوا په قهر دی چې هغه د وه تنه تو پك والا ځره‌ګان ژوندي زاني ځني ورك شول ، خو په دې بې بیا زړه ښه و چې هغوی دوا ړو توپکونه غوړځولي ا و غلو ته په لاس ورغلي دي.

بیا غلو په انفرادي صورت د ځره‌ګا نو په ډله کې نظر واچاوه اوهر یوه لاس وینې کولې چې ګوندې یو ښه په زړه پورې شی مونده کړي! یوه غله د تور کوسي ته لاس ورواچاوه ، خو تور هغه پر ځان سره راټینګ کړ او ورته یې وویل :

« دا کوسی خو والله که د ژړکړم چې سمدلاسه مې پرې مرهم کړي ځکه که دې د غه کوسی را ځخه یوړ ، هرومرو به له سره مړشم نو تر دې دا ښه ده چې لومړی ما مړ کړې او بیا کوسی را ځخه واخلې »

دوی دواړو لاسونه سره واچول . غله توپك له اوږ ونه پرې را خلاص کړ او غوښتل یې چې ځای پر ځای یې کړي ، خو دیوه بل غله وږبام شو او خپل ملګري ته یې وویل :

ـ پر څه یې وژنې ؟

ـ دا کوسی نه را کوي

ـ خدای دې خوار کړه ! نه په خپله سړی دی او نه یې دغه کوسی په دغه مردکا رزي چې نه یې اوس پر ځالي کول غواړې ، ته دا ینې ، پینې کوسی څه کوې ؟ او څه دول یې وړل غواړې ؟ که دې په خپله دغه ځره‌ته

خواشنه ده ـ نو په تیزو یې مردار کړه ، خوکوسی مه ځینې را اخله
ځان په دغه ډول شیانو باندې مه درنوه! خدای مهربانه دی بنه غوره ګوله
بـه خولې ته راشي.

په تولـه قافلـه کې یوازې دغلو زغ اوریـدل کېږي چې چا تـه ښکنځل
کوي او ځوك تهدید وي چې روپۍ ورکړي.

تقریباً د ورځې یو بجه ده او دغلو مشر زغ وکړ :

هلکو! بس دی. له قافلې څخه تول بیرته راووزئ ناوخته کېږي!
دوی واره پای لوچه خلك دي چې هیڅ پوري نه شته ـ دوایي وایي شی مو
څخې راتول کړچې بیا به یې په نامنسره وویشو. زیاتي مرګوهم مه
کوئ! بې ځایه خلك مه وژنـئ! الـه خدا یه داربنه دی.

له لږ څه ځند نه وروسته یې وویل :

عمره ګانو! بخښنه به راته کوئ. موږ هم مجبور یو ـ خپلو عیالو او کهولو
په سر واخیستي یو. دو دی غواړي، نفقه غواړي، کـه نه وي موږ هم بنه
پو هیږو چې دا کار رنه نـا روا او ناوړه دي، خو درب دربار لوی دی
ګوندي توبه مو قبوله شي او مو بخښي. تاسو ته دي خدای په کوز ملك
کې بنه خواري درمونده کړي او کوم وخت چې لـه هغې خوا راځئ
نو یقین دی چې زموږ غوندې غلـه به مو نه شکوي . خپل مري بنخ کړئ
خدای دې پرې ورحمیږي .

esalat.org

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

نور بـه دغه وخت کې څیرشواو هغه لارښوونکې یې ولید چې
هغه د دوی د قافلې لارښوونـه کـوله . ده هم نه دیر کالي سره
را غوند کړي اوهغه یې پهیوه وابنکي سره ترل چې بیایې شاته واچوي.
دنـور زړه طا قت ونه کړ اوله نـوړو څرمه ګانو څخه ورته راتیر شو
اوبه یوه مسخره نا که لهجه یې ورته وویل :
– نه زموز لارښوونکې نه وې؟ اوس داسې څرګندیزي چې دغلو
ملګرى یې! اوکه زما سترګې ما غلطوي اوته بل څوك یې ؟ تاخو
خورا غتې ، غتې خبرې او مثلې کـولې او اوزد ه ، اوزده لمو نځونه
او نفلونه دې هم کول. اوس څه درپېښ ول چې دغلو په غدی کې شامل یې ؟
لومړى تر هغه چې دغه سړى ځواب ورکړي ، دغلو مشر په پسخند وویل:
– څوك چې دغسې ونه کړي او دبسه په پوست ځان نه نه باسي نوبیا
موز کله دغه دول ښکار کولا ى شو. دا خو دهمدغه سړي بر کت و
چې زموز دټولو خولې ته یې ښکار راوست او اوس هم موز هریو
دهغه ښکار په خوړلو بوخت یو. خـو دغه باید ووایم چې دغه خرس
څرك نه چاغ ښکا ر نه دی راوستی. خوښې خواز اوتش هدونـه
یاست ـ څه درپوري نشته.
دنور نابیره پرخـوله راغله: «خواره وزیه ! څه به وخوري دسپوی
له سزیه .» ؟

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

دتور دلنگوتي لـه شملي ځخه غلو هغه لس روپۍ هم خلاصي کړې ـ کومي چي ده په خورا احتياط اومينه ساتلي وې او د هغه له خرڅولو ځخه يې تل لاس اړاوه. په دې ډير ارمان ورته چې ولې يې پههغورېو وندی نه کوله او ځان يې په غوښونه مړاوه. اوبيا ده سوکه له ځان سره وويل: ښه يې وېلي دي چې (سپمولي سپو خوړلي بيا که يې مرغه مونده کړل په نس به يې خورم. دادخپل نس آزارو وهلم.

دتپيانو زګيروي دي اوپه خورا نامرتبه ډول دنړ بو اوبوپرغاري پراته دي. ددوی دوای، وای، واخ، مرشوم، ناري سوري دغلو پـراعصابو دومره بې اغيزې دي چې کورت يې پـه زړو کـې دا نه ورتيربزي چې څه معامله ده او څوك دڅه دپاره ولـې فرياد ونه کوي.

هغه دوه کسه چې دغلو مشر دمړو اوتپيانو دزيرمي دپاره مقرر کړي دي هغوی لـه کوکې دوري رادروي پردوی ګرزي. دچا سر پورته کړي او په غبرګـه کـې يو څه اوبه په حلق کـې ور وڅښوي. دوهم سړی خوبې زړې موچني لري. هغه بيا په موچنه کې اوبه ور واخلي اوتپيانو ته يې په خولـه کـې ورتويې کړي.

دغلو مشر ونورو غلو ته وويل:

ـ ټول کالي پر واخلئ! اوهغو اړبونه درځئ!. هلته به دمړو او تپيانو په جيبو، سر ونځو او ملا وکـې هم وګورو ـ ګرندي يو څه د وايـی شي

نور هم مونده کړو. وروسته له هغه به پرچینه باندې اودسونه هم تازه کړواوبیا به لمونځونه وکړو او بیا به پسې درومو.

دچینې پرغاړه یوه تپې چې له ډیرو دردو دلاسه یې مرګ غوښت غلوته دزګیروي په حال کې وویل :

- تاسو چې داسې کارونه او ناحقه مرګو کوئ بیا نو دا لمونځونه ولې کوئ؟.

یو مغله به څورا وچ زغ ورته وویل :

- داناغیرې پریږده! که دي ځان له غارې وي ما نه ووایه چې دستې دې له دغه عذابه خلاص کړم ! ستاسې بې زموږ په غلا او لمونځونو څه؟خدای دې خوار کړه! ته غوارې چې بیخي (سره کافران)شو؟.

دغلو مشر دوو حاضرو ځړه ګا نو ته وویل :

- ورشئ! څوتنه نور ځړه ګان اوځره راولئ او خپل مري اوزخمیان مو له دغه ځای نه یوسئ! . پورته یوه بله چینه ده. هلته به واروئ اودخپلو ځپل شویو ملګرو زیرمه به وکړئ! . دغه ځای موږ ته پریږدئ چې موږ دلته کالې سره وویشو او ځانونه هوسا کړواوهم اودسونه او لمونځونه وکړو.

په قافله کې چې کوم واړه هلکان وو هغوی هم بیرې دومره سره پیچلې ووچې زبون یې وهل شوی و او هیڅ زغ یې نه شوکولای.

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

هر یو هیښ پیښ غونډۍ ښکاري او یو بل ته رډ، رډ سره ګوري او هیڅ نه پوهیږي چې له کومې خوا راتللو او کومې خوا ته درومو.

په دغه تنګۍ کې د کال په دغه موسم کې هیڅ او به نه ځي، خولوبې او ورې ښوی تیزې هر چیرته پرتې دي چې دتنګ او ر اتنګ په اړسپینې غونډۍ بر یښي ـ یعنې لاره پرښکاره ده.

نژدې دوې بجې وې چې دځمره ګانو خوارانو او بیوزلو خلکو قافله هغې بلې چینې ته لاړه او سمد لاسه یې واړول. څه لږ وخت وروسته هغه سړي او خره هم یې وررسیدل چې دمړو او ټپیانو د را وړلو دپاره وروسته پاتې شوي وو.

دیرځمره ګان چې ترخوله یې تنګ نه خوت پرمړو او زخمیانو سر هرا تېول شول چې هغوی وپیژني. هر چا چې به خپل مړی او زخمي وپیژنده، ترخوله به یې لوبه کړیږه پورته شوه چې ددغونوروسترګې به یې پامه ورواوښتلې.

دتور دبهیر لنګري تور او نورو ملګرو ته وویل:

ـ پوز پر یکړی خوارکي ډیر په عذاب دی. ګومان نه کیږي چې تر ډیره دې ژوندی پاتې شي، ځکه چې خورا ډیره وینه یې له تېتر نه ولاړه. تاسې یې یوې ګوښې ته کښیږدئ او پوښتنه ورځنې وکړئ چې وصیت کوي او که یه؟ که یې پر چاڅه باندې وي او یا دچاڅه پر باندې وي هغه دې روا یې چې غاړې یې خلاصې شي او هم چا ته ووایاست چې

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

(یاسین شریف) پسې ووايي.

لوږه اوتنده دهرچا هیره وه هیڅوك په ستريا نه پوهیده. ځکه چي غم او ببري دومره په سر اخستي وو چي هیڅ شي ته يې پام نه و اوهرچا يوازي خپل ژوند غوښت اوبس.

بوه ملا وشمه مړه زغ کړ:

دا مړه شوي مړه گان ټول شهیدان دي. نه همد غه کبله نور هیڅ مراسم نه غواړي- بايد په خپلو کالیو کې شا مې پري جوړي شي. زه خو وايم چي څلورواړه واکه يوه (بوږ پر يکړي) هم تيره کړه نو پنځه واړه دي په يوه ځاى کې ښخ کړلشي. دغه کسان بختور دي چي د شهادت مرينه يې په برخه شوه.

دمړو او ټپيانو خپلوخپلوانو اونوروملګو کسانو چي په زړه خو را نرم دي سوك ، سوك جوړ کړ- دا ځکه چي په دوى لږ څه سا ننوتله او احساس يې وکړ چي څه پيښه شوي ده او په څه دول او ولي يې خپل خوارزه ورونه او خپلوان د لاسه ايستلي دي:

تور لنگري ته چي تيي شوى دى خو تپ يې په غوښه کې دى له مېني به دك زغ ووېل :

که چيري په سمه لويه لاره تللي واى او ددروازه گى د عمومي لاري څخه مو پټي نه واى بدلي کړي-گوندي د غه حال به نه واى

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

را باندې راغلی. خدای دې هغه ځرك پخپل غضب آخته کړي - موږ بې په دې ژوره دولـه کې واچولو. موږ دهغه په ظاهر ي ښه او خبرو اوحرکاتو وغولید لو. هیڅ غنه دومره زړه اوترخه رویه دهیچا سره ونه کړه لکـه هما غه لمونځ غاړي او پهظاهره ښه سړي چې لـه قافلې وا لاوسره وکړه او ...

په دغه وخت کې یـوه راز غ کړه:

- پوز پربکړې خوارکـي تیره کړه. خدای دې وبخښي. ښه‌سړی و خوناوې یې پاته شوه. خدای دې یې دهغه جهان له نعمتو څخه‌محروم نه کړي. خوږه‌شي یې ماته ډېر زور راکړ هغه‌دا چې دخوارکي غوږونه یې ورر ولـي دي. دده دسپینو زرولښتی یې تري نه په زورکش کړي ده او د دوارو غوږو پستې برخې یې هم ورسره ور ر ولـي دي.

تور دلنګري خبره چې په زګیرو یې کوله‌غوخه کړه:

- ماپخپلو سترګوولیدچې هماغه (ځرك) خدای وهلی زما په‌خوا زه پوزپربکړي ملګري پورې ځړیده. زما بشپړ یقین دی چې دغه کار هماغه په زړه تور ځرك کړی دی. دغوږونو لښتی پر ده‌باندې خورا ګراني وې، ځکه چې دا لښتی دده پیغلې ده‌ته دوه کاله‌لومړی ورکړې وې چې پر یاد وي یې. زیری ماز یګر شو. ځره ګان لږ څه سره‌وښوریدل. مشرانو پر هلـکانو زغ کړ چې بیا تیاره کېږي باید ژر د مابنام پیلوزي برابر کړي که‌نه وي

ترسهاره پورې به یې سارهوج کلک کړي. څو دقیقې وروسته کېږی واخېستلې شوې او دمر بهیر هلکان دتنګي د دوتهوختل او کړپ کړوپ جوړشو چې لږ ځه بې د قافلې د ژوند طبیعي حالت ځرګنداوه.

لنګري خپلو اندیوالانو ته وویل چې په هره توګه که کېږي باید ژر اوړ وربل کړي چې لږ ځه نوړ شي. کوم وخت چې نوړ ور ته لمبه وکړه او دده پر تلنګ برسېره یې خپل کسوسی هم په سر او اوږو ور وا چاوه نو لنګري په داسې حال کې چې د دوارو خپرو به ذریعه یې د اور د تودوخې په مقابل کې له خپل مخ نه مدافعه کوله ـ خپلو حاضرو اندیوالانو ته وویل:

ـ که موږ د دروازه ګې دغره لار غوره کړی وای، نو هلته هم بې خه نه پاتې کیدلو ـ ځکه چې هغه غرهم دبل قوم غدی نیولی و. په دروازه ګی کې به دغو غدیو دغه ځرک هم خبرو ـ ځکه زموږ مخې ته راغی چې موږ په لوی لاس لههغې خوا را وګرزوي او د خپل ځان پر خوا مو ولیږدوي ـ خو اوس زړونه مه اچوئ او خدای ته صبر وکړئ به مخ د رځئ !.

ځکه چې ټوله قافله په هما غه تنګي کې ده، نو بهیر ونو ټولو نژدې، نژدې سره اړولي دي او دومره سره نژد ې دي چې نه به وایې ټول په یوه خونه کې دي. زیاتره بهیرونه یو د بل خبرې که څه هم خورا سوکه وې ـ اوري.

په دغه وخت کې د شهیدانو د پاره قبرونه جوړشول او تـهـولـو څرمګانو دهغوی د ښخولو په مراسمو کې په خوراتأ ثر اوخوا شینۍ برخـه واخیستله. دغه مراسم نسبت عادي مراسموته هیڅ شی نه وو، فقط مړی به یې په څولۍ کې اخیست اوپخپلو کالیوکې به یې ښخا وه.

یومړي یوه له پینو دکمسدری اغوستي وه چې هغه هم په مردکو سوری سوری شوي وه، نو دهغه خپل هغه ور څنې وکښله او بیا یې نوشهیدښخ کړ.

لومړی ترهغه چې مړي ښخ شي څینو څرمګانو داسې آواز مخپره کړه چې ګوا کې قافله بیرته کورونه ګرزي او خپل مړي او تپیان رسول غواړي.

خو دمشرانو او کشرانو دمرکې په اثر داسې فیصله وشوه چې هر څه چې پیښه شوه هغه پیښه شوه. اوس باید په شا ونه ګرزي - صرف هغه تپیان چې خپل بوده لري او بیا یې مونډلای شي کولای شي چې بیرته وګرزي - خو یو ه بل مشر وویل:

- پنځه زرورو مزلونه د یوه وړوکي ښارپوري چې (بازارګی) یې بـولـي شته او تقریباً څلور مزلونه تر کورونو پوري شته. که چیرته کوروتـه لاړ شي نو هلته د تپیانو دپـاره دارو درمل نه مونده کیږي خـو بـه دا پورته ښارکې ممکنه ده چې د دوی دارو اودرمـل او روغیدل نسبتاً په آساني سره وشي. نو زما خپل زړه دا راته وایـي چې که موږ په مخ لاړ شو ډیر امکان شته چې موږ دې خیر ومومو.

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

بیا همدغه سري پخپلو څو نورو اندیوالانو په دغه نسبت منت وکړ چي ولي دتپیانو اود هغوی د خپلوانو زړونه وراچوي؟ د دي پرځای چي په هغوی کي نوی زړه اولوړ روح ننباسي د هغوی زړونه لاپسي کاږي او په ټوله قافله کي ماتي ګډوي.

دنوردبهیرلنګري چي د اوږدیوه پیټي‌ته بي شالګوټي اوڅانبي په ټلنګ اوګورپه کوسي کي خورا کلک نغښتی و او یوه ټکه توره چای جوشه بي له مخي ورته پرته وه ـ وویل:

ـ زه په‌دي لاره باندي څوځله تیرشوی یم اوبوتي پـه بوتي او کاڼي په کاڼي راته معلومه ده ـ شاوخوا پردوه مزله هیڅ وداني نشته او اوبه هم نه موندل کیږي. زموږ اوستاسي مزلونه وار په وار پسي اوږدیږي ځکه‌موږباید هرو مروهره ورځ داوبوچینواویاخاګانوته‌ځانونه‌ورسوو. دهربهیرځړه‌ګان باید دیوه،یوه خوه پیټي پخپل منځ کي سره وویشي اوبه شاید یوسي چي هغه خر دیوه تپي د ورلو دپاره و تاکل شي. زه خو پخپله خپل شین خر دځان د پاره تشوم ، باربي باید اندیوالان یوسي. همدا دول هیله ده چي نور ځړه‌ګان هم دخپلو تپیانو غم وخوري. ځکه‌چي قافله وداني څخه ډیره رالیري شوي ده‌اوشاوخوا هیڅ‌کلي نشته،نوځړه ګان هیڅ وندی هم نه‌شي کولای ـ په تیره بیا تپیان خورا په عذاب دي اوهرڅوک لږ څه خوځېګي ته په تلوسه دي.

esalat.org
www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

بوه.بل ځړه چې هغه زغیدونکی غوندې سری و ـ زغ کړ:

په‌دې برخه کې دېرسره وزغیدلو ـ اوس نوغوته خبره داسې ده چې بايد هيڅوك په شا لاړنـه شي او لـكه د پخوا په شان بهاروختي به په‌مخ ليږدو. زه‌دا د درکوم چې دريمه ورځ به د ونوبې‌غره ته شيوه شو او‌هلته ځای په ځای ودا نې‌شته. کوم خراويا نورځه وتري به‌خرخ کړواوخپلـو تيـانوته بـه‌كه ترهغه ځای پـوري ژوندي باتي شول بـه وندی ور وکړو.

تورلنگري ته وويـل :

غلوولي خرونه بيول چې به‌نورو سپکوکالو اونغدو روپو پسې گرزيدل؟ دوی دې خدای خوارکړي ـ زما خو بې لاس راپه‌خوله کړاوهغه‌ځوغرانونه چې را سره و و ـ هغه يې رانه واخيستل. هغه‌بې‌خره اوزده کړه :

ـ وروره! ادوی خولـكه‌ليوان تل‌په‌غرواوراغوکې ښوري . هيڅكله‌په سمه‌لاره‌نه‌درومي. بوده‌گان‌خو‌په‌بې‌لاروخوړ واوراغونوکې تلای‌نه‌شي نوځکه بـې بونه تلل . که‌نه وي نوته ځه وايې چې دغوزږه را باندې سوځيده‌چې دا ځړه‌گان خواران به ځوری په ځه وري؟.

مانيام بيا بې له زبكواوزلميانونه بـل‌چا د دوی ځكه ونه کره لنگري تورته وويل:

ـ سبا بيا په تش نس‌مزل نه‌شو کولای ـ نوبيا ځو اود خپلو كا ك

اوپټيرو غم مو وخورئ!. زه خو دهيڅ منور نه يم اوخورا ګلپه سړه تبه هم را باندي راغلي ده.

تور په داسي حال کي چي د هر ځړه د اوړو له ځورو ځخه مو تېان دکول اود هرموټ سره يي بسم‌الله ويله اوبيا به يي په ځادر باندي اچول.- له لنګري ځخه پوښتنه وکړه :

– ځوکاله بخوا مم به «توکرک» کي پرموز دغلوغدی را پيښمشوي وه. هغو غلوهم را باندي تکان وکړل چي دوه دري کسه يي مړه اوژوبل کړل. زه دي ته حيران يم چي دغه غله ولي خلک وژني ؟ خو پرېږغ دي کړي چي تول ځای به ځای ودروي، وروسته له هغه چي تول يي وشکول بيا دي يي پرېږدي .

لنګری ورته وويل :

– نابير مشليک ځکه کوي چي دغره ګانو وابن وغوزي سره وکاږي اوله دوی ځخه زره وکاږي چي د ځان دساتني فکر ونه کړي اوتر يچيان يي هم کوم تکک ته موقع مونده نه کړي اوپه دغه تو ګه په آسانۍ سره د خلکو مال او اسباب سره راغوند کړي او دوسره تري نه يوسي چي ور لای يي شي. دوی دغه مالونه په کوم تهام خوراويټ ځای کي سره يو ځای کوي اوځه مو ده وروسته دپوونده و د اوښانو نا تار واخلي او پر هغوی باندي راغوند کړي کالي بار کړي او خپلو کوروته يي وړي.

✱ ✱ ✱

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

سبا قافله ناوخت چې لمر تقریباً دوې نیزې را پورته شوی و، بار شوه او داسې په پټه خوله ولیز دیدلـه چې تا به ویل هیڅ حرکت یکې نه شته. تېیان یې پر خرو بار کړل او نژدې یوه بجه وه چې قافله په متې له هغه تنګې نه یوې لورې ته راوخته وداسې یې خرګندوله چې اوس دغره نه را واوښتل خو کوم وخت چې پر دغې لورې باندې کوز شول ـ دوی بیا په بل تنګي کې سر خورې روان شول. زیاتر و ځروګانو ته دغه معلومه وه چې دغه تنګی دومره ډېر اوږد نه دی او ژر به بیا هوار دښت ته ورزي.

نور د نیرې ورځې صحنه ور پېره روکړه او په داسې حال چې پر لار روان دی دکاك یوه، یوه ژی دخپل ختدار څېز جیب څخه را کاږي او هغه خوري.

دی په یوه چاپسې ځارو دی چې هغه له ځیاز ورکړي. دی تل د دو دی سره دیاز و په خورلو خیالي خوندو نه اخلي او هغه دنړي له خورا ښو او په زړه پورې نعمتو څخه ګڼي. کوم وخت چې نور دخپل کوسې په خصوص کې خپل تېنګار ورپه زړه کړ او هغه یې غلته نه ورکاوه ـ له یېرې ورېږ دېده او ځان یې ډېر بیعقل ګاڼه چې نژدې یې دکوسي په مقابل کې ځان بایللی و.

دغره د دې برخې تېزې نکې شنې ښکارېږي. دغره هغې بلې برخې یو څه د زرګوبوتې درلودل او هم یې ځینې ځایونو په لورو ارخوکې ونې درلودې. خودې خواته چې دسهیل خوا بلله کیږي، هیڅ نه شته اوتر کوم پورې چې نظر کار کوي کوم شین بوټی په نظر نه را ځي.

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

ن په آسمان باندې غټ اوره دي. کله لمر پټ کړي او کله بیا ښکاره شي. ورخ هم تر ښخوا سره غوندې ده او د هر چا ساړه کیږي.

مجرګان له دې کبله چې دغه دا ارخ بوتې او ونې نه لري او سپین نه دی په عذاب دي او د اورونو د بلولو دپاره په آساني لرګي لاس ته نه شي راوستلای

په زګیرونو کې وا یي: «وای له سرونه مړ شوم». په تیره بیا د تپیانو زګیروي چې د هر اوریدونکي زړه ماتوي. هر څوك دي ته هڅه کوي چې ژر په ګټو بوتوکې واروي او تپیانو ته اورونه بل کړي.

ماسپښین نژدې دوی پلنه شپې ته چې بوخولوړي او ژوري بې دراو دلې - و وتل او چې چینه او ښته مرغه بې ولیدله - پروایې دول. په دغه وخت کې نور لنګري ته وویل :

— ته خوشکر دی تر تپولو نورو تپیانو ښه او تکړه ایسې ! او ښه دې هم مخ په ښه کیدو ده ! . خدای دې ژر راروغ کړه ! زموږ د بهیر ساته وې له کومه وخته چې لګیدلی یې زموږ د بهیر بوه چاره هم په زړه پوري نه ده، په تیره بیا له هغه وخته چې پرخره باندې ته سپر یږي او موږ خپل څوري په شا وړو - خورا په عذاب یو.

مابنام لکه د پخوا شپو په شان د اورونو په شاوخوا کې ګڼ شمیر محرګان نه لیدل کیږي . په هر چا سر محر یږي. نه څوك کسرونه وايې او نه لندۍ یا غرانګي څکوي . اورونه هم دومره دېر نه دي لکه پخوا

لوی علت بې دا هم دی چې دې خواته بوټي نشته.

شاوخوا هیڅ ودانۍ نشته . لنګري دځپلوخبرو په ترڅ کې وویل:
ورم کال په همدې مېنه باندې دغلو غدی را باندې ختلې وه .
هغوی لږ ځه‌نبه وو. نابېره یې شلیک ونه کړ. لوړ ماز یګر وچې شاوخوا را
باندې تا وشول اوبیابې ټوله قافله په‌بوره زره وشکوله. قافلې والا هم
ورځنې خوشاله وه چې بې ځایه مرګوبې ونه کړه.

بله‌ورځ سهار نه‌نا وځته غځره‌ګانبیا ولیږدېدل. دوی دېخوا پهشان مات
اوګود کیدل. دا مزل یې خورا سخت شو ځکه‌دا ټول بتې بیدیاوه
اوهیڅیرې اوبه موجودې نه وې. نکنده غرمه قافله په متې یو ځای
ته راغله چې هلته دوه ګروبه شوې ځاهان وو. دغه ځای ته بې
«دلیوه ځاهان» ویل . اوبه یې داسې خوږې وې لکه ددوبې وسه چې
په کنبورتلې وې . په دغو او بوکې چینجی او د چونګنبوژوندی
تخم له ورایه ځرګندیدل. غځره ګانو همدغه اوبه داسې چښلې لکه
د انارو شربت. د دغو اوبو خوند خورا تریخ و. قافلې سمدلاسه
همدلته واړول، ځکه چې په مخ کې بیا تر ډیرو پورې اوبه نه پیدا کیدلې.
نوردد غو نورو زیاتر و غځره‌ګانو پهشان دغه‌مزلونه اوکارونه په‌ییلو ېښو
کوې. له نور سره د ډیرو کسانو کست (قصد) اوکینه ځکه کیږي چې
کوسی لرې اومانیام یې شا او مخ اورنه وړې . پرنتې مېنه باندې اوړونه

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

خورا ډیر دي او بله دا چې خره ګان نسبتاً خوشاله غونډې ښکاري.

لنګري تورته وویل :

که مو سبا له وسه پوره شوه چې یو ښه اوږد مزل وکړو نو ښه به هیله ده چې د تو بې دغه لمنې ته ورسېږو. توبه ودان ځای دی او هر چیرې ودانۍ ده. ګونډې یو پسه مونده شي چې وندی وکړو. زه خو اوس خورا زېره خوږی شوی یم. یوې تو نې غونډې ته مې زړه تسيا کیږي. له (توبې) څخه که خدای کول شپه پر لاري بله اوچته بازارګۍ نه ده چې هلته ګونډې څه دوا او درمل رابانديې وکړي.

په دې وخت کې دغه خره ګانو خوږ دیر شو اولړه ګړی وروسته څرګنده شوه چې له تپیانو څخه دوو نورو کسانو هم تیره کړه. دغه دواړه تپیان خورا ښکلي او له زړه ډك زلمیان وو. ددوی مرګ په ټولو خره ګانو کې زوره اغیزه وکړه. د اکثرو خره ګانو دا هیله وه چې دوی به جوړ شي خو له بده مرغه د دوی پرهارونه پر بدو پېې واوښتل. دغه دواړه زلمیان يې هلته شامي کړل.

هوا ورځ په ورځ سړیږي. نن تر هرې پخوانۍ شپې ساړه ډیر دي. دې ویرې چې واوره وربانديې ونه ووري، ټول خوا شیني کړي دي. په اصطلاح «له ډیرې خواشینی» د هیڅ په خوله ګوته نه نیوزي» دا ځکه چې تقریباً هر یوه دغه ډول تجربه کړې ده او تر واورو لاندې شوی و

چې پهخورا تکلیف او ډیر ربړ ګا للو خلاص شوي و.

لـه کـومې ورځې څـخه چې لنګـري تېـې شـوی دی د بهـیر زیرمه د تور په غاړه ده او د لنګري په اشاره دا کار په اوچتوالي کوي ـ ځکه د بهیر د ډیرو ملګرو زړونه ساړه او غمجن دي، نو د بهیر په کار و پسې دومره نه ګرځي. نو همدغه تو ردی چې هم اوره لمدوي او هم دود ی پخوي او هم بوټي راوړي. مقصد دی چانه نه وایـي چې دا وکړه یا هغه. تور هر هغه چانه چې دغسې حالت یې نه وي لیدلی ـ دا دګیرنه وکوي او وړته وایي چې پرز لمو کار کوونکو باندې دغسې پیښې راځي او باید په میړانه ورسره مقابله وشي.

ګهیځ نسبتاً وختي قافله ولیږدیدله او د تیلو دا په زړه کې ووچې باید ننن ډیر اوږد مزل وکـړي چې د (توبې) د دري خولې ته ورسیږي.

غـت ماز یګر ته نژدې دخره ګانو قافلې پر خپل مقصد ځای باندې وار ول. په دغو ورستیو دوو، دریو مزلو کې قافلې ته هیڅ ورک په مخه نه دي ورغلي ـ دا ځکه چې ټوله بتې بیدیا ده او هیڅ ډول وطني شاوخوا نشته.

ټکنده غرمې ته نژدې لنګري د خپل بهیر ملګرو ته وویل:

ـ دامانده چې ګورئ! دا زموږ او د کوز ملک تنګ دی. له دې ځای نه په ایسته موږ له خپل ملک نه د باندې درومو. خو دا باید وویل شي چې زموږ او ستاسو پښتنو ملک د لته و دان دی او موږ به تر څو

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

چې (سوی) نه وسیزو په ښځنې کلیوکې سفر کوو.

کوم وخت چې قافلې واړول، نوتورڅو نورو بهیر والاو نه په مینه او ملګرتیا وویل:

نن د آسمان وضعیت ښه نه بریښي. موږ اوتاسې باید خوراډیرې (ګرګې) ښې وچ لرګي را وړو. دلته د شنوو نې خوراډیرې دي. موږ کولای شو چې بې له ډیرزحمت نه ښه وچ اوحتی وراسته لرګي سره را ټول کړو....

لنګري دده خبره غوڅه کړه:

ـ دي نه د توبې غروابې. دلته پودوبې لا واوره اوري. که نه وئ اوس خود مې منخ بلل کیږي. په دغه غره کې دځړه ګانو ډیرې قافلې تر واورو لاندې شوي دي. نن به ډیر بوتې په اشرراوري.

د ژیرې مازیګرخواده. وریخ سپین وېره شوه. هرچانه دا یقین شو چې دا دول وریخ به نن شپه واوره و اوروي. دهر چاغوږ په هوادی. د واورې سوړ سیلاو لګیږي. ټول ځړه ګان تر تیاره ماښام پورې دبوټو په راوړلو بوخت وو نو ځکه تور دو دې نا وخته پخه کړه.

سرې ما ښام واورې په وریدلو پیل وکړ اوپه څپ څپ وریدله. که څه هم خورا لوی لوی اورونه هرچیرته بلیدل او ځړه ګان خور اېرتول وو او ځا نو نه یې تو دول. خو هیڅ ځوزنه و. چادا نه ویل چې دلته هم

خلک شته. دا سي څرګند يږي چي دغلو ترناراك د وا وري تا زا ك
دوی ډير غمجن کړي دي. د اور دلمبو په برهاري کي لنګري تورته
داسي ووېل :

ـ وروره! زما خوتهوله شاسرو يووره اومخ مي اور ـ کهيوه ګړی خپل
کوسی دي په اوزو را واچوي نو وبه وهېږه چي او وه جتونه به وګټي! تلنګ مي
دکار نه دي. واوره ړو وبليږي اوهغه يي لوندهم کړچي دسور سيلاو په اثر مي
په اوزو پوري بخي کيږي.

تور سمد لا سه خپل کوسی په هغه واغوست او د هغه تلنګ
بي اورته ونيوچي ور وچ يي کړي. خود واوري وريدل پسي
ډيرشول اوپرڅره ګانو باندي سملاسه دتوښ په اثر ويلي کيدله
اوتهول په دي يوخت روچي لومړی شا اوبيا مخ د اوردتوښ به واسطه
وچ کړي. دا بايد ووېل شي چي دغه عمل هم څره ګان ستړي
کړل او نور قوت ورته پاتي نه شوچي دغه کار يي اوزد کړي.

دا د اور لوبي لمبي هرجيرته ليدل کيږي اوڅره ګان يوله بله
سره نه وبني، خو په دي تهوله ورشوکي بي داورد لمبو نه بل څوز
اوبا زغ اوزوغ نه اوريدل کيږي. څرګنديږي چي هرڅا له څا نه لاس
پريمنځلي دي اودي طوفان ته تسليم شوي دي .

ډيره موده تيره نه شوه چي تورلنګري ته ووېل:

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

4

زما خو کمیس ا وکورتی همد غه کوسی دی. زما اوزې هم سرویوورې. که دې خو ښه وي زه به تاته په مڅکه کې اورته نژدې بوغاړ پرې کړم چې شا وخوا دې پکې خوندې شي اوبه کوسې کې به زه ده وارووم - هرڅه چې راباندې وشول نوکیږي به.

څکه چې مڅکه شګلنه وه نوکدی ښه نه شوخوهل کیدلای په دغه سبب دغاړ پرې کیدل دومره ګټور ثابت نه شول. په قافله کې نورو هم دغه ترتیب وازمویه، څوکومه به زره پورې نتیجه بې ورنه کړه.

د واورې دغه وربښت پسې اوزد شو اوتقریباً بیا دوه شپې اوورځې پر له پسې وریدله. د څړه ګانو د پر مخنګ لاره بې بنده کړه اوپر شاهم نه شوای خوزیدلای. کوم شی چې د څړه ګانو د نورې بدبختې موجب شو هغه دا وچې واورې دبوتو مخه هم تر پښو نه پته کړه. سرې به ویل چې دتوبې د غره په خواکې له سره لورې اوزورې وجود نه لرې اوهرڅه دلاس د ورغوې په شان هوار ښکاره کیده. هغه شی چې د څړه ګانو د دیر اضطراب اوخوا شینی موجب شوی و، هغه دا وچې د دوی څورې مخ په تمامیدو شول. نژدې کلې هم نشته. تقریباً هر چا ته معلومه وه چې یونیم مزل لیرې یو څو کوره دې چې دهغو مندوان هم خورا زاره او کندوالې غوندې شوې او دا هیله نه شي کیدا ی چې هغه کورونه دې له دوی سره د څورې له درکه کومه مرسته وکړا ی شي.

د وریدلي واوري آندازه ترز نګانه لږخه کښته وه.

دریمه ورځ چې آسمان شین شو په محرمګانو لږسا ننوتله. بوله بله بهیر نه‌نګ اورانګ په خورا زحمت شروع شو. دغه تنګ او را تنګ زیاتره د اورودپورولودباره کیده. پخې غرمې ته نژدې څرګنده شوه چې دپرله پسې واورې وریدلواودیخني په اثر درې تنه محرمګان مړه شوي دي اوهم پنځه‌محرمه مردارشوي دي.

دخروتلفات‌دمحرمګانو دپاره ډیره دخواشیني ورخبره وه. ځکه‌چې هرخره دشپږو، اوونو محرګانو خوړي ورل. خوله‌بلې‌خوا دهغوخرو محرمنو دډیرومحرمګانوپښې ورپښې کړې. خوالبته ډیرمحرمګان لا پیلي پښې پاتې وو.

په دغه ورځ دواورې دډیروالي په اثرمحرمګانو دلیږدیدلو هیڅ هڅه ونه کړه.

په را تلونکي ګهیځ‌هم مزل ته‌دومره مستعد نه وو. ځکه چې خوري مخ په تما میدو وواوتهول پرخپلوځانوبیریدل‌چې دلوږې نه مړه نه شي نوبیې په ټینګه عزم وکړچې تردې چې دلوږې نه‌ځای په ځای مړو نه‌داده چې د واورې په مزله کې مړه شوو.

ځینو کسانوچې‌سوګلې په‌پښو وې‌دهغوپرلینګیوبې زړې خوړګې اویا ځا حرا ن ور وپیچل او د قا فلې به محکې بې واجول چې دخپل

تنګ په اثرمند وکړي او په دغه ترتيب د نورو سربوا وخرو
د پاره لاره ورا نيزي . په قافله کې د يرخلك ييلې ښې دي.
تورهم څه په ښو کې نه لري. قافله لا لزواتن تللي نه ده چې د تولو
هغو خره ګانو ښې دواوري په اثرنګي سري واوښتلي چې ييلې وي.
لومړي بې سوى کاوه، وروسته بيابيدي شوې. دا تولوته څرګنده وه چې
دتوبې دغره تنګی ډيرليرې نه و. په دغه تنګي کې د کال په دغه
موسم کې او به لږ بهيږي. نوهر ييلي ښې والاسرى دې ته هوسيده چې
په دغو او بو کې مزل وکړي. او په دې توګه به دسرو څخه خلاص شي
خوتر څو چې دغواوبوته رسيدل. دا کثرو خره ګانو ښې وا وري يووړې
اوتګي سري لکه وله وينونه وکه غوښه وا وښتلي. څلورکسه بيا په
واوره کې ولويدل چې يوبې مړشو او درې نور بې کله په شااوکله
په خرو ورل کيدل .

که څه هم په دې تنګي کې د مېښتې د پاره ښه ښه ځا يونه شته
يعني ترلويو کا نهو او پرښولا ندې ښه ارت نهام او په زړه
پورې ځايونه دي چې هلته تول قافله ځايېدلاى شي، خوخره ګان له دې
دارنه چې څوري يې مخ په تماميدو دي اوددې خطرشته چې لوږه
دې وربا ندې راشي، نو ځکه اړولو ته زرونه نه شي ښه کولاى او په
هرقيمت چې کيږي بايد يو څه مخ په وراندې ولاړشي . په تيره بيا

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

په‌نر بو بهاندو اوبو کې تنګ هغوی ته خوند ورکړ اونسبتاً به ډېر مزل بې ووا هه .

د غره په تنګي کې واوره نسبتاً لږه وه اوبو تهي به ښکاره کېدل . دوی دغره تر بوې لوبې پرښې لا ندې چې بيخ بې ختلي و،وا ړول . له‌هغودر یو کس ځخه چې ښې بې واورو بیخي وړې وې اوهم سکاروي وهلي وو، يو بل مړ شو چې ځای په ځای بې شامي پرې جوړه کړه .

کوم وخت چې اوربل شو اولنګري دکا کو په پخولو پيل کا وه تورپه خورابه زړه وويل :

- زه خود غه کوسي له مرګ ځخه وژغورلم . که ځه هم ما په ده باندې سر کښېښو د اوغلوته مې ورنه کړ، خوده هم تقريباً په هماغه اندازه خدمت را نه وکړ . که مې د دغه کوسي له‌غوز وځخه يوځه نه وای پرې کړي او هغه مې په پښو کې تړلي نه وای - نوومنه چې زما پښې به له وخته په واوره کې پاتې شوې وای . دا ځکه‌چې زما پښې عسکري بوټا نو دا دول پښتي کړي وې چې د واورې طاقت بې په هيڅ توګه نه درلود .

لنګري ورته وويل :

- که ما چل دربښو دلای نه‌وای اولو مړ ی مې ، پښې دکوسي په‌کراسته کې او بيا مې دبنې په خوږګه کې د رنغښتې نه وای - نوومنه چې تا به هم ډېر زيان موندلای وا ی .

نور ورنه وویل:

که ما پرتا باندې په لومړي ورځ چې واورې پیل وکړ ستا د خپل خره ځل اچولی نه وای ـ نو زه منه چې ته به هم تر هغو واورو او یخنیو ژوندی راوتلی نه وای. که څه هم ستا خر به واوره او یخنۍ کې مردار شو، خو ته شکر وزغورل شوې.

دوی دواړو له د غو خبرونه خوند اخیست او په دې خوشال وو چې دوی له دغه آفت نه ژوندي را وتلي دي. خو ددوی نور انډیوالان دومره ډیر خوشاله نه وو ـ ځکه چې دچا پښې واورې وهلې وې او څوك سکار وې وهلي او بېسده پراته وو.

شپه په لاره ـ بله ورځ قافله د توبې دغره له تنګي څخه را و وتله او د هغه غره په جنوبي لمنو کې یې بوه کلي ته نژدې چې (برښاره) نومیده ـ واړول.

په د غو برخو کې واوره نشته او لمر هم تود غوندې دی ـ چې د ټولو دخوشالي موجب دی.

د زیاتر وڅره ګانو څوري تمام شوي وو او هم ټول خوړا زره خوږي شوي وو.

لنګري او همدا دول څو نور مخور کسان د غه کلي ته ورغلل چې بو، دوه پسونه را نیسي او هغه وندی کړي. ګن شمیر څره ګان هم

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

ورغلل چې هلته بوخه اوره واخلي اوخپل خوري بې کړي .

د مازیگر لمر لاجگک په‌غره ولاړو چې درې کسه ( خاصه داران) را غلل. دوی خړکالي اغوستي دي اوخړ پټکي یې په خړوجگو خولیو باندې ول، ول تړلي دي . دوی خورا لوی، لوی بریتونه لري اودهر یوه‌په‌څنګلی یو، یوپنډ بینت راځوړندی. دوی پرآسانوسپاره‌دي.

په قافله کې تقریباً هرڅره وپېژندل چې دا ترېمي والادي یعني چلیک والاغوندي دي چې پربوده‌گانو باندې تکس اخلي .

دوی قافله والاوته اخطار ورکړچې ترڅوبې ترېمي تحويل کړي نه‌وي اوهم بې دخپلوتوپکوشمیر موز ته ویلی نه وي- پرمخ تللی نه‌شي. یوه بل په‌عمربوخ غوندي‌خاصه‌داربه یوه پسته‌خوتېنگه‌لهجه ووېل:

ــ موږ د غه کلي ته ځوچې‌هلته دځان د پاره‌بوخه ځای او ډوډی سرشته کړو. تاسوځوکسه وکیلان ونیسئ اوموږ‌راوسئ‌وکئ چې خبرې او فیصله‌ورسره وکړو.

تورسوکه‌له ځانه‌سره ووېل: « نه‌خرلرم اونه یې‌غم »

په تـوله قـافله کې (۲۲) څره وشمیرل شـول اود هغـو ترېمي سمدلاسه را تـوله شـوه اوبیا دیودووکسو په‌لاس ورولېږل شـوه . مقصدداچې ترماخستن پورې‌ددوی کارخلاص شواوسبا وختي‌قافله بیا ولېږدیدله. قافله شپه پـه لاره بل يوه کوچني ښار ( با زارگي) ته نژدې

ورسیدله. هلته سمدلاسه پولیسان باندي راوګرزیدل اوتوله قافله يې تلاشي کړه چې تو یک ورځخه نه وي اویا ترياك ورسره نه وي.
وروسته له هغه شره ګان په بازارګي کې سره خپاره شول اوهريوه شپه په دانبوکي توده تيره کړه.
ګهيځ تورله‌دانبې څخه‌تود راځورشو اوپه‌بازارګي کې په‌نورو ملګرو په تيره لنګري پسې ګرزي‌چې‌له هغوی سره دځپل زړه له‌کومې خوشالي په دې نسبت څرګنده کړي چې دوی‌روغ رمټ دمزلونوله سختيو اودغلو دیرغلونوڅخه را ووتل. کوم‌وخت‌چې بې‌لنګري وليد پرهغه‌يې غيږ وګرزوله اوورته يې وويل :
ـ دخدای‌تعالی دغه‌احسـان‌چې‌موږيې په‌ځپل رحمت سره له‌غلو او نورو ربرونوڅخه ژوندي زاميي را وايستلو. کمې‌وس وای نو ومنه چې‌اوس‌به‌مې‌سمدلاسه څو دوی رانيولي وای‌اوهغه‌به‌مې په‌خوارانو ويشلـي وای ـ خوڅه وکړم چې‌تش‌لاس يم اوڅه راپوري نشته.
لنګري‌چې نسبتأپوه‌غوندې‌سړی دی‌په يوه درانه اود دزغ ورته‌وويل :
ـ تورګله‌وروره! موږ وتاسې‌به‌ولې خيراتونه‌کوو؟خيراتونه‌دې هغه‌څوك کوي‌چې په‌کراره ناست‌وي. نه‌يې‌لاس تنبا کې‌وي اونه‌يې‌پښې‌چاودې‌وي اونه غلوشکولي وي اونه سروڅوړولي وي اوپه‌کوردونوکې بې داورو اوغوږ یوځای نه وي. پرموږخود قیامت‌خواری راغلي. تردې به نور

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

څه راباندې تېرېدل. هغه چا رلندې راباندې وشوې چې ساری یې نه لیدل کیږي. خیرات دې په‌خپل ځان پورې وزي - بخپله‌یې وخوره !

نور دده‌په‌دې خبره خورا چورتي شواوبې له‌دې چې نور څه په‌دې برخه‌کې سره ووایي ، یودکان ته ودرېدل ویوڅه وچ اوړه یې رانیول. کوم وخت چې دکانداراوړه ورتلل - لنګري نورته وویل:

- ته‌خونوراوسه لاهلک غوندې یې ! پرون دې چې د دا ښیانو زیږې اوپښتې دوډی رلیدلي ، له واکه‌دې ورته ووتنه اوسمدلاسه دې پر هغو پیسې ورتوې‌کړې . دا خوهرڅوک اوهرخواراوپره ته څرګنده ده چې به دغوزیږو اوپستو ډو ډیوخوړلو مړیدلای نه‌شي . دا ځکه چې داسې مړی خورا خوندورې‌وې اوهرڅوک مړه‌یې چې خوري ، هغو مړه‌دسړي اشتها نوره‌هم پسې ډیروي اومړوي دې نه . اوس چې موږ دا اوړه دانښي ته ورو وړو اوهغه یوه دوې کلکې پتیرې ډوډی رابخې کړي- نوومنه چې دغه‌ډول‌به زموږ زړونه ونیسي اوهم به مو نسونه راماره کړي. دکلکې پتیرې ډوډی یوبنه خوی دا دی چې سړی یې ډیره خوړلای نه‌شي .

نور په دې نسبت چې پرون یې زیږو ، پستواوغلمینو ډوډیوته له واکه ووتل اوسمدلاسه‌یې دوه نیمې افغاني پرورکړې وې ځان ګرم باله . په تیره بیا چې په هغو موړشوی هم نه و اولا یې

پسې وزې کړې و. بیا یې په بوه غږ ند او مړاوي زغ لنګري ته وویل:

– که مې له زړه پوښتې! زه وایم چې کاشکې خوار او غریب خوله سره خدای پیدا کړې مه وای. زه په خپل عمر کې نه په کور او نه په مسافرۍ کې په غلمینه دودې موړ شوې یم او هر څو مره چې مې له نورو او پره خلکو څخه پوښتنه او ګرویږنه کړې ده هغوی هم وایې چې دوی په خپل ژوند کې په مړه ګیډه (بې له کوم خیرات نه) غوړه غلمینه دودۍ خوړلې نه ده. نو که زه پرون په هغو پسنو زیرو دو دیو موړ نه شوم بروا نه لري ځکه چې هیڅ وخت موړ شوی نه یم. خو دومره وچې دزړه ارمان مې پاتې نه شو او له واره مې د وې بشپړې دودۍ وو هلې چې والله خوند خو به یې تر ټول عمر زما په خوله کې وي.

لنګري دداښ په کرابې کې وچ او ره دخپل زاړه او خیرن څادر له پلوه ورتوی کړل او بیا تور یوه تکه توره خیرنه لوته په یوه لوی منګي کې چې شاوخوا په خښتو کې نیول شوی و ـ ورتیته کړه او او به یې پر وچو اوړو باندې ورتوې کړې. لنګري له جیبه څخه د مالګې یو توکړی راوایست او تور ته یې وویل چې: «هغه ژر به بوې دبرې میده کړه چې د ودی بلمنګه نه شي».

په دغه وخت کې تور دداښ سرته نظر واچاوه او ویې لیدل چې څو کسه هلته ناست دي او کښته دداښ ار خونه هم له څرګانو څخه ډک دي.

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

ده دتهولو حاضر بنو شمیر دپنځوسو، پنځه پنځوسو تنو په شاو خوا کې اټکل کړ. د دانې ښځبتن په یوه ژور غوندي ځای کې ولاړ و او مخ ته یې دلرګي خورا لوبه او پلنه دره لګول شوې ده چې په هغې باندې له اوړو ډکه دوه دوه جوړ وي او بیا جوړه شوې دوه دوه په یوه پلن پار و باندې ویره کړي او دانې ته یې دبخیدلو دپاره ننه باسي. دی دغه کار کولو په وخت کې له هر چا سره خبرې کوي او هم خپل دوه دری تنه مزدوران چې لري یې - اداره کوي. د دانې ښځبتن ته نږدې یوسپین پوټنه سری ناست دی چې خورا لویه سپینه پګړی یې تړلې ده او دانې هره ګړی ورته صاحب! صاحب! وایي.

د ده ترمخې یې یو غوړ جن کوندري (دسترخوان) غوړولی دی چې په هغه باندې دوې تودې دوه دوه دی پرتې دي او په یو غا پ کې یې بوښه بوړ (قورمه) ورته ایښې ده چې ملا هغه په خورا خوند، خوند سره خوري او په رنجو توري سترګې یې وي خوا او بلې خواته اړوي او خبرک غوندې کتونکي ښه په پوهېږي چې ملا صاحب دځان په نسبت دخلکو احترام او علاقه معلومول غواړي. خو داچې خره ګان په خپل غم کې دي او ده ته تاوده تاو دسلامونه نه کوي. - یو څه ماښیجن غوندې بربنې او د دانې سره په خبر و کې هره پلا پرا خیري زمانې باندې تنقید کوي.

تور لنګري ته وویل:

له خدایه دې ارمان نه کوي، لایق خر نګه ښه تو د او پوست ناست دی؟

esalat.org

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

نه‌بې لاس خوږ دی او نه‌یې پښه اوخپله غوره خوند وره ډو ډی په‌هوسایی او ډاډه زړه‌خوري. داملا به‌څوك وي؟ موږځره‌ګان چې تل له‌پاسه‌را شیوه‌کیږو دغه‌ډول ملایان ډیروي اوتل‌ښه، ښه وعظونه اونصیحتونه کوي .

لګرې په داسې حال‌کې چې اوږه‌یې په کړابې کې تنګې کول او دغه‌کار ټکهاري یې ښه اوچته پورته کیده‌وویل :

ـ په‌دغو‌خلکو یې به ډیر نه ځاروکیږي ! داده‌سر‌تورخان، ټیکه‌دار ملادی او دغې دوه درې نور ملایان هم لري . د دوی کار دادی چې دخپل ځان ښه‌اخلاق اوپه زړه پورې کړه وړه په‌ځره‌ګانو اوخر کارانو کې خپاره کړي چې دوی په دغه ټیکه‌دار پسې کار وکړي. پروسږنه ورم کال زموږ داکا زوی ده دخیرو ترتاثیر لاندې راغلی و اوپه هغه‌ټیکه دار پسې یې کارکړی و چې په پای‌کې یې تبوله مزدوري ورځنې وخوړله او دهغه خوارکې له ډیرې خواشینې زړه وچاوده اوپه حق ورسیده. ته به‌اوس وګورې چې وروسته تر دودی په وعظ او نصیحت‌خوله‌پورې کړي اوبیادنو موږې ټیکه‌دار صفتونه‌شروع کړي. دغه خلک‌خوزه‌ښه‌پیژنم تل تورسپین اوسپین تورښیي. سربه‌نه‌یې ګرزوې !.

* * *

درې څلورشپې وروسته‌ځره‌ګان یو، یو اویا بهیر، بهیر دلوی‌ښار دکوتې‌خواته وخوزیدل. ځوك په‌پښو رهې‌شول اوچاچې پیسې درلودې

په لاريو اوموټرانو کې سپاره شول. تور او لنګري بيا سره يو ځای شول اوپرلاري باندي يې د خپل مزله په ترڅ کې دلمدي دو دی اوښتو خيراتونو په شاوخوا کې خبرې کولې اوپه خپل وطن کې يې دده او يا دهغه واده په نسبت خپلي رايې څرګند ولي. مثلاً: دوی به د غوښو هغه لوې برخې ستايلي چې دوی ته به يې په ودو کې ورکړې وې اويا به يې هغه خيراتونه غندل چې غوښې ا وښوروا به يې تولو خلکو په ښه توګه خوړلې نه وې. دوی اوس په پوره زړه مزلونه کوي ځکه چې هر لوري ته کلي اوآبادي ده. که چيرته ورباندې سختي راشي او يا وزې شي، نو شاوخوا کليو ته ورشي او په ماجتونو او يا کورونو کې دو دی او دملاستې ځای غواړي. که څه هم د دوی خوري خلاص شوي دي خو بيا هم په واده زړه روان دي.

دوی دواړه شپه پر لارې بله ورځ کوټې ته ورسيدل. کوټې نه چې نژدې شول لنګري دهغه ښارودانې اوداچې هر څه پکې خوړا ډير دي۔ وستايل.

تور ورته وويل:

په دې کې شک نشته چې په دې ښار کې يې له مورو پلارنه بل هر څه شته۔ خو په دې شرط چې پيسه درسره وي. مګر زما يې يوشي خوښ دی هغه داچې دسبو شنې پاڼې، دمولیو اوګازرو پيخونه دسبو خر خولو دمارکيټ په غولي کې خوړا ډيروې چې زموږ دخوار اوغريب خوړا ښه په کيږي.

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

دري کاله د مخه زه راغلی وم - د خپلو نورو ملګرو وسره نیغ هغه مارکیټ ته ورغلو، شاوخوا موشتي پانې او د مو لیواو ګاززو بیخونه ټولول او هغه مو خوړل. یو د کاندار هغه بل ته وویل :

- د دغه پاسنیانو لکه مچخ دا دول دي. کوم وخت چې دوی راشیوه شي د کوټنې د بنار په کوڅو او بازارو کې د میوو پوټکي، د سبو پاڼې او نور داسې شیان چې خلک یې غورځولي وي - هغه را ټولوي او سمدلاسه یې خوري. که ربښتیا درته و وایم دا پیغور پر مانه ونه لګیده، خوشه وکړو نفس ظالم دی. که مې په کور شپه تېر بدلای نو والله که مې بیا د دغه ملك نوم په خوله اخیستی وای. خو مرګوره وچه ناچاري ده. هیڅ دول کار نه موندل کیږي چې سری د زړې سرې شپې پرتیري کړي . . .

که څه هم ټول دغه خره ګان درکوټې) په بنار کې سره شو په شو شول او هر څوك پخپله مخه ولاړل : خو تور او لنګري سره یو ځای دي . د دوی خوري بیخي خلاص دی او له ما بنام را ایسې یې دوری هم نه ده خوړلې لنګري چې د تور وضعیت ته و کتل - زړه یې پر و سوځید او ورته یې وویل :

- تور جانه ! مه خوا بدی کیږه ! اوس به مو چیتنې مهرشې یو ه بل خره را ته وویل چې تیکه داران او د دوی جمعه داران بنار ته خورا ډېر راغلي دي او غواړي چې مزدوران کارونو ته بوزي. وبل کیږي چې خورا ښې روپۍ هم دیښکې به دول ورکوي . درڅه هغه

www.esalat.org
esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

ځای ته ورشو چې هلته مز دوران دلې،دلې ناست یا ولاړ دي . ګوندي غټه پیسه ګوټو ته راشي اوپه خورا ښه غـوره دودی دي مـوړ کـرم خویوه ضروري‌خبره‌داده‌چې زه‌اوته باید په‌نورومزدورانو پسې وګرزو چې یوه دلـه غونـدې شو. دا ځکـه چې کـه لـوی شمیرخلك سره یو ځای شو ـ نوبیا نور خرکاران او جمعداران په ښه اودرنه سترګه رانه ګوري او هرخومره وروپسې چې پیشکې غوارو هغومره به راکـړي.

دوی‌خوشاخته اوپر دي خره‌ګا ن ولیدل اوهغوی ته یې وویل چې باید یوموټـی شواوبه دي توګـه ښه ګټه ترلاسه کړو ا.

په‌دغه دله‌کې‌یوخورا تکړه زلمی دی چې ښې اوبه زړه پورې خبرې کوي .د ی‌دخره‌ګا نو په دلو کې را غلی دی،خوهرڅوك د یوه‌لوستي اوسرپریکړي زلمي په‌سترګه ورته ګوري. ده‌زړه‌سوی‌هم‌مشهوردی. که‌څه هم د ی په بلـه قافلـه کې و اود نورد قا فلې ډیرونه اوآفتونه یې لیدلي نه وو- خو بیا هم د ی له‌هر ځه سره‌کـه یې پیژني اوکه یې نه پیژنـي دیوه خوازه‌وروریه ځیر سلوك کوي .

کوم وخت‌چې نوراولنګري‌دی را وبا له چې‌له دوی‌سره یوځای تیکه‌دارانو‌ته ورشي‌چې‌له هغوی سره مز دوران‌شي اوپیشکې پیسې واخلي نو هغه سمدلاسه‌ومنله اوخپلو د ږي خلوږونورو ملګروته یې‌هم وویل چې‌دادږ ول ملګري او ځا یو الـی خورا ګټور دي. دکارپه وخت کې

www.esalat.org
esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

دغه دول يووالى اوملګري لانوره ګټه هم لري : تيکه داران به څه را ته ويلا ی نه شي؛ وحق به مونه شي خورلای. که بې چیرته پـرکوم ملګري تيری کاوه،سمدلاسه به کار ورخوشي کړو اوتول به په يوه پلا له کارڅخه را ووځوچې البته هغه وخت به دظالم سرته سد ورشي او دستې به لـه نارو!کولو څخه لاس واخلي. کـه چیرته تول کارکوونکي سره يوموتی شي- ويوهيږئ! چې تولـه نړی به ددوی شي اوتول هغه ليوان چې دانسان په ځاموکي ښوري- ورك شي اودا خو جوته خبره ده چې کا رکـوونکي او اوپرهخلـك که نن وي که سبا تول به يو موتی شي اوهغه وخت به د دوی توره شپه په رڼا ورځ واوړي .

تورلنګري ته وويل :

ـ دا ځومره ښه اوخوا خوږی سری دی؟ دکار کوونکوسره څومره مينه لـري؟ درڅخچې په همدغه زلمي بـې شوا! هـرچيرته چې ده خوښه کړه،هلته به کارکـوو.

لنګري ومسل :

ـ وروره ! خودبه دکا رکوونکو ستاينه کوي،ځکـه چې د ی پخپلـه دکارکوونکو لـه دلي څخه د ی او دده ګټه اوتاوان دکارکوونکـو دډلـي لـه ګټي اوتاوان سره تړلي دي. لوستي اوپوه خلـك خوتل دغسي وي . که څه هم د ی دلاس کار نه شي کولا ی خودقلم کا رهم

www.esalat.org
esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

دلاس لـه کار څخه ډیـر زحمت غواړي ...

دوی ټول شېږکسه شول او په یوه خولـه اوزره یې دا پخه کړه چې دوی به ټل په یوه بیړه (دکارټولـګي) کـې کارکوي او هیڅ وخت به ددغه یوه زلمي لـه خبرې څخه نه اوړي .

دوی ټول یوه داښ ته راغلل چې هلته چا ویل چې جمعدار ناست دی او مزدوران نـیـي . داښي ورته وویل چې : یوه ګړۍ وروسته خان صاحب راځي . هغه دلته ډیره دی . ده ویل دهرچا چې زه په کار وم غټ مازیګر دې راشي ، ښه سړی د ی مزدوران نیسي پیشکي پیسې هم ورکوي .

لنګري دغه نوي زلمي ته وویل :

– پرون داښي والاموز په ښه نیت بـه خپل داښ کې نه پرېښودلو ځکه چې زموږ سرونه او کالي لـه سپېرو ډک دي او پـه تیره لـکـه چې وینې یې پرتور خو دسپږو رمې بهیږي او سربـې درچو ځالـه ګرزیدلـي ده او ناسې هم خیرن او غوړ پر ځرګندیږي : که موخوښه وي درځئ ترښار د باندې یو چیرې بهاندې او به موندکړو او تر غټ مازیګره پورې به خپل سرونه ښه پرېمنځو ! ما ته پخپله والله که د شپې دسپږو له لاسه خوب راځي .

غټ مازیـګر دوی بیا هماغه سړي تـه ورغلل . جمعدار وروسته له ځولا پو اولویو خبرو چې ، ټل یې تر دوه درې سوو کسو مزدورانو کم

نه درلودل۔وویل :

۔ زما دخاورو کاردی. زه دا دول مزدوران غواړم چې بیلچه وعلاى شي یعني پرخروباندې بې باروړلای شي. تا سوته ځرګنده ده چې د دې کار دپاره خو خوراغښتلي اوتکړه زلمیان په کار دي. د ورځې پنځلس افغانۍ مزدوري درکوم او ډوډی هم. که مو خوښه وي نو زه حاضریم چې پنځه ویشت، پنځه ویشت افغانۍ پیشکي درکړم. زه هم بخپله دباس وطن یم ۔ خودا خو کاله کیږي چې دلې برساتي یم. ستاسې دخوا نوموړي ځرکاران اوټیکه داران ټول ښه پیژنم. پیشکي روپۍ هم هغه وخت درکوم چې یو مخور سړی ستاسې په ځای لاس راوغزوي.

د اسې ځرګندیږي چې د غه یو زلمی پوست لاسی دی. لکه چې د میرزابي په کار کې ښه دی. د بیلچې وهلو ځوان نه را معلومیږي.

ښه ده چې دی ځان ته کوم بل ځای منشي توب مونده کړي. زماخپل وراره ښه لوستی سړی دی. هغه مې د لیک اولوست کارونه اجرا کوي. هغه ټیکه دار چې زه کار پسې کوم خورا ښه سړی دی. پنځه وخته لمونځ اودس نه قضا کوي، د خدای د دوستانو هم ښه خدمت کوي

دسپین بکریو قدر هم ډیر کوي. تر اوسه پورې بې درې حجه کړي دي. لاس وهونکی هم نه دی. دهرچا حق یه جګه ملا (ترت) ورکوي.

تور اولنګرې دخپل پلار اونیکه نوموړه اوخپل کلي اوقوم جمعدار ته

ونبودل او هغه‌نه‌یې دا ډګیرنه ورکړه چې د ده پیشکي روپۍ به په ښه‌توګه‌په‌کار ورادا کړي او له‌دې پلوه‌دې کورټ زړه‌نه‌وهي.

جمعدار وروسته‌له یو څه فکر څخه جیب‌ته لاس کړاویوه‌خیرنه بټوه یا پټاکیدانه بې‌ورو کښه‌چې په‌هغې کې د روپو نوې نوټونه له ورایه ښکاره کیدل. جمعداربه‌داسې حال کې چې خبله بټوه‌یې خلاصوله تور اولنګري‌ته ووېل :

ـ زه تاسې پیژنم! د ورکې خلک نه‌یاست! که‌چیرې بیا هم‌خدای‌دي نه‌کړي‌ه راڅخه نهام‌شرا‌ست. به وطن‌کې خو راڅخه نه‌شې خلاصیدای! یوه غوښتنه درڅخه کوم‌هغه دا‌چې ددغو نورو ملګرو پرځای‌به هم تاسې‌لاس‌را غزوې! ځکه‌چې‌ بې لوړی درته‌ووېل‌ستاسې دغه ځغیدونکی اولوستی زلمی د بیلچې کار نه‌شي کولای، نوکه موخوښه وي بې له ده نه‌دغو نورو ښځو کسونه به‌دسرې پرسرښځه‌ویشت ښځه‌ویشت افغانی پیشکي درکړم اوسبا به بیاد کارځای ته راسره‌خوځیږې! که چیرې دغه لوستی زلمی دتهبالي په حیث کار کول غواړي‌نو البته ده‌ته به هم پنځلس افغانۍ پیشکي ورکړم. هروخت چې بې ځان ته دقلم کار مونده کړ ـ هلته دي لاړ شي.

به دغه وخت کې یوبل زلمی غوندې هلک چې پاك اوښکلي کالي بې اغوستي وو ـ رانږوت او جمعدارته‌یې په‌یوه ادبنا که‌غاره ووېل:

ـ صاحبه! دمازيگر چلم تيار دی .

جمعدار د ميني دك نظر دده لورته واچاوه او ورته يې وويل :

ـ کوم چرس دي دك کړي دي؟ .

ـ هغه چرس دي چي ( ادروخان ) له کندهاره په څپلي کي

راوړي وو.

جمعدار سره وغوړېده اوددوارو لاسونو ګوتي يې سره اري کړي

او ارزمي يې وکښلې اود خوشحالي په توګه يې وويل :

ـ يا سنيانو! زما خبري موخوښي شوي که يه؟ زه غــوارم چي

لومړی الله ياد کړم او بيا د(زمري نوك) ووهم .خپل کار زرخلاص کړئ! .

تور چي لوڼي خورا بر له سوی و ترنولولومړی يي برزغ کړ :

ـ ستا خبري منو! پيشکي راکړه! موږ به اوس لاړ شو اوسبا به

دخيره راالحو.

دغو نورو مز دورانو هم دتورخبره پسي غبرګه کړه او جمعدار

سمدلاسه پيشکي روپۍ ور وشميرلي اولنګري او تـور ته يې

ورکړي . دجمعدار وراره سمدلاسه يوه اوږده کتابچه چي دسرپاڼه يې

درلوده ـ را واخيستله، په هغې کي يې دغه پورته آندازه روپۍ په دوی

پسي وليکلي. البته ددوی ښېره پته يې هم وليکله . کوم و خت چي

دوی لـه دانې څخه راووتل،نولوستي زلمي چي خپل نوم يې دجمعدار

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

وزاره ته ( زیرګل ) ښودلی و۔ لنګري ته وویل :

— دغه جمعدار دروند او پوخ چرسي معلومیږي . ناروا سری را ته وایسیده ـ خدای مودي ورسره پرده وکړي .

تور لومړی ترهغه چې بل څوك څه ووایي ـ وویل :

— اوس دښي خومولاس ته یوڅه راغلل . دا به دځان خرڅ کړو اوکه موچیرته بل څوك ومونده‌چي ترده‌ښه سړی‌را ته معلوم شي‌البته له هغه سره به لاړ شو . مقصد دا چې نن مونس‌ته یوڅه ورشي. زماخو له لوږې زړه تش تش کیږي .

لنګري زیرګل‌ته وویل :

— تا ته به معلومه وي چې اکثره دغه جمعدار ان‌چې ټول عمرخره چلوي او دلته یې برسانونه تیرکړي وي‌،چرسیان وي.که څه هم‌ما په دوی کې تراوسه پوره ښه‌سړی نه دی لیدلی‌خوچاره نه‌شته.بل‌کار زموږ او ستاسي زده نه دی،چې ددغې خلکو دلاړوخځیدو په ځان ونه ګالو، بلې‌خوا ته خومومغ نه اوړي. ته لاښه یې یوڅه‌دقلم‌کارخو دې زده دی. واه زموږ په ځان چې (الف‌اوبې) مونه دي زده.

ګهیځ وختي هغه داښ ته ورغلل چیرته چې جمعدار اوسیده .

داښي ځکه دجمعدار خورا ډیر لحاظ‌کوي‌چې هغه په داښ کې د بري روپۍ خرڅوي. داښي دغومز دورانو ته وویل :

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

ـجمعدار صاحب له‌تاجد (۱) اوسهار لمانځه نه‌وروسته بیده‌شوی دی. یوه گړی وروسته راشئ! زه داریږم چې تاسې بې له‌خوبه ویښ نه کړئ. دینداره سړی دی لحاظ یې په کار دی.

نور اوملګرو یې ولیدل چې دیرش پنځه دیرش کسه نور مز دوران دهغه دابنې په شاوخوا کې ولاړ دي. هغوی ټول د جمعدار لـه خوا دکار دپاره‌نیول شوي وو.

لنګري له خپل ملګري زیرګل څخه پوښتنه وکړه:

ـ دکار ځای به چیرته وي؟ خدای دې وکړي چې په یوه تـوده منطقه کې وي. پرون موږ لوږې داسې اخیستي وو چې دکار دځای پوښتنه مو لاونه کړای شوه. یوازې دې نه موسترګې ردې نیولې وې چې کله به څو روپۍ پیشکي راکړي.

لومړی‌تر هغه‌چې‌زیرګل‌ځواب‌ورکړي‌یوه‌بل‌نابلده‌مز دورورته‌وویل:

ـبیغمه اوسه! دکار ځای په تاوده وطن کې دی. یعني په (سبوی) کې دی چې زمې یې دغسې دی لکه زموږ اوسنی دملک پسرلی دغه‌ټول مزدوران دلمرهغې ورانګې ته‌دوررسیدو سعبه کوي چې ددوو خورا هسکو مانیولـه مینځ نه را لویدلې ده اود دابنې والا د دکان

---

(۱) تاجد «تهجد» هغه لمانځه ته وایې چې ځینې عابدان چې لـه خدایه ډیر بیریږي پر نیمه شبه یې ادا کوي.

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

ته‌وله مخه‌یې رڼا کړي ده. دوی‌یو، بل په‌ځنګوهي اوداسې بیره کوي لکه مجان چې دمني په لمرځریکي‌باندې بمبیزي. تورهم‌لمرځریکي‌ته دکښینا ستو بیره کـوله. یوناښلده مزدورچې دده دځنګک وهلوپه اثر یو خه خواشیني شوی و- ورته وویـل:

وروره! ته‌ولې بیره کوې؟ته‌خوپرخدای‌ګران‌یې! داسې‌کوسی‌لرې چې که‌ماډرلودای‌والله که له‌خپله‌وطنه‌پـه مزدوری پسې را غلی وای ځکه چې زمی ټکې تیریده. ماوزما غوندې دا نور کسان والله که مو د شپې د سرو د لاسه‌ بابه پربابو ایښي‌وي. اوس‌به‌مې لمرځریکي‌ته دومره هڅه نه کوله.

په‌دغه‌وخت‌کې دجمعدار وراروراووت‌او‌حاضرو مزدورانوته‌یې‌ږغ‌کړ:

- ټیکه دار صاحب له حکومته دمال دغلوروا ګرنو نواجازه اخیستې ده چې په هغوواګونوکې به خره سپروي اودکارځای‌ته به‌یې وړیا رسوي. نوتاسوهم‌دایوه دوې شپې دلې صبروکړی! انرکومه وخته پورې چې د ریل دغه واګونونه برابریږي تاسې‌درب‌ثنا واپاست اودلې‌اوسئ! تاسې به هم په خورا لږه کرایه له خرو سره یوځای سپاره کړي اود لارې له مزلونو اوبا د ریل له جګې کرایې ځخه به خلاص شئ!.

ده چې دغه ویناخلاصوله یوه مزدورچې وروسته معلوم شو او زیرګل و- ورته وویل:

موږ سرو پر له وسو ځلو. هغه ځه چي مو پیشکي راکړي وي هغه راځخه پهٔ نس خورل کیږي. داخو جوته خبره ده چي دکار ځای ته بـه مو تاسي رسوئ! کرایه مو پهٔ تاسو ده. اوس تاسي ظالمان سربیره پهٔ دې چي لهٔ خرو سره مو یو ځای پهٔ یـوه واگون کي سپروئ، کرایه به لاهم غوارئ!
زه خو داوایم چي تا سو سوا بي خـواره او د خلـکو دښمنان انسا نیت ته پهٔ سپکه سترگه گـورئ! کـه مـوږ جـلا د خلـکو پـه واگـونـو کي سمد لاسه لیږئ ښه تر ښه، کـه نـه وي ـ موږ پهٔ تا پسي کارنه کوو. هروخت چي مو روبي، ومونږ لي ستا پیشکي روبۍ بهٔ هم بیرته درکوو.
دژیرگل دغه زغ پهٔ حاضرو او پر ه خلکو کي خورا ژوره اغیزه وکره اوټولو پهٔ یوه زغ ناري کـړي:
ـ ښه وایي! سره لهٔ دې چي حقیقتاً ټوله زې بهٔ موږ ورکړه دانه ده ـ بیا هم تاسي بې انصافه موږ لهٔ خر وسره یو ځای تړئ. بهٔ ا یه! موږ دا ټیټوالي او بي عزتي نه منو.
د جمعدار ورا ره د دې لوېي دلي ز لمیانو زغ خورا وبیراوه او پهٔ بیړه دننه خپل ا کا ته ورغی او قصه یې ورته وکره. ا کا یې ورته وویل:
ـ خدای مو دې د مزدورانو د طبقې لهٔ یو والي او اتفاق ځخه وژغو ري.
ددوی دیووالي قوت اوقدرت تر هرڅه ډیر دی. کهٔ اوس موږ ددوی خبره

esalat.org

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

ونه‌منو،نو هر یو به لکه دحجری ورزي (کیك) سره وا لوزي اوموږ به پرمیدان پرېږدي او هغه تولي پيسي به مو وسوځي چي پیشکي مو ورکړي دي اوهم به کارمعطل شي او ډېر زیان به را ورسیږي .

بیا جمعدار سمدلاسه را ولاړ شو او د باندي راووت. ټول مزدوران دسیل غوندي پرله واوښتل. جمعدار وږغ کړ:

ـ زما وراره هلك غونډي‌دی، تاسي بي په‌خبره بنه نه یاست‌پوه کړي . تاسي به نن ماښام په ریل کي واستوم، بیغمه اوسئ!.

ناآرامي بیرته کراره غوندي شوه. جمعدارله خپل وراره څخه پوښتنه وکړه چي دمزدورانو مشرڅوك و؟چا خبري کولي؟ هغه دخپلي بي خبری اظهار وکړ. بیا بي له ځانه سره سوکه وویل:

ـ ما هم الوجمعدار بولي ـکار به مو وکړم.

دمزدورانو د غه دله د شپي په یو بجه (سبوی) ته ورسیدله. ریل چي له (مچ) څخه تیرشو نولنګري تور ته وویل :

ـ اوږي‌مولږ ځه‌نودي‌شوي. کاشکي زموږ وطن‌هم دغسي‌نو دوای هلته خو دخوار اوغریب شپه‌دسړوپه نسبت نه تیریږي. ستاکوسی اوس باید په تابار شي. ښه‌شو چي ویږي ولمي‌ته راغلو ـ یوه‌ګړی وروسته به دمقصد ځای ته ورسیږو.

تور دخوب له حاله وـ چي دکوسي نوم بي واوریده، سمدلاسه

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

را غوزار شو اوبیرته یې کلمه وویله اولنګري ته یې په ګېله‌من ږغ وویل :

-خدای دې خوارنه کړه ! ماویل چې ته وایې کوسی یې درڅه‌یوور ژدې دې خون ګټلی و. شکر دی کوسی خوځي دغه دی اغوستی‌دی.

دجمعدار وراره لـه‌مزدورانوسره یوځای دی. کوم وخت چې دسپوږمۍ پرتیـږ کېنه ځول نویې تول‌مزدوران یوځای‌سره دله کړل اوورته یې وویل :

- دلته په مسافرخانه کې څوساعته بیده شۍ ! ګهیځ وختي به دکار خوانه خوزیږو. ویره ولمه‌ده، ساره نشته بیغمه‌واروۍ ! .

دکار ځای دسپوږمۍ لـه بنار څخه شل میله فاصله لري. دوی دغه مځکه پرپښو ووهله . دجمعداروراره په یوه سپین ګرندي خره باندي سپور دی او دمزدورانو په‌منځ کې روان دی. کـه څه‌هم دده خرخورا ګرندی‌تلای شي‌خودی دخره ګانو په قدم ځي. غټ مازیګر دوی دکار ځای ته ورسیدل.

توراولنګري ته څرګنده شوه چې په‌دغه جمعدار پسې شپږبیری کارکوي اوپه هره بیره کې (۸) خره او (۹) تنه مزدوران دي. دوی له زړو مزدورانو څخه پوښتنه وکړه چې څرنګـه کار دی اوڅـه دول څښتنان‌یې دي؟ څوتنومزدورانو په یوه خوله دتیکـه دار اوجمعدار

ستاينه وکړه او دوی بې خورا نه خلك وبلل ـ خولنګري تورنه وویل چې باید دګڼو مزدورانو په دغه ستاينه ونه غولیږي! تاته به څرګنده وي بابه نه وي چې ځیني تیکه داران او جمعداران تل دخوتنو مزدورانو زرونه په لاس کې نیسي او هغه دځان پرخوا کړي او په دغو نورو مزدورانو کې پروپاګند کوي چې دوی خورا سپیڅلي خلك دي. زیاتره دغه دول تیکه داران او جمعداران غله وي، خوظاهري بڼه بې خورا په زړه پورې معلومیږي.

ددوی دغه مرکه ژیرګل هم یوځه واوریدله. هغه ددوی دواړو خبرې غوږ کړې او ورته یې وویل:

ـ دغه ترتیب یوازې په تیکه دارانو او جمعدارانو کې نه دی. دغه نور خلك لکه بډایان، د ډیر و ځکو ځښتنان، دفابریکو خاوندان، واکداران او داسې نور هغه کسان چې پخپله کار نه کوي او د نورو په زحمت او خوارۍ باندې ژوند کوي ـ ټول د اوپره خلکو په مقابل کې چلونه وهي او دوی په دول دول خبرو غولوي او ددوی ګټې ترې نه ترومبوي. موږ کارکوونکي او اوپره خلك به تر هغو پورې د بنا دی په نری ونه خیژو، تر څو چې ددغسې لیوانو او مفتخورو په مخ کې یو موټی نه شو ـ خو موږ ځکه درې ورې یو چې زموږ د دلې یا طبقې ضمیر نه دی را ویښ شوی او په خپله ګټه او تاوان خبر نه یو. دا پورته طبقې تل دا وپره خلکو طبقه یا دله

پخپله داوېره خلکو په ضد استعمالوي. دلته د پښتنو دغه‌متل څومره ښه اوپه ځای معنی ورکوي چي وايي. (وني وني! کلهی به له تاڅه غوښتل؟ که بې لاستی نه وای ستا له کوني). تاسي که لږ څه ښه ژورفکروکړئ نوبه خبره نوره هم د رڼه څرگنده شي.

د دی دغو خبروته د جمعدار ورارہ له لیري غوږ نیولی و. کوم وخت چي زیرگل خبره خلاصه کړه هغه‌پر راترپ وهل اوپه یوه تنده لهجه‌یې ورته وویل:

- څرنگه‌تیره ژبه‌دي‌ده! زمابه‌خیال‌ته‌هغه‌سری‌یې‌چي په(کوټه)کي دي مزدوران زموږ په ضد ولمسول. ږغ خودي کټ مټ هغسي دی چي ما هغه ورځ اوریدلی و. دوره درته وایم چي دا ځنگل دی. دلته د زمریانو پاچاہي ده. دلته نورته اوستا ملگري دځان واك نه لـري پهٔپټه‌خوله به‌ځپل کار کوئ! کوم وخت چي‌مي کاکاجان راغی- ستادغه خبري به‌ټولي ورته وکړم. زما بشپړیقین دی چي هغه به‌ستا دغه تیره ژبه چي اوروته نري غوړځي-په‌بیخ کي درغوڅه‌کړي اوستا سره ورایداد به درکړي. کاکاجان ته‌مي (الـوجمعدار) هم وايي. هرچاته چي یې نوم ورواخلي له ویرې یې اودس ماتیږي.

په دغه وخت کي د جمعدارورارہ نابـره اوچتـه ولاړشواونـورو مزدورانوته‌یې وویل چي سره راغونـد شئ!. ده دهرمزدورنوم اخیست

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

اوهغه ته به يې بيا وبل چې ته پلانکي بيړۍ ته ورشه! په دغه توګه يې ټول مزدوران سره ووېشل. تور، لنګري، زيرګل او د دوی درې نور ملګري سره يو ځای شول. که څه هم دوی په بېلو بېلو بېړوکي ويشل شوي وو خو د دوی د زړه او پوړله پېښې غوښتنو په اثر بېرته يو ځای کړی شول.

دغو شپږو ملګرو وليدل چې څو خوراغښتلي او زوروړ ځوانان ټوله ورځ خوشې بېکاره ناست دي او يا که کار کوي نو هم د خپل زړه کار کوي. دوی نه د جمعدار وزاره او يا نور څوك هيڅ نه وايي. ددوی د دو دوی برخه تر دا نورو مزدورانو ښه غوره وي او هر څوك يې نازاخلي. لنګري چې په دغه ترتيب پوه و، نورې يې تور او دغو نورو ته ووېل:

زه خو داريږم چې دغه ځلميان د جمعدار (ډنده ماران) دي. جمعدار او ټيکه دار راته ډير ظالمان ښکاريږي. خدای مو دې پرده ورسره وکړي.

تور لږ څه سره جدي غوندې شو او ورته يې ووېل:

- موږ هم شپږ کسه يو- په آساني مو وهلای نه شي.

زيرګل هم خپله خواشيني ښکاره کړه او ويې ويل:

- له دغو ظالمانو څخه به مو هيڅوك خلاص نه کړای شي. موږ بايد په هرقيمت چې وي سره يو شي شو او يو ځای کار وکړو. که څه هم ماته چا وويل چې په دغه ټيکه دار پېښې يو بل جمعدار کار کوي د هغه يو ميرزا په کار دی، خوزه غوارم چې ځوونخته دلته د خرو

ټپال ووهم . (ټپال دبارشوو او نثو څرو بیول اورا وسنل دي )
ترڅو چي ددغه جمعدار دري کلداري ور ادا کړم. ترهغه وخته پوري
به ستاسي وضعیت هم ښه څرګندشي اوټول به ښه بلد شو.

تور ژیر ګل ته وویل :

ــ ورورمه! ته خوشکردی په(قاپو)(۱)خبري کولای شي !سترګي دي
هم خلاصي دي، یعني لیك ولوست کولای شي! ته دلته په موږ خوارانو
کي څه غواړي؟ څه ولاړشه له یو چا سره میرزایي مونده کړه!.

یوه بله خبره درته کوم چه دا چي تا دغه ښي اوپه زړه پوري
خبري چیري اوله چا څخه زده کړي دي؟ ته څو ددي وربي چي
یوه ښه علاقه داري بي درکړي وای.

تور او دده ملګري لومړی ورځ پوه شول چي ددغه جمعدار دکار
شرطونه درانه دي. مثلا سهار وختي به څلورنیمو بجو یوه سري زغ
کړ چي باید کښینئ اوکارته لاړشئ!. ترڅو چي دوی سره تورېدل اوپه
کاربي پیل کاوه پنځه بجي شوي اوپنځه بجي لاهم ښه تیاره وه چي
دلاس ګوتي ښي نه ښکاره کیدلي.

دغرمي دو دی چي پرجمعداروه دوي،دوي پیالي ترخي چای بي
ورکړي . غرمه‌صرف نیم ساعت هوسایي ورکری شوه او بیا به کار

۱ـ قاپو = قانیو

esalat.org
www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

بوخت شول. یوه‌زاره مزدور وویل چې ماښام دودی یوځه بنه او لمده وي، خو ډیره ناوخته یې ورکوي .

دوی ماښام پر یوولسو بجو(۱۱) له کارنه‌را وایستل شول . ترڅو چې یې ډودی خوړله نوژدې (۱۲) بجې شوې. تورلنګري ته‌وویل:

ـ زموږ ورځنی مزدوري خو یوه کلداره اودوډی‌ده، خو اوس ځرګنده شوه چې دغه‌مزدوري دشپې اوورځې دکـار په مقابل کې ده. دډودی خوندیې نشته. که دوه ورځې نور دغسې دروندکار راباندې وکړي زه‌یقین‌لرم‌چې بیابه‌موبه‌لږ‌ګو ولاړنه کړي اوخپله روغتیا به‌دلاسه‌ورکړو.

لنګري ورغبرګـه کړه:

ـ موږ اوتاسې خوښه‌پوه‌یوچې «هرچیرته‌اوربل ـ کتوې پرباندې‌دي» هربهیرچې هرچیرې ولاړشې دمزدورانو دباره دغسې‌شی دی، خودلته‌یو څه دیرغوندې کاردی . دلیل‌یې داد ی‌چې ددغه جمعدار په زړه او کره کې دیرظلم معلومیږي، خوموږ باید غاښ په غاښ‌کښیږدو، ترڅو چې پخپله جمعدارراشي. هغه ګوندې یوڅه وکړي او لږڅه اسانتیا وي راکړي . که نه وي باید یوه چاره یې وکړو.

زیرګل به‌داسې‌حال‌کې‌چې پراورباندې‌یې دغزه لښتې اچولې ـ وویل:

ـ بلـه چاره مونښته بې له‌تیښتې. ما پرون له دغونورو تپالیانوڅخه معلومات کړي دي. دغه جمعدار خورا معتبر دی اودتیکه دار خپل

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

غونډې کيږي . ددغه کاراصلي ټيکه داربو پرنګي دی. دغه پرنګي بيا دغه کار نورو ټيکه دارانو ته په ټيکه ورکړی دی. نوله يوه ټيکه دار سره هم ځوله نه پرې کيږي اوهر يو پر پوزه مچ نه پرېږدي . پخپله دغه جمعدار ځوته غبتلي ژلميان يوازې ددې دپاره ساتلي دي چې که کوم مزدورکارنه کاوه هغه به و ډبوي. اوس دستي اووه کسه مزدوران شته چې په هغوی بې لهمزدورۍ له څلورومیا شتو را ايسته کار کوي ماښام بې لابند يانوي هم.

دژيړګل دغې وينا دا نورتول اند يوا لان مضطرب کړل. يوه بل سري وويل:

ـ کوم وخت چې په کارکې له يوه زاره مزدور سره بوخت وم نوهغه راته وويل چې دغه جمعدار دځوبهير ومشرا وخوراپه زړه کلک سړی دی. دچاحق نه ورکوي اوپه مزدورانوپه زور کار کوي. دی ځانته (دځنګله پاچا) وايي.

ماښام ته پخپله جمعدار راغی. دده وراره د مزدورانو ټولي کيسې ورته وکړې. په تېره بيې د ژيړګل پوهه وستايله او هغه يې بو غوړ ژبی سړی هم وګاڼه اوپه( کوته) کې يې دمزدورانو نا آرامي دده دوينا ويه اثر وبلله.

دنور دلي په لږه موده کې پيشکي روپۍ پرې کړې اوپه جمعدار بې نورې هم واوښتلې . کوم وخت چې دوی خپله مزدوري وغوښته نو جمعدار سمدلاسه دوی شيطانان اووران کاران وبلل اوپه تېره ژيړګل

خويې په دې تومتې کړچې په مزدورانو کې نفاق اچوي اود مزدورانو دله دېدا يانو اوکارفرمايانو په ضد لمسوي. ده په خورا افتخار اوسر لوړی وويل چې پـه‌دغه (آزاد) ملک کې ددغسې افکارو ځای نشته. بايـد درنه جزا ورموي.

تور اونور ملګري بې د جمعدار په دغه نيت پـوه شـول. دوی داسې غوټه کړه چې بايد په هره توګه چې وي له دغه ځای ځخه وتښتي.

جمعدار ددوی په‌دغه مقصد باندې پوه شو. سمدلاسه‌يې خـپل (دنـده ماران) راوغوښتل اوشپږ واره کسان يې خورا ښه و دبول او بيايې ورته وويل:

ـ تاسو دځنګله دباچا زورلېدلی نه و! اوس به درمعلومه شي چې تاسې څرنګه تېښتئ؟ له ماځخه هيچېرې خلاصيدلی نه شئ!.

دوی به د ورځې کار کاوه اود شپې به چې له کاره خلاص شول په رسيو به‌يې وتړل اوبنديان به‌يې جلا جلا ديره کړل. دوی د مشورې اومصلحت دپاره کوم ښه او په زړه پورې وخت هم نه شو موندلای خوبه پړيکړوپړيکړوخبرواواشاروبې بولـه بله ځانونه پوه کړل چې بايد هر يو جلا جلا دتېښتې دپاره سعيه وکړي اوخپل ځان دې له دې ناوړې منطقې څخه وباسي.

تور د تېښتې دپاره بل فرصت ونـه موند او په خورا بيره يې دا

esalat.org
www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

5

ترزړه وايستله چې بايد سهار وختي چې د کار خواته يې بيايي د (رګث وهلو) په پلمه مخامخ منده کړي او په دغه ډول ځان د ځنګله په ونو او بوټو کې ورك اوپټ کړي، کوم وخت چې تياره شي نو به ځان لارې ته برابر کړي.

تورخېل دغه پلان په ښه توګه عملي کړ او سمدلاسه يې ځان ځنګله ته واچاوه او تر ګڼو بوټو لاندې پربووت. د جمعدار سړي تر ګرز پدلو را ګرزيدلو وروسته بيرته راغلل. جمعدار تاکيد وکړ چې بايد په دا نورو ملګرو بې کلکه پاملرنه وشي چې هغوی ونه تښتي.

تور په دې سبب خورا خوشاله دی چې د جمعدار له ظلمو څخه خلاص شو، خو نور ملګري بې تل به ياد ورځي. ده خوشبې نوري هم شاوخوا ورته تيرې کړي، خو دهغوی درك او پته ونه لګيدله - نوتور دسبری دعلا قې څخه د (ښکارپور) سيمې ته ولاړ اوهلته بې دخپل وطن څونورکسان مونده کړل. هغوی وبالې يا کولې اوهر مابنام بې خپله مزدوري نغده لـه کليوالو څخه اخيستله. تور دوی ته خپل کلی اوکور وښود اولـه دوی څخه يې وغوښتل چې دی هم په کار کې ورګډ کړي. يوتن چې (چارګل) نوميده ورته وويل:

- هرګوره چې زموږ خپل نږدې وطنداريې! که نه وای نوموږ خو په دغې ګټور کار کې پردې څوك نه راګډوو.

يوه بل ورته وويل:


esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

- تاکله‌دوبالو دپاکولو کار کړی‌دی؟

تور ورته وویل :

- هو!

(چارګل) ورته وویل:

- ددغه کار لپاره ګټه دا ده‌چې دوی به خپله‌نه‌خوري څه‌چې ګټي هغه‌به‌درباندې کیږي.

تور په خوندورغبرګه کړه :

- دوی کلیوال ورکړي څه ؟

- هو! موږ پخپله پرګړو- یعنې دمانبام په آذان چې له کارڅخه خلاص‌شو، نوموږ پخپله‌پر دغو کلیوګرځواو دوی‌تر ېنه تېرلوو. که دغسې ونه کړو- والله که‌سره ایکه له‌نس‌نه‌را پاته شي. یوازې موږ دغه کار نه کوو،بلکه زموږ وسناسې ټول منه وطندا ران دغسې کوي‌چې دبالو دپاکولو کارکوي .

د تورسرلږڅه کښېنه وڅرېد،خو (چارګل) پرزغ کړ:

- په‌سبالي‌موږهم‌نه‌پوهېږو،خو وچه‌مجبوري ده.که‌موږ‌په‌خپل‌وطن‌کې کار موندلای‌شوای‌او یاموږ‌مې‌شومه‌درلودای-نوموږ به ولې پر دغو خلکود دوی غوښتلو دپاره ګرځیدو؟اوڅه‌ته‌به‌مسودومره‌اوږده‌مزلونه په لوڅو پښو را وهلای؟.په‌وروره! تندی مه تریو کوه! خپله‌خواري کاږه اوشپه تیروه! چې دکور او کاله دپاره کالي او دځان دماسل‌دپاره غران مونده‌کړو.

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

ځنګه چې تورنیوکې ونوپه‌لومړ یو شپوکې یې زړه نه‌شو کولای چې د دوی غوښتلو دپاره پر خلکو وګرزي. دی په ژبه‌هم ښه نه پوهیږي ( چارګل) دغو نورواند یوا لانوته‌چې تول (۸) کسه کیږي-وویل چې دري ځلوروړځې تورمه درسره‌بیایا ست! البته وروسته لـه هغه دې دبل چا په ملـګرۍ شاوخوا ګلیږ نه د رومي.

دوی شاوخوا کلي تول سره ویشلي دي. یعني بې له‌دغوا توکسو نورهم ډېر مزدوران شته چې هغوی هم د دوی تولوي.مزدوران خو کلـه کلـه سره په جنګ هم شي - مثلاً: دیوه بهیر مزدوران سربیره په دې چې دخپل تا کلي کلي دوی تولـه کړي - دبل چا دکلي د دوی هم تولوي.کوم وخت چې دهغه کلي کورونه ووایي چې اوس دستي یې د دوی ورکړه-نودوی اصلي متجاوزمعلوم کړي‌اوخورا درووند جنګ جوړ شي ،کلـه نـاکلـه خولاسرونه یې هم مات شي.

ځوورځې وروسته تورد نورواندیـوالانـو په ملګرۍ د دوی غوښتلو دپاره په‌کورونوګرزي.ده ته دنورو ملګرولاړ شو دنه‌داوه چې که کوروالاهرځو مره‌منفي ځواب‌ورکړي، نوته‌به‌یې نه‌پرېږدي اوهرومرو به دودی یانګولی ترې نه‌غواړي!

یوه‌شپه‌تور اودده ملګري یوه کورته ورېدل اوزغ یې کړ چې: (خیرات دیسو) یعني (خیران راکړئ!) یوې ښځې له انګر ځخه ورته


PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

رازغ کړ: (هم چوري هی) یعني (موږ چوړیان یو) . د تورملګري ورته وویل: (هم هي چوري هی) یعني (موږ هم چوړيان یو).

کوم وخت چي د کورښځتن بې خوړا په تنګ کړ، نو هغه وروسته له څو دقیقو څخه ورته راغي او ددوی کاسه بې یووړه چي کوم نګولی ورته ورکړي. کاسه بې چي بیرته راوړه تورواخیستله او هغه خوړا دړنه ورته بنکاره شوه نو ډیر خوشاله شو. داچي په کاسه کي څه دي؟ دنیاري له امله نه څرګندیدل. خوتورپه نوروملګرو زیری غوندي وکړ چي هرڅه چي دي خوړا ډیر دي، خومخ په سړیدو دي ژربايد ولاړ شو چي لومړی ترېنځې سړيدو بې وخورو.

دوی ژر په تیاره کي دنورو ورڅخه پټ شان په ا تکل هغه ماجت ته ورغلل چي تل یکي اوسیدل. ماجت هم تیاره دی او صرف ماخستن دلمانځه په وخت کي یوه کوچنی ډیوه دمحراب ترڅنګه په یوه کوچني غارګوټي کي بلیږي چي دهغې رڼا خوړا ضعيفه وه. دوی دباندي یوه کوچني دیوال ته څېل څادرخپور کړاو په تیاره کي بې د دو دی توکان دکاسي له محتویاتو سره خوړل. دوی د دو دی خوړلو په وخت کي په خبر وسره بوخت وو. ددوی ټولي خبري په دي خصوص کي وي چي کوم کور څومره لوی یاووړ د دو دی توك ورکړ او دڅېل وطن اوکلي په شاوخوا کي ږغیږي .

نور په‌داسې حال کې چې دنبلو ملګر و یعني لنګري او ژیرګل
په خصوص خپله‌پر یښاني ښکاره کړه ـ وویل:

ـ والله وروښو ! ددې نګولي‌خو هیڅ خوند اومزه نشته، بوی یې
هم پرما ښه نه لګیږي. بل ملګري یې وویل: «زه یې هم په خوند نه
پوهیږم»، چارګل وویل: «تاسې لږ څه خاشي‌سره راتولې کړئ اولږ څه
اوربل کړئ اودغه وګورئ چې څه شی دي؟ کهسا بهوو نولږ څه یې
تاوده کړئ، لږ څه مالګه پر واچوئ چې بلمنګه‌را ته بریښي».

کوم وخت چې یې اور بل کړا و کاسه یې دا ور رښا ته کېږه
ونیوله، نو ویې لیدل چې دغوایې سوته پکې پرته ده. هغه‌وخت
په دوی کې څو زه خبره شوه. چارګل دغونورو ملګرو ته‌وویل:
ـ شل پلامې درته‌ویلي دي چې له کفارو څخه‌دو دی مه غواړئ!
مګر په تاسو داخبره‌څه‌تاثیر نه کوي او په‌دې یې نه‌ګرځئ. تل د هر کافر
اومسلمان کورته دریږئ!.

دده یوه‌بل ملګري وویل:
ـ دغه کوروا لازه پیژنم، کافر نه دی ـ په دغه نامه‌یې مه بوله چې
په ماخوذ به‌شې ! مسلمان ته کافر ویل ښه نه دي.
دوی‌دا خبره غوټه کړه چې بله پلابه هر دول نګولي چې له کورو
څخه‌یې راوړي داور رښاته ګوري اوبیا به یې په خوړلو پیل کوي.

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

تور په خپلو ملګرو پسې خورا خواشيني اوزره پې پسې ختلي و
اوتل به يې د هغوى دبنه ملګرتوب اوزړه سواندى خبري له دغو
نو وملګرو سره کولې. ده به کله ناکله په زړه کې ورنيره کړه چې بايد
دهغوى دمرندلو دپاره دورې را دورې وګرزي. خو چې خپلې ورځنى
مزدورى ته به يې وکتل چې دلاسه به يې ووزي، بيرته به يې خپل عزم
مات کړ. تور وملګرو به هم تل دا د ورکاوه چې دوى هم دده وطنداران
اوديوې سيمې دي او کوښښ به وکړي چې د ى تري نه خپه نه شي.

تورله نوي ژوندينې د ورځې کاراودشپې ګدابې سره خوى ونيو
اودا چې دهرې ورځې مزدورى تولـه ورپاتيږي ـ خورا خوشحاله د ى.
ده تـول (۴۵) ورځې کاروکړ چې دورځې يې بـوه نيمه کـلداره
ورکوله او ځکه چې دو دى يې مفتو نودا (اووه شپيته نيمې) کلـداري
تولې ورپاتې شوې. ده دجمعدارلـه پيشکي رويونه درې نيمې کلداري
سپمولې وې چې ټولې يـې (۷۱) کلـداري غونډي کړې. تور په دغه
ګته خوراخوشحالـه دى اوله ډيرې خوشحالـى ځخه يې بنې ښځکې
ته نه ورځي.

يوه ورځ تورلوانديو الانو دماخستن تر لمانځه وروسته سلا سره وکړه:
ځکه چې تو دوخه خورا ډيره شوه بايد کارپريږدي او دخپل وطن خواته
روان شي. دوى په دغه برخه کې له پنځوشپږو ورځو را ايسته څه دکار

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

په وخت اوڅه دبیکاری په وخت کې خوزي ، خوز ي خبري کولې
اوهر یوه له هغوڅخه خوند اخیست. دوی په یوه سلاله کاره راوونل
اوله کلیوالو سره يې خپل حساب فیصله کړاومخ په ښار را روانشول.
دوی داسره غوټه کړه چې خپل یومان (بیلونه) بههم وريچې په وطن کې
یا دغې ښه پراخ اوتیره یومان نه شي موندلای اوهم په دې خبره باندې
پهیوه زړه شول چې څوتیسونه به پرېښو وهي یا به نوبه اورګادي کې
سپریږي چې په دغه دول بیو څه پیسي وسپموي.
دمز دورانو دغه بهیر وروسته له یوولس شپو نه چې لس شپې یې په پښومزل
وکړ(کوټې)ته ورسید. دوی په دې خورا خوشحاله ووچې بیرته سرې
هوانه راغلل اوداسې ښارته ورسیدل چې هلته ټول خلک په پښتو خبرې کوي.
تورسمدلاسه په بازار کې په دې هیله روان شوچې که چیرې خپل
زاړه انډیوالان مونده کړي. دی هغه دا نېی ته ورغی چې به مني هلته
له لنګرې سره یو ځای اوسیده. بیا په مندوهغه دا بنې ته ورغی
چې هلته یې له جمعدا ر څخه پیشکي روپۍ اخیستې وې. په بازار
کې یې په هرپاسنې پسې څیرڅیر کتل چې اوس به کوم شناخته سری ووینې.
تهولـه کوټه دپاسیو څرمه ګانو اوخرکارانو څخه ډکه ده. هرلورې ته چې
ګورې څوڅوتنه کوم سبورې ته ناست اویا ولاړ دې اوخبرې سره کوي.
تورورروسته له یوې شپې یو څوکسه هغه څرمه ګان ولیدلچې په مني به

قافله کې ورسره وو. ده سمدلاسه دلنګري پوښتنه ځنې وکړه. يوه ورته
وويل چې هغه خو ناروغ دی او ديوې ونې تر سيوري لاندې پروت دی.
دتور دغوښتنې په اثر هغه سړې ونه وروښودله. تور چې دلنګري سنې ته
وکتل او دده دنګروالی يې وليد نا بيره يې کريږه کړه او پر لنګري
وغورېد. لنګري بو موټی شوی دی، مخ يې تر خيرو لاندې نه معلوميږي
خو راز ار وځيرې ځيرې کالي يې چې د ډير وخير و دلاسه تک تور ځرګنديږي
اغوستي دي او د سپږو رمې ورباندې ګرځي.

لنګري وروسته له څو دقيقو ځير ځير کتلو نه تور وپيژانده. ځکه چې
کريږه يې نه شوای کولای نو يې په خوراخاموشۍ ترستر ګو پر پراونګې
راتوې شوې.

دتور هغه ملګري چې د ونه يې ونه ورښودلې وه ـ وويل:
- دا خوار کی خوله خبرو لويدلی دی او نږدې ده چې ساه يې
وخيژي. زه به ورته کښينم، ته ورشه ملا راوله چې (ياسين شريف) پر
ووايي. زه داريږم چې يې ياسينه به تر د نيا تير شي.

تور غوښتل چې دی يوه دابش ته ورولي او هلته يې تودېږي باسي
خو هغه بل ملګري يې ورته وويل:

ـ د غه لنګري لو مړی پلا چې د وي ښېي د مخه راغی نو په ډير و
دا ښو نو با ندې وګرزيد، خو هيڅا ځای ورنکړ او هريوه به ورته
ويل چې (لويه تبه په پورې ده، نور خلک به لا ورسره غرق کړي). نو ته او س

دا سعیه مه کوه چې دی دانش ته بو ځي. په دانش کې ده ته څه جوړ بزي؟ خبره اوس ترد ې تېره ده چې دی ته دوساتي. فقط ته لاس و پښې و ښوروه چې دغه پښتون وروروېښي (پاسېنه) تېر نه شي او یو ګور او کفن یې برابر شي.

نور دده خبره و منله او سمد لاسه دیناره خواته راغی او دوری دوری یې کتل چې یو ملا مونده کړي. هر ماجت ته چې به ورغی او دابیان به یې ورته وکړ هغه به ویل: د پاسنیانو ګور و کفن ته والله که دچا پلار ور سیزي زه د قرآن شریف ختم لرم نو له تا سره تلای نه شم.

نور خوارا کښته پورته وزغاست. په پای کې یې یو طالب د ول سری مونده کړ او هغه نه یې اته اني یعنی نیمه کلداره ورو منله او له ځانه سره یې بوت.

دلګري خوار کي ځنکدن یې او ږد شوا و دري شپې نوري یې دوام وکړ. کوم وخت چې لنګري خوارکی مړ شو نو ځو نور ځړه ګان یې راوستل او دی یې ښخ کړ. دلنګري یوه دبرکې خوا زره سدری وه چې هغه یې وار وله راوار وله وبې لیدل چې داوزو په منځ کې دېنځو کلدار و یو نوټ ګنډل شوی و. په جیونو کې یې یې دلر ګي له یوې کرچنی زمنځي او یوه زړو کې نه نور څه نه وو.

نور په زړه کې په دغو پنځو کلدار و خوراخوشحاله شو او غوښتل یې چې دري کلداري له خپل جیب نه پر واچوي او کفن ور ته راوړي - خو یوه ګروپ ژن ځړه چې شناوی زبره یې درلوده - وویل:

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

- داخو مسافر مړشو. دده درجه دشهادت ده. کفن مفن نه غواړي په خپلو کالیو کې یې ښخ کړئ دا پنځه کلداري یې کورته ورورسوئ!.
تور دوې شپې گندلې گرزیده او هیڅ یې خوا ته نه کېندل ځکه چې دی په لنګړې خورا خواشینی و.

دوې شپې وروسته په څوه گانوکې جګ ځکه شوه چې درې ورځې وروسته قافله ورځي. تور هم خپلې خور (بتکی) او کاکا او د هغه ماینې ته پوښې واخیست.
ده شپته کلداري پر کالیو ماتې کړې او (۹) کلداري یې په افغانیو بدلې کړې چې (۵۴) افغانۍ شوې. ده خپل کالي لومړی په یوه زړه بوجۍ کې او بیا یې په بنۍ کې واچول او په یوه تورو ابنکي یې داسې او چت پیتی ترې نه جوړ کړ چې ده په خورا خوشحالۍ سره د خپلو اوږو په منځ کې کېښود
او دا یې په زړه کې تېره کړه چې دغه پیتی به تر کوره پورې چې (۹) زورورمزلونه کېږي او چته ورسوي. دقافلې درې کیږو ترورځې پورې تور خپل پیتی په هغه دکان کې کېښود چې سودا یې ورڅخه را نیولې وه.
په دغه وخت کې تور له خپلو زړو ملګرو نه یو نفر چې په منې په بهیر کې ورسره راغلی و ولید او نا ببره یې پر هغه غېږوگرزوله.
دغه سړی (جګګ) نومیده. دد کان دمخه څو دقیقې سره کېنیناستل او دمنې دوا ورو خوارۍ یې سره یادې کړې او په دې یې خوشحالــــې وکړه چې په هغه واوره کې مړه نه شول. تور ورته وویل:

ما خوشکر سړیو څه وګټل، خوراوا کا ته مي پوښ کړی دی اویوه
ښه د رنه‌غوندي پلنده مي تري نه جوړه کړي ده. زه که پلنده پهٔشا ورم
نو ښکاره‌ده چي خوری راځخه پاتیږي‌او که خوری ورم نو پلنده بیا نه‌شم‌ورای
ددي تیری به‌څرنګه‌را ونړي؟.

(جګ) ورته وویل:

- زما نه‌پلوانو پر خورالوی اوزوور خرر انیولی دی. هغوی غواړي چي
دغره ګانو پلندي پهٔلړه کړایه ورسره یوسي. نو که‌دي‌خوښه وي‌راځه‌چي
دواړه‌ورشو‌اوخبري ورسره وکړو! ګوندي‌ستاپلنده‌به‌لږ څه‌ارزانه‌یوسي.

هغوی دتوردا خبره ورسره ومنله اوورته یې وویل چي که وختي
ورسیدلو نود ري ورځي بـه د ملمي غنمو بوي راوهي! اوکه ناوخته
ورسیدلو نوهم به دجوارو یاپالیزه بوي راوهي!.

دتـور پـښي لـه ډیـري خوشحالي ځمکي ته نه ورځي اوځان
داسي ګڼي چي په نـری کـي بـي سارى نشته.

پـه دي وخت کـي (جګ) ورته وویل :

- توره وروره! سړبـه پهٔکـومه لاره‌با نـدي کـوروته دروسو؟
موږ اوتاسي باید په لویه اوزووره قافله کـي ولاړشو چي ډیر تویلك
ورسره‌وي چي بیا موغله ونه‌شکوي .

تورورته وویل :

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

ډېر لږ مې اوريدلي دي چې غلو دې ځره‌ګان په پسرلي کې ښکولي وي دا ځکه چې په پسرلي کې ټول پـوونده هم پاس وطن تـه درومي . نو زياتره غله پخپله په پوونده وکي وي- بيريږي چې غلاوکړي ، ځکه چې مخ په خپل وطن روان وي. په مني خوکوز وطن ته د رومي او بې پروا غلاوي کوي . بل علت يې داد ی چې په مني کـې پوونده دمني به سر کې کوز ملک ته شيوه کيږي . د مني بـه پـای کې کمزوري غدی چې لس شل تهريك لري پرپوونده و بريد کـولای نه شي . خوموږ ځره ګان په آسانی سره ښکوي. په مني د پوونده و لـه هرکلي څخه خوتنه مردارخواره را وګرزي او دمني تر پايه پورې ځره ګان او يا نور خلـك ښکوي . پـه پسرلي د ځره ګانو لوی دښمن (خرڅګير) وي. د غلو او خرڅګير په منځ کې دومره توپير دی چې غل دې دسره ډلو پروا هم نه کوي خو خرڅګير ښه وي يوازي د مال دښمن دي وي. هغه خپله خبره يې اوږ ده کړه :

- خدای مودې له د وارووساتي دا دغم خبري اوس پريږدئ پرمخ بـه يې بې ګوروا .

په دې وخت کـې د (جګك ) له خپلوا نو څخه يـوتن راغی او په خوشحالی يې وويل:

سبا وختي قافله وخي. دا قا فلـه به کو تې ته نژدې يو ځا ی مېشته شي ترڅو چې ټول موجوده ځره ګان را ووزي او قافلې ته ځانو نـه

esalat.org

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

ورسولای شي. خلك وايي چې دا به خورا درنه قافله وي. تور دې ځېله پلنده راوړي چې دځره په اندې کې بې ځای کړو. پڅپله دې که دوی شپې نورهم را نه شې پروانه لري.

تورنیم چارك ګوره هم رانیوله او هغه یې په پلنده کې ځای کړه دا ګوره به چې کورته ورشي دکلي کوچنیانو ته وویشي. تور ځپله پلنده وربه شا کړه او ویې ویل :

- زه په ځپله هم درسره ځم. زه به هم سبا د قافلې سره یو ځای وزم دا ځکه چې دلته مې خرڅې ډېرې دي. د سړي لاس او خوله د بازار له بنګلیو خوند ورو شیانو څخه نه دړیږي، بې ځایه پیسې راڅخه ترخیږي. پرون مې دیوې (راني) جلبې رانیولې. دا اته به مې تر ډېره هېره نه شي خوځه وکړو نفس ظالم دی.

ګهیځ وختي دځره ګا نو قافله په ډېره خوشحالی دکوټې دښار له یوې برخې څخه راووتله او پنځه میله لیرې بې دغره په دوه کې واړول. هر ځره خپل کور او خپل وطن ته هو سیږي. هر خوك په دې میله کې دې چې ژر ترژره د خپل کهول سره یو ځای شي. تور جګ ته وویل:

- له دې خوا قافله په بیړه او چټکی سره درومي. داسې نه وي لکه له هغې خوا. موږ چې له کور وڅخه را وزو، نو دهیچا زړه نه غواړي چې لوی او اوږده مزلونه دې وکړي - خوله دې پلوه خورا غښتلي بو

اوپه منډ ومزلونـه وهو. خدای مو دې له ظالمانو وساتي.

درې ورځې وروسته قافله وخوځیدله. هیڅا دوی ونه شمیرل، خو دتور داتکل لمخې دقافلې افراد پنځوسوکسو اوخره یې (۱۵۰) ته رسیږي. داقافله خورا لوی او اوږده مزلـونه وهي. دوی سهار وختي راکډه شول او ماښام ته نژدې یې واړول. هیڅوك په سترګا نه پوهیږي. پردوی باندې ځای په ځای دبیرلې بارانونه وریږي، خو هغه دوی لـه مزلـه اویـا دعادې ژوند څخه نشي منع کولای.

تورجې به هرهغه ځای ته راغی چې بهمني کې یې مینه پرې کـړې وه خپل ټول اندیوالان به یې بیره لنګري به ور به زره شول او به سترګو کې به یې اوښکې ورورګرزیدلې. به تیره یا د (توبې) دغه هغه ځای ته چې راغلل چې هلته واورو لاندې کړې وو او لنګري دده به کوسي کـې پروت و. نابیره یې لوبه کړیږه وکړه خوبه دې چې له مرګ څخه ژغورل شوی و. بیرته به یې زړه په کرارشو.

د څره ګانو دغـه قافلـه بـه شپږمه ورځ دکـوزملك تـهـك تـه رانژدې شوه. ماښام پرغوندیو باندې لوی اوروونه بل شول او دقافلې ژغبدونـکي اوبه خبره پوه خلـك سره راغوند شول. ژرنور څره ګان هم ورته راغلل او بوه لوبه جرګـه جوړه شوه. یوه سپین ږیري وویل:
- اوس موژ تهك ته نژدې یو. تاسو ټولو ته به څرګنده وي چې پرتهك او دهغه

پر هغې خوا خورا ډېر خرخګيرانشته، نو دا په دې چې اوس نو قافله سره شو په شوشي او هر څوك او هر بهير دې پر خپله لاره د رومي. بو ځای به نه ځي چې بيا به تول پر بو ځای د خرخګيرانو په لاس ورشي. نو ما شام چې دو دې پخې کړئ باید په شپه کې بې لاره ونيرشئ! موږ وتاسي نواوس باید دشپې بې لارومزل وکړو اودورځې پهيوه شيله کې وارووو اوپټ اوسو.

بو. بل ګرو يزن غوندې سرې و ويل:

- مربيره په دې چې برتپک بانديې د خرخګيرانو خطر دی ـ د تکټ ترشا هم ترڅو چې کوروته رسېږو د غو بلاو خوله وازه ده . خدای مودې ددوی له ظلم نه وژغوري. بې له شپې نه دورځې به مزلونه نه کوئ!

خړه ګان د خرخګيرانو له ځا يونه (۱۵) ميله لېرې په بې لارو ځايو کې تيرشول. ځينې بې تجربې خړه ګان په دې خورا خوشحاله شول چې دوی پرتپك ونه نيول شول. خرددغو نورو خړه ګانو زړه په دې هيڅ نه نه شوا ويه دې فکر کې وو چې په څه تو ګه خپلو کوروته چې درې څلور مزلونه لېرې وو ـ په سلامتي ورسېږي .

ترتپك چې را واوښتل د تور زړه ورپورته شو اودخپل بهير خلکو ته يې وويل:

- اوس دلوی خطر له تکي څخه را تيرشوئ او باید (غرې) وکړئ چې د نوروځايو څخه هم په خير تير شي!

esalat.org

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

يوه بل تجربه والاخره ورته وويل:

ترهغو چې به خپل كورنه يونه وتلي په هيڅ توګه خطر لري كيداى نه شي. كوم وخت چې كورته ورسيږي ـ هلته نوغري كوي كه خيراتونه-وا ك دي خپل دى ، اوس موږ دخطر په مينځ كي يو!.

سهار لاسپيدې نه وي چاودلي چې قافلې په شيلوكي واړول.

هغو څره ګانو چې كورونه يې نږدې دي دا فيصله وكړه چې دمابنام په تياره كې به كورو ته درومي .

څره ګانو دبيړې شپې په جرګه كې فيصله كړې وه چې بهيرونه بايد خورا ليرې، ليرې سره واړوي او كه چيرې خرڅګير پروخوت نونورباېد په شيلوكې ونبتې-خرڅګير چې هربهيروليېي نوربهيرونه دې نه ورځېي.

اومه غرمه وه اوټول څره ګان ويده وو چې ارو دورجـور شو داسانو شيشني او د ماسلا نو ښکنځل واوريدل شول . په لږه موده كې خوراڅوږه جـوره شوه. خـرڅګيراوماسلا نوصرف دوه بهيرونه سره را ګرزولي دي. دغه نور بهيرونه په يوه پلاراباړشول ـ چادوري منډي وهلي اوچادورې. د ماسلانوسره تش ټوپك دي ـ يعني كارتوس نه لري.

دوى دغه تش ټوپك پر هغو څره ګانو برابر كړل چې منډي وهي اوپه نارو يې كړه چې «ودريږه! كه نه وي وبه دې ولم!» زياتروڅره ګانو خپلې خپلې پلنډې شانه واچولې او په شيلو كې شو په شو شول.

esalat.org
www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

خرڅگير له هغو دوو بهير وڅخه (۱۴) تانه او څه خوازه او ترخه او يو څو جوزې موچنې ونيولي. پخپله ښره گان يعني د دغو کاليو خښتنان مخامخ ونښيدل. خرڅگير په همدغو کاليو اکتفا وکړه او دخپل مرکز خواته لاړه.

هغو ښره گانو ته چې د خرڅگير له خوا شکول شوي وو نورو ټولو ښره گانو د زړه داد ورکاوه. يوه پوه او زړه سواندي ښره ورته وويل:

- پروا نه لري، دنيا خو دهندوز يره ده، د رب فضل در باندې وشو چې تاسې به گوتو نه ورغلاست! که نه وای اوس به تاسې هم بنديان واست. له دې کبله چې موږ ښره گان هم داسې کسان بلل کيږو چې گريزي وړي نو اصول خودادې چې دغسې کسانو ته سر بيره پر دې چې مال يې ضبط شي- دوی هم بنديانيږي. نو تاسې بايد خيرات وکړئ چې بنديان شوي نه ياست! بلا نو ره په مال پسې!.

ښره گانو ته دا څرگنده شوه چې له قافلې څخه دوو کسو ښره گانو خرڅگيرته حال او خبر ورکړی و. دغه دواړه ښره گان په منه مال کې شريک دي چې خرڅگير انو ولجه کړي و. خو دوی ته خوراخواره برخه ورکوي. هر چا دغسې کسانو ته چې له خپلو ملگرو او د خپلې دلې له خلکو سره يې پره کړې وه- لعنت وايه.

تور چې په لوړی پلا کې اروډوز ولېد نو سمدلاسه يې خبله بنی چې يو څه کالي بکې و وشانه راچوله او په وچه منده په شيلو کې د خرڅگيرا نو له سترگو

ځخه نهام شو. دوی خورا خوشحاله دي چې دلوېري خطر نه خوخلاص شول، خو زړه يې په تاکتال کې دی چې بيابه يې ونيسي.

تورته اوس له ځوري نه لږ اوره ورپاتې شوي دي. ده له د غو او ږونه کاکونه پاخه کړل. ده فکر وکړ چې دغه کاکونه يې دوې بشپړې شپې بس دي بوه بل ځره چې هغه هم په بنۍ کې بوخه کالي په شا کړي وو اودتور دکلي په ځنګ کې يې کورو - ورېل:

- موږ زياتې بهير وته اړنه يو - دا ورشو موخپله غوندي ده - موږ بايد خپله لاره وو هو. د شپې به مزل کووا ود ورځې به په يوه شيله کې اړوو. له بهير او قافلې ځخه زموږه جلا والي ځکه ښه دی چې د چا سترګې به نه را اوړي د دوږپښو خلک يو. بوه شپه به لارې بله به کور وته ورسو.

دوی دواړو ورځ په يوه شيله کې تېره کړه او ځرنګه چې تياره شوه سمدلاسه يې په تللو پيل وکړ. د شپې د ولس بجې دي چې دواړه نابېره پر بوه لوی کلي راغلل. دوی دکلي به اړخ تېريدل چې نابېره زغ ورباندي وشو:

- «ځوك باست؟ ودريږئ! كه نه وي ومو ويشتلاست!»

توراوملګری يې چې (خالق) نوميده دواړه هېښ ودريدل. ددوی ستوني له ډيره داره پر له کښيښتل او زغ يې تر خولې نه خوت.

دوه کسان چې ځرې دريشۍ يې کړي دي ورته رانژدې شول. بوه زغ وکړ:

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

ــ ځړه‌ګان یاست ؟ خدای مو خوار کړه ! دباجهی غم نه ورکوي او غواړي چې غور او سلامت کور و ته ولاړ شئ ! په دې نه یاست خبر چې (غم) نه پریکول څومره ضررونه لري !.

د دوارو ماسلا نو په لاسونو کې توپک وو. د دوی له اوږو څخه بې بنې را خلاصې کړې . یوه ماسل تور ته وویل :

ــ تور شپه ده ، ښه نه سره وینو خو له اظهار ه مو داسې راته ښکاریږي چې ښه زلمیان یاست ! که مو د ځړه ګانو نوره قافله راوښو دله نو ستاسې بنې به بیرته درکړو او هم به یو څه شی نور هم درپورې ونیسو . موږ خو ددین او دولت خدمتګاران یو . تاسې ته به خدای په دې عمل نور ثوابونه او برکتونه هم درکړي .

تور ورته وویل : موږ له ځېل بهیر او قافلې څخه پرون غرمه کوم وخت چې خرڅګیر حمله وکړه را جلا شو ـ یا موځوک لیدلي نه دي. که خدای تاسې مهربانه کړي ، پر موږ خوار و ځړه ګانو رحم وکړئ او پرې مو ږدئ ! څلور میاشتې مو له دبرونو کان وهلي دي او څو ګزه رخت مو کړو ته کړی دی . دا راپرېږدئ چې یو بې سو . دعا به درته کوو. خدای به مو په هغه جهان کې جنتونه ځای کړي.

یوه ماسل تور شړك په ځپیره وواهه او هغه یل په لغته پر لښګو وواهه او دښکنځلو او پوچ ورد په ضمن کې بې ورته وویل :

ـتاسو خو یآغبان یاست ! حکم نه منئ ! که موشرعي غم ورکړای وای نو اوس به ولي په دغو خوار بو اخته کیداست ! درځئ چي لوی خرڅګیرته مو په لاس ورکړو ! په تاسي باندي خو دبند حکم هم راخیژي ـ نو دا ناروا ده چي تاسي بي کوئ. په اصل کي ناروا خلک یاست چي په دي لومه اخته شواست !.

کوم وخت چي تور او ملګري بي دبند دحکم تکی واوریدغري بي لا بیجب وتبتیدل او دخپلو پټو مال بي هیرشو. اوس دوی ته یوه هیله ده ـ هغه دا چي پرخپله لاربي پر یږدي ـ یعني نر بني او کالیو تیردي خو دوی دي خوشي کړي.

تور او ملګري بي دماسلانو تر لاس او پټو شول او خورا ډیري زاری بي ورته وکړي چي تر کالیو دوی تیردي خو اوس دي ایله کړي. ماسلانو په خپل منځ کي سره وویل چي «نه دي پري به یي زدو... دیوه ځره مال یي ستا، دادبل دا یي زما» ددي وینا په ختمید و یوه ماسل پر تور لاس کښېښود او بل دهغه په ملګري. بیا ماسلانو دوی ته وویل چي هر یو دي خپله خپله بني بیرته واخلي او هر یو دي خپله بني هغه ماسل ته ورکړي چي لاس بي باندي ایښی دی ـ چي په دي ترتیب ددو مسلمانانو په منځ کي د مال پر ویشلو کومه ناوړه پیښه ونه شي. په هغه ګړي دغو دوار و ځره ګانو د مال بایللو غم په دي سبب هیر کړ چي دوی بي خوشي کړل او بندیان نه شول.

دوی دسهار پر دري نیمو بجو یوه بل کلي ته راغلل، به لاره باندي دوار و یو خبره هم سره ونه کړه، له غم او خواشیني څخه یي ستوني پر له ناست دي.

دوی دواړه دماجت په یوه‌حجره کې پرمخې پریوتل. په‌څلور نیموبجو یوطالب ورته راغی اوغوښتل یې چې دوی دواړه دلمانځه دپاره راکښېنوي ـ خوخرنګه چې دوی تولـه‌شپه وهلي وه اوستړي اوخواشیني وو ـ ژرنه‌کښېناستل.بیانورطالبان ورته‌راغلل اوپرهریوه یې یویونګـی سرې اوبه چپه کړې. په دې وخت کې یوه طالب وویل:

ـ خدای‌دې‌ناسې دنیا پرسته خوارکړي! دخدای‌عبادت‌موهیردی! پورته شئ! په‌هغه جهان‌به‌دخدای‌څواب څه‌وایاست؟نه‌مودي‌اوریدلي چې وایي: (روزمحشرکه جانګداز بود + اولین پرسش ازنماز بود)

وروسته لـه هغه چې لمونځونـه یې وکـړل دوی دخپل کلـي په لورراوهې شول. پرلارې‌باندې ملګرې له نورخخه پوښتنه وکړه:

ـ خرځګیر یوازې موزخره‌ګان شکوي اوکه پوونده‌هم‌شکوي؟.

دنورستونی لاتر اوسه‌پورې پرله ناست‌دی. وروسته له‌یوې دقیقې چې نارې یې تېرې کړې اوغاړې یې تازه کړې ـ ورته وویل:

ـ هرڅوك‌شکوي‌خوپوونده‌له‌خرڅګیراتوسره(بست)نړي: مثلاً دیوه کلي‌به‌سرباندې‌دوه‌لـکه افغانـۍ‌دمحصول په‌نامه ورکوي.خرځګیر هغه‌کلـي ته دګمرك (چاپ)ورکړي. پوونده پـخپلـه دلرګـي کاسې له‌نیل څخه‌ورته دکې کړي‌اوپرخپلومالونو باندې(چاپ) لګوي.

هغه بیا ورته وویل:


PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

– نوموږ ځره ګان ولې له پوونده و سره نه را ځو ؟ چې موږ هم خپل مالونه داغ کړو !

ده ورته وویل :

- زموږ داخو مال نه بلل کیږي - داخو دکور دپاره کوم کمیس او پرتوګ دی او بل داچې پوونده ناوخته راځي او موږ وختي بیرته راځیږو. ورك به یې کړه وروره ! ترزره موو بنې ځاځي - هرڅوك دځره ګا نو او اوبو، خلکو د ښمنان دي

تهکنده غرمه وه چې تور نابیره په خپل انګړ په دوه لاسه راکښیووت. بشکې یو څه ناروغه وه توررا کښینوله. داسمدلاسه په غاړه کې ورولویدله او له ډیرې خوشحالۍ یې چیغې کړې.

داکامایینه یې هم راغله او بیا یې اکاراغي. بې لږه موده کې ټول کلی خبر شو. هرچا دخپلو، خپلوانو حال ځنې پوښته، خو چې به دې بهخبر شول چې خرځیګر شکولی دی - هرچا به ورسره همدردي کوله . اکا او ښکۍ به دې خورا خواشیني شول چې تور یې شکولی دی خو چې دې ته به یې پام شو چې بندي شوی نه دی - نو خوشحاله به شول.

وروسته له څه مودې دکلي نور ځره ګان هم راغلل. به ځنو یې کې هم ځینې شکول شوي وو او ځینې روغ رمټ راغلل. هغه ځره ګان چې شکول شوي نه وو ماجت ته به یې غږي او ګوره دخیرات په توګه راوړل .

پ.ا.ی

## دځينو کلمو او ترکيبونو خواته مو پام اړوو:

| لغت | معنا | مخ |
|---|---|---|
| ابنوه ـ | گبنی ، ارنبی ؛ تپاك ، اش | ۵۳ |
| اللي وهل (له سرو څخه) ـ | ريږيدل ( له سرو څخه ) | ۵٦ |
| او پړه ـ | بې جايداده ، نيستمن | ۸، ۹٤، ۹۵، ۰۰۰۰ |
| او ډل ـ | ترتيبول ، تنظيمول | ۴۰ |
| ايداد ـ | احداد ، اجزاء ، سزا | ۱۱۳ |
| ابرگی شومگی ـ | دتوږوخي او خوراك تونبه | ۵ |
| بتې بيد يا ـ | وچ ډاگ ، سرڅوونکی دښت | ۸۲ـ ۸۴ |
| برڅه ـ | څاړو ، څوړ ، دټس پوړه ، پيشناف | ۲۸ |
| برساتي کيدل ـ | اوږد سفر کول ، په سفر کې کلونه تيرول | ۱۰ـ۱۰۳ |
| بگڼ کيدل (غوږ) ـ | لك څك کيدل (غوږ) | ٦۲ |
| بوښتني ـ | بند ، په ختـه کې نبښتي | ۱۱ |
| بيره ـ | د کارتولگی ، د کاريونت | ۱۰۲ـ۱۱۱ـ۱۱٤۰۰۰ |
| پارو ـ | رپيده ، رشبيل ، ربده | ۹٦ |
| پتيا کيدانه ـ | بتوه ، جيبي بکس | ۱۰۴ |
| پرکی ـ | زمي ، تمن ، داشخار بوتي | ۵۴ |

esalat.org

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

| لغت | معنا | مخ |
|---|---|---|
| پلنده | بند، دشاییتی | ۱۲۹_۱۳۱_۱۳۴ |
| پوتی | وړه غونډی، دخاورولو به ډیری | ۵۵ |
| پوره | داډه ، مطمئن (پوره زړه=داډه زړه) | ۱۵_۳۲_۹۸_۰۰۰ |
| پونگی | دبنجارگی سامان | ۱۰_۳۷_۳۸ |
| په گرگانبو خوړل | په غرنجهار خوړل | ۲۱ |
| پیلغو | پروبني، برغو، بدل (دخارويو او نورو پهباب) | ۴_۸_۱۰_۰۰۰ |
| ترت | تیغ ، سم ، بې له پلمي | ۱۰۳ |
| ترله | پریکړی ، لېز جدا | ۲۳ |
| ترښی | پربو ده گانو تکس | ۹۲ |
| تروبنل | توزل ، تبتول ، تروړل | ۴۷_۱۱۲ |
| تنکي کول (راوړه) | لمدول ، اغږل | ۹۷ |
| تیری ترل | چاره کول ، ترتیبات نیول | ۹_۱۲۹ |
| توزنه هیله | بې ځایه هیله ، پوچ امید | ۵۰ |
| تاکتال | تکني ، اندیښمن | ۱۳۶ |
| تپالي (تپال) | هغه مزدور چې بارخره دتښولو او تښ دکولو لپاره زغلوي | ۱۰۴_۱۱۴_۱۱۵_۰۰۰ |
| تول | تولي ، دله | ۳۵ |
| جلا | ونده ، برخه | ۳۵_۵۱ |

esalat.org
www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

| لغت | معنا | مخ |
| --- | --- | --- |
| جوت | جفت ، جوړه | ۴٦ |
| چارلندی | ښندي ، ملندي | ۹۴ |
| چوړلی | شپیلك ـ شپیلی | ٦۲ |
| جبتی مهر کیدل | دمطلب پوره کیدل، مقصدته رسیدل | ۹۹ |
| څرك | جاسوس ـ څری | ٦۹ـ۷۴ـ۷۵ |
| څړه | جره، مجرد ـ یوازې، بې کدې، هغه کارگر چې دکار آله نه لري... | |
| څري دري | څاري واري، څـواره واره پاتې شوني | ۲۳ |
| خپور کښل | خپر بدل ، ځنګ په ځنګ خپر بدل | ۵۸ |
| خوچکی | دغوبې تونه ، وره بوتی | ۷۷ |
| خورگی | ربنجه ، دتو کر زره لته | ۸۸ـ۹۰ |
| خوره ( دتعویذ ) | شکرانه | ۴۷ |
| خوله پریکول | خبره فیصله کول ـ استدلال | ۱۱۷ |
| دخولې دېرې کړې سر ی | په خبره پوه سړی | ۵۷ـ٦۰ |
| خوهل | کیندل | ۷۸ |
| ډنده مار | کوتك مار | ۱۴۱ـ۱۱۸ |
| دوله | کنده ، شبله | ۷۴ |
| زرگه | پرغنه ، څره ، بلنځه ، اغزنه ونه | ۲٦ـ۵۳ـ۸۰ |
| سا اچول | دمه کول ، هوسا کیدل | ۵ـ۱۴ |

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

| لغت | معنا | مخ |
|---|---|---|
| ساله ناوده څایه ختل | منه حالت لرل | ۳۷ |
| سپین وبره | سپین بخن | ۸۵ |
| سرونځه | سروځنه ، بده ، دېرناګه بده | ۷۰-۶۵ |
| سبیسن | تیښ ببر ، وني یا وینبته لرونکی | ۸۱ |
| سکاروی | بربني ، ذات‌الریه ، سینه بغل | ۹۱-۹۰ |
| سولک سولک کول | سونګیدل ، په نري زغ ژړل | ۷۳-۲۱ |
| سوګله | چلروق، لماومي خرمني په‌بدوي توګه یودول پای‌پوش دی | ۱۲-۳-۲ |
| سووان کول | اسانول-تسهیل | ۳۶ |
| سیلاو | دسرو خپه، بخه‌سبلی | ۸۵-۵۶-۴۰ |
| شامي | قبر ، مزار | ۹۰-۸۳-۷۳ |
| شناوی زیره | ګده و ده زیره، شنه زیره | ۱۲۷-۴۵-۴۲ |
| شوپه‌شو | ترغي په ترغي، تار په تار، تیت‌اوپرک | ...۱۳۳-۹۹-۲۹ |
| غابن په غابن اینبودل | خوله پته نیول | ۱۱۶ |
| غبرګه | لبه، د دواړو لاسو لپه | ۷۰ |
| غر وابنه | بروښه(وابنه) | ۶۴-۳۹ |
| غرند | د( سست) په معنا | ۹۵-۲۲-۱۵ |
| غری | غوره دودی ، ویشلي | ۱۴۰-۱۳۴-۱۳۳ |
| غوزی | دبوتبو (لکه دترخو) ګیدی | ۳۹-۱۳-۱۱ |


esalat.org

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

| لغت | معنا | مخ |
| --- | --- | --- |
| کبې- | پنبه ، موچینه | ۲۲ |
| کدی- | کنده ، قبر دوله‌حفره | ۷۸ |
| کرول | (په اور) تودول ، په اوراړول را اړول | ۳۱-۴ |
| کوسی- | له کراستې خخه‌لستونې لرونکی چپن وزمه پوښ | ۱۲-۱۳-۱۵-... |
| کوکی- | پتنګ ، اورپښتی | ۷۰ |
| کوله بوله- | کره اووینا ، اصطلاحاً چاره ، وسیله | ۱۲۸-۹ |
| ګروړن - | متجسس ، کنجکاو | ۱۳۳-۱۲۷ |
| ګز - | (۴۰ ، ۵۰) کلن ، پوخ شخص ، میانساله | ۵۱-۸ |
| ګندلی - | نیولی ، خپه ، اندیښمن | ۱۲۸ |
| ګونی- | بوجی ، بوری | ۱۹-۱۷ |
| ګیلیدل - | رغړیدل ، کنده کیدل | ٦٤ |
| لمر خربکی- | پیتاوی | ۱۰۸ |
| لمونځ غاړی - | لمونځ کوونکی ، مصلی | ۷٤-۳٦ |
| ماسل- | تحصیلوونکی ، سپاهي | ۱۲۰-۱۳٤-۱۳۷... |
| ماغوت - | ورین دبل توکردی | ٤٦ |
| مانده - | الګده ، خوړ | ۸۲ |
| متي - | ایله بیله ، فقط | ۸۲-۸۰ |
| مجخ - | فصل وهونکی ملخ ، دتحطی ملخ | ۹۹ |

esalat.org

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

| لغت | معنا | مخ |
|---|---|---|
| مخې (په مخې واده) | - بدل | ١٠ |
| مندو | - څپره، کوډله، خونه | ٨٧ |
| موت | - موتی | ٧٩ |
| مول وهل | - نمبوزك وهل، دېګرې په شمله خوله پټول | ٦٥ |
| وابن وغوزی سره کښل | - بېخي وارختاکول، او ترول | ٧٩ |
| وام | - وهم، ډار | ٧ |
| وایی | - دوایی، دویلو ور، دکار ور | ٢٤-٦٥-٦٨ |
| وتري | - لوښي موښي، وړوکی سامان | ٧٨ |
| وررول | - په زور شوکول، په قوت جلاکول | ٧٤ |
| وشمه (ملاوشمه) | - وزمه، دوله، غوندي | ٢٩-٧٣ |
| ویره ولمه | - ویره المه، دپسرلي پیل - دموا تیداو وخت | ١١٠-١١١ |

یادونه: دکتاب له لوستلو دمخه لطفاً دغه غلطۍ سمې کړئ:

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ١١ | ٣ | پوښتنې | پوښتنې (زړه پر پوښتنې کول = ارامول) |
| ٢١ | ١٧ | په ګرګانېو | په ګرګانېو، ګرګانېو (= کنډوکی، کنډوکی) |
| ٦٢ | ٨ | بګث | بګ |
| ١٣٢ | ٢ | تاکتیال | تکهار |

لغت نامه لومړی مخ (٨) کرښه (تودوخه) زیاتت دی

esalat.org

www.esalat.org
PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

by

**nur muhammad tarakay**

*The Academy of Sciences of Afghanistan*

**1978**

www.esalat.org

PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com